

EPD | EQUALITY for Peace and Democracy

# په افغانستان کې لوړو زده کړو ته د
# ښځو لاس رسي:
# د اوسني حالت درک

د جولای 17، 2011

# د مطالبو فهرست


منن لیک/سرلیکنه ........................................................................ د
اجرائیوی لنډیز ........................................................................ ه

**لومړی څپرکی: د ارزونی پیژندنه ........................................ ۱**

**دوهم څپرکی: میتودولوژي ........................................ ۲**

د ځایونو غوره کول/انتخابول ........................................ ۲
وسایل او بیلګه اخیستنه ........................................ ۴
ګروپی خبرې اترې ........................................ ۴
مهمي معلوماتی مرکې ........................................ ۶
محدودیتونه او ملاحظې ........................................ ۶

**دریم څپر کی: په افغانستان کی د لوړو زده کړو لټون ........................................ ۸**

لوړو زده کړو ته د ښځو د لاس رسي تاریخ ........................................ ۸
په افغانستان کې د لوړو زده کړو اوسني حالت ........................................ ۱۲
د لوړو زده کړو پالیسیګانی ........................................ ۱۵
د لوړو زده کړو ملي ستراتیژیکی پلان ........................................ ۱۵
د افغانستان د ښځو لپاره ملي کاری پلان ........................................ ۱۶
عمل او فعالیتونه ........................................ ۱۷
د پوهنتون د جنسیت/جندر پالیسیګانی ........................................ ۱۸
د لوړو زده کړو پرمختیایي پروګرامونه: اوسنی حالت او راتلونکی ........................................ ۱۹
سکالرشیپونه/بورسونه ........................................ ۲۱

**څلورم څپرکی: د ارزونی موندنی ........................................ ۲۳**

د وګړو تر منځ د لوړو زده کړو منل او ملاتړ ........................................ ۲۳
د هغو ښځینه محصلینو د ګټو درک کول چې لوړې زده کړې کوي ........................................ ۲۴
د هغو ښځو د خنډونو پیژندل چې په افغانستان کې لوړې زده کړې کوي ........................................ ۲۵
امنیت ........................................ ۲۶
اقتصاد ........................................ ۲۶
د کانکور ازموینه ........................................ ۲۸
مخکنی زده کړې ........................................ ۳۱
د ټیټي زده کړې کیفیت ........................................ ۳۲
کلتوري مسئلې ........................................ ۳۲
ترانسپورت ........................................ ۳۴
د ښځینه استادانو نشتوالی ........................................ ۳۵
نور اضافي خنډونه ........................................ ۳۷

**پنځم څپرکی: سپارښتنې ........................................................................ ۳۹**

معلوماتي کمپاين........................................................................ ۳۷
امنيت ........................................................................ ۴۱
د ازمويني د چمتوالي کورسونه........................................................................ ۴۱
هڅوونکي او ملاتړي پروګرامونه........................................................................ ۴۲
د پوهنتون په سيستم کي بدلنونه........................................................................ ۴۳
د عمومي ښووني په سيستم کي بدلنونه........................................................................ ۴۴
همغږي........................................................................ ۴۴

**پايلې ........................................................................ ۴۶**

د کتابونو او د نسخو تاريخ او نيته ........................................................................ ۴۶

## د عمومي رئیسی پیغام

*د هر هیواد تهداو د هغه د ځوانانو تعلیم او زده کړی دی*

په تیره پیړی کی ټولنه له ډیرو په سترګو شویو بدلونونو سره مخامخ شوی ده، په دی معنی چی اوس بنځینه رئیس جمهوری ، پیلوټانی او کیهان نوردانی شتون لری. له نیکه مرغه نن سبا نجونی هر کار چی و غواړی، کولای شی چی تر سره یی کړی. سره له دی هم د ښځو زده کړی په افغانستان کی له ډیرو ستونزو سره مخامخ دی، خو له ۲۰۰۱ کال را هیسی ډیری ښکاره لاسته راوړنی لیدل کیږی. د طالبانو د حکومت د نسکوریدو وروسته زده کړه او تعلیم یو د ډیرو مهمو لومړیتوبو څخه د افغانستان د حکومت اود دونرانو د پاره و ګرځید چی اساسی هدف یی د ماشومانودی ښوونځیو ته د بیرته تګ و په داسی حال کی چی لوړی زده کړی چی د هیواد د پرمختګ د پاره ډیری مهمی دی عینی همکاری او لازمی توجه یی د دونرانو او د افغانستان د حکومت له خوا لاس ته نه ده راوړی. په دودیز ډول کورنی د خپلو نجونو په لومړنیو زده کړو کی په خپله مرسته او ملاتړ کوی، خو د دی په څنګ کی په منځنیو دورو کی د نجونو ایستل له ښوونځی څخه پیل کیږی او ډیر لږ شمیر نجونی کولای شی چی خپلو لوړو زده کړو ته دوام ورکړی.

زه ډیره خو شحاله یم، هغه څیړنه چی د نجونو لاس رسی او لوړو زده کړوته په افغانستان کی، په هکله تر سره شوی ده، ستاسو سره شریکوم. دغه څیړنه د هیواد په اوو ولایتونو کی د ۲۲۰ انفرادی کسانو چی محصلینو، غیر محصلینو، د دواړو میندی پلرونه، د پوهنتون استاذو، د اداری کارکوونکی، د وزارت کارکوونکی او هغوی چی د لوړو زده کړو سره سروکار لری، تر سره شوی ده. د دی لپاره چی یو پراخ نظر او ژور تحلیل د اصلی ستونزوپه باره کی و لرو، په بازارونو او سړکونو کی هم یو شمیر مرکی تر سره شوی دی.

د دی څیړنی راپور نه یوازی هغه مهم او ستر خنډونه بیانوی چی ښځی د لوړو زده کړو د حا صل لولو په وخت کی ور سره مخامخ دی بلکه په راتلونکی کی د پر مختګ د پاره لازمی سپارښتنی هم په ګوته کوی. د سولی او دموکراسی د پاره د برابری موسسه به یو ځای د دولتی اړوندو مقاماتو او شریکباڼو سره کار و کړی تر څو چی د په ګوته شویو سپارښتنو د پلی کیدو د پاره یو مشترک کاری پلان طرحه او ترتیب کړی.

په پای کی غواړم چی د لوړو زده کړو د وزارت، د پوهنی د وزارت او د ښځو د چارو د وزارت څخه مننه و کړم چی ددی څیړنی په وخت کی یی زموږسره همکاری کړی ده، او همدارنګه غواړم چی د ثریا مشعل مشورتی شرکت څخه هم مننه و کړم چی د څیړنی په وخت کی یی تخنیکی همکاری زموږ سره کړی ده

نرګس نهان

عمومي رئیسه

د سولی او دموکراسی د پاره برابری مؤسسه

## اجرائیوی لنډیز

افغاني پوهنتونونه اوس مهال د نارینه او ښځینه کاندیدان په مخ پرانیستي دي. په ۲۰۰۹- ۲۰۱۰ ښوونیز کال کې د لوړو زده کړو په موسسو کې شامل محصلین په سلو کې ۹.۹ سلنه ښځینه محصلیني وې. که څه هم د طالبانو د رژیم په پرتله په پوهنتونونو کې دغه شمیر یو ستر پرمختګ ګڼل کیږي، چیرې چې ښځې په قانوني ډول له لوړو زده کړو څخه محرومې وې، سره له دې هم، که چیرې وغواړو چې په افغانستان کې د لوړو زده کړو په ساحه کې د ښځو لپاره برابري او مساوات راولو، لا تر اوسه هم د ښځو او نارینه وو ترمنځ ښکاره توپیر او نا انډولي شته چې باید ومنل شي.

په افغانستان کې د ښځو لپاره لوړو زده کړو ته د لاس رسي کېسه ډیره په زړه پورې ده. ځیني حکومتونه په عموم ډول د ښځو تعلیم تقویه کوي او ځیني نور یی غیر قانوني شمیرې ځکه چې د ښځې/ښځو او نارینه/نارینوو د ټولنیزو نقشونو په اړه محافظه کاره نظریات لري. نن ورځ حکومت د دې ژمنه کړې ده چې د ښځو لپاره د تعلیم برابر فرصتونه میسر کړي چې له لومړنیو ښوونځیو څخه نیولی بیا تر لوړو زده کړو پورې رسیږي.

له بده مرغه، لکه څنګه چې د پورتنی کمې سلنې څخه څرګندیږي، ښځې لا اوس هم د تعلیم د لوړو درجو د حاصلولو په لار کې له لویو خنډونو سره مخامخ او وروسته پاتې دي. دغې څیړنې هڅه کړې ده چې له ښوونکو، زده کوونکو، د پوهنتونونو له رئیسانو، کارمندانو، میندو، پلرونو او د لوړو زده کړو د برخه والو څخه دغه خنډونه په ګوته کړي. په بازارونو کې مرکې شوې دي چې د محلي خلکو احساسات او انګیرنې د ښځو د لوړو زده کړو په اړه په محلي بازارونو کې چې پوهنتونونه، هلته فعال دي راڅرګند کړي. څیړنه د افغانستان په اوو بیلا بیلو ولایتونو کې ترسره شوې ده، چې په جغرافیایي لحاظ مناسبه ساحه تر پوښښ لاندې راولي، په دې هیله چې زیات شمیر بیلا بیلې تجربې او نظریې راغونډې کړي.

د طالبانو د رژیم له نسکوریدو وروسته په ۲۰۰۱ کې له ۱۴ فعالو پوهنتونونو څخه یوازې اووه پوهنتونونه فعاله وه، خو په ډیره محدوده اندازه. له هغه وخت راهیسي ۱۵ نور پوهنتونونه هم فعال شوي دي، چې په نتیجه کې اوس مهال په ټول هیواد کې ۲۲ پوهنتونونه په فعالیت بوخت دی. د لوړو زده کړو لپاره تقاضا دومره لوړه شوې ده چې زیات شمیر شخصي پوهنتونونه ایجاد شوی او د هغو محصلینو د پاره چې په عامه پوهنتونونو کې شاملیدای نشي خدمت وکړی. د محصلینو شمیر په وروستیو کلونو کې مخ په زیاتیدو دی او پوهنتونونو هم پراختیا موندلې ده او د کابل په پوهنتون کې د تعلیم او تربیې په څانګه کې اوس د ماسټرۍ درجې زده کړې هم کیږي.

خو په وروستیو لسیزو کې د ښوونیز سیستم تخریب ددې مانا لري چې د تعلیم په برخه کې زیاته پاملرنه د لومړنیو او منځنیو دورو په ښوونه باندې متمرکزه پاتې شوې ده. که څه هم لوړو زده کړو د هیواد په پالیسی کې یو مهم ځای نیولی دی لکه د افغانستان د ملي پرمختیایي ستراتیژي او د افغانستان د ښځو لپاره ملي عملیاتی پلان. خو سره د دې هم څو محدود ګامونه اوچت شوي چې د لوړو زده کړو د حاصلولو لپاره د ښځو په شمیر کې زیاتوالی راولي. حتی د لوړو زده کړو د وزارت ستراتیژیک پلان، که څه هم د عبارت له مخې ډیر پراخ بریښي، خو ډیر لږ مشخص پلانونه لري چې څنګه کولای شي ښځې د لوړو زده کړو لپاره د پوهنتون په کچه را شاملې کړي. یو څو نړیوال سازمانونه، غیر دولتي سازمانونه او د بیلا بیلو هیوادونو پوهنتونونه په محدوده اندازه کی هڅې کوي چې په افغانستان کې د پوهنتونونو سیستم ښه کړي، یو څو محدود پروګرامونه تر لاس لاندې دي چې لوړو زده کړو ته د ښځو په لاس رسي باندې زور اچوي.

سره له دې کمزورتیاوو، په مرکو او د څیړنې په نمونو کې د دې ثبوت شته چې د ښځو لپاره د لوړو زده کړو پروګرام تقویه کوي، په دې څیړنه کې شامل اووه هغه مهم لاملونه چې ډیر ځله یاد شوي دي او لوړو زده کړو ته د ښځو لاس رسي تقویه

کوي دا دي: ښځي د ټولنې نیمایي برخه جوړوي او د توازن د رامنځ ته کولو لپاره دوي ښوونې ته اړتیا لري؛ لوستي ښځي د هیواد له په پرمختګ کی سره مرستی کولای شي؛ زده کړې ښځو څخه پیاوړې میندې جوړوي چې روغ او صحتمند ماشومان وزیږوي؛ ښځي د ښوونې حق لري؛ ښځېنه نرسانو، ډاکټرانو، او ښوونکو ته اړتیا شته او یوازې لوستي ښځي دغه اړتیاوې پوره کولای شي؛ ښځي لکه د نارینه وو په څیر اړتیاوې لري او په دې کې ښوونه هم شاملیږي؛ او په اسلام کې تعلیم په ښځو او نارینه وو باندې فرض دی. که څه هم په کلیوالي کچه د خلکو نظریات د ښځو لپاره د لوړو زده کړو په برخه کې څومره ګټور نه بریښي، خو مهمه خبره دا ده چې داسي انفرادي کسان او ګروپونه هم شته چې د ښځو لپاره د لوړو زده کړو څخه ملاتړ کوي.

سره د دې، د هغو ښځو په وړاندې چې غواړي لوړې زده کړې وکړي ځینی خنډونه شته چې د ځیرنې د ګډون کوونکو له خوا ورته اشاره شوې ده. نا امني، مالي مسئلې، د پوهنتون د کانکور د ازموینې ستونزې، په هیواد کې د منځنیو زده کړو د کیفیت ټیټوالی، د ترانسپورت ستونزې، د ښځینه استادانو کمښت/کموالی، د نجونو لپاره د لیلیو کمښت او کلتوري مسئلې د داسې خنډونو په ډول یاد شوي دي چې د ښځو د لوړو زده کړو په لار کې ستونزې جوړوي. هغه کورنۍ چې ویره لري چې د دوی لوڼې به د پوهنتون په لار کې له ستونزو سره مخامخ شي او یا د دې ویره لري چې پوهنتون ته د دوي د لوڼو د ورتګ له امله به د محلي خلکو له غبرګون سره مخامخ شي د داسې خنډونو په څیر منل شوي دي چې کلتوري ماهیت لري. له دې سره یو ځای هغې عقیدې چې تعلیم له اسلام سره په ټکر کې انګیري د ښځو لپاره ډیره ګرانه کړې ده چې هغوی خپلې کورنۍ د لوړو زده کړو د حاصلولو په ارزښت قانع کړي.

که څه هم دغه خنډونه ډیر غښتلی ښکاري، خو دایمي ښه نه لري، د ځیرنې ګډون کوونکو څو داسي سپارښتنې او نظریې وړاندې کړي دي چې څنګه کیدای شي دغه خنډونه کم یا حتی له منځه یوړل شي. تر ټولو زیاته عمومي سپارښتنه دا وه چې د تعلیم په اړه د پوهاوي یو کمپاین په ټول هیواد کې ترسره شي چې ملایان او نور دیني پوهان په کې شامل وي څوک چې کولای شي د ښځو لپاره تعلیم په عمومی توګه او خاصتاً د لوړو زده کړو د پاره د مذهب د نظره ملاتړ یی وکړی. ډیرو خلکو داسې انګیرله چې که د افغانستان خلک د زده کړو په اهمیت پوهیدلای، دوی به وکړای شي چې ځینې دغه خنډونه له منځه وباسي او خپلې خویندې او لوڼې د لوړو زده کړو د حاصلولو لپاره وهڅوي. د امنیت ښه والی، د کانکور د ازموینې لپاره د چمتوالي کورسونه، د ښځو لپاره د پوهنتونونو د شرایطو ښه کول چې ښځینه محصلانې په اسانی سره هلته وخت تېر کړي دا ټولې هغه سپارښتنې وي چې د هغو ښځو په شمیر کې زیاتولی راولي چې لوړې زده کړې کوي. په دې برسیره ځیرنیزې ډلې په ګوته کړې ده، چې د پرمختګ د تطبیق کوونکو، تمویل کوونکو او وزارت ترمنځ د همغږۍ ښه کول ښایي ګټور ثابت شي او د پوهنتونونو او وزارتونو ترمنځ به موجوده همغږۍ نوره هم ښه کړي.

په افغانستان کې د ښځو لپاره لوړو زده کړو ته لاس رسی ښه کیدای شي خو په دې لار کې ټولې هڅې باید د یوه اوږد مهاله هدف په لوری سوق شي او یو داسې هدف چې د نن او سبا ورځې په محصلینو تمرکز وکړي او نه دا چې لنډ مهالی او داسي پروژې په نظر کې ونیسي چې ډېر ژر نتیجه ورکړي لکه څنګه چې د پرمختګ د دونرانو له خوا یې غوښتنه کیږي. د افغانستان ښځې او په عموم ډول ټول افغانستان ددې وړتیا لري او مستحق دي چې ووینې زیات شمیر تعلیم یافته ښځې څنګه کولای شي چې مثبت بدلونونه او غیزې پر ځای پریږدي.

## لومړي څپرکی: د څیړنی پیژندنه

څه وخت چي افغانستان د طالبانو له دورې وروسته د پرمختګ په لار برابر شو، د ښځو لپاره د زده کړو اړتیا تر ټولو نورو برخو زیاته پاملرنه ځان ته واړوله. دغه پالمرنه د افغانستان د ۲۰۰۶ کال په ملي پرمختیایی ستراتیژۍ او نورو پرمختیایي پلانونو او سندونو کې راښکاره شوه. څنګه چي لومړنیو او منځنیو زده کړو ته ډیر پام اړول شوی دی، خو په ټول هیواد کې د ښځو لپاره د لوړو زده کړو اړتیاوو ته هم پوره ضرورت محسوس کیږي.

د لومړنیو او منځنیو زده کړو د حالت په اړه ډیر راپورونه شته چي د هغې په اړه معلومات وړاندې کوي، خو تر دې مهاله داسي لیکلی او چاپ شوي راپورونه نشته چي لوړو زده کړو ته د ښځو د لاس رسي په اړه معلومات ورکړي. د دې راپور هدف دا دی چي دغه تشه په دې ډول ډکه کړي چي وګوري ښځې په افغانستان کې په څه ډول لوړو زده کړو ته لار پیدا کوې، دوي د لوړو زده کړو د حاصلولو په لار کې له کومو خنډونو سره مخامخ کیږي او څنګه هڅول کیږي، کوم پرمختیایي پروګرامونه شته چي لوړو زده کړو ته د ښځو لاس رسي تقویه کوي، او حکومت کومې پالیسي غوره کړي چي لوړو زده کړو ته د ښځو لاس رسي اسانه کوي. دغه راز، راپور د ښځو د لوړو زده کړو مسئله په تیرو وختونو کې هم څیړي.

د اوسنی وضعې د درک کولو په ذریعه د وزارت کارمندان، پالیسي جوړونکي، د پرمختیایي چارو برخه وال، د مدنې ټولنې د دفاع ډلې او نور چې په افغانستان کې د لوړو زده کړو په چارو کې بوخت دي، کولای شي له دې مسئلې سره مرسته وکړي چي د لوړو زده کړو لپاره ښځو ته د ښه او اسانه فرصتونو په برابرولو کې مرستندویه ثابت شي. د اوسني وضعې په پوهیدلو سره کیدای شي داسي مناسب پلانونه تیار شي چي وکولای شي په راتلونکي کې د ښځو لپاره ښه زمینه برابره کړي چي پوهنتونونو ته د اخلې شي او نورې لوړې زده کړې تر لاسه کړي.

دغه څیړنه نه یوازی دا چي اوسني وضعه روښانه کوی بلکه په عین وخت کې د افغانستان په تېرو وختونو کې د ښځو لپاره د لوړو زده کړو په اړه مفصل معلومات هم وړاندې کوي څو اوسنی رښتینې وضعه د یوه عمومي بهیر په رڼا کې مطالعه شي.

د دې لپاره چې په افغانستان کې د ښځو د لوړو زده کړو په اړه تاریخي معلومات تر لاسه کړو، څېړنیزې ډلې ډیرې ژورې تاریخی څیړنې وکړې او هم یې د تعلیم له ماهرانو سره خبرې او مذاکرې وکړې چې د ډیرو لسیزو په اوږدو کې په افغانستان کې د زده کړو په چارو کې بوخت وو. په دې لړ کې د ساحې له راپورونو، کتابونو، مقالو، او مهمو مرکو څخه استفاده شوې څو له بیلا بیلو سرچینو څخه راغونډ شوي ارقام ثبوت او تأئید کړه شي او په افغانستان کې د پوهنتون د سیسټم یو ډیر دقیق انځور لاس ته راشي او هغه نقش چې ښځو د محصلانو ، د پوهنځي او کارمندانو په څیر په دې سیسټم کې درلودلې دي څرګند کړه شی.

د دې لپاره چې په عمومي ډول په افغانستان کې د منځنیو زده کړو او لوړو زده کړو د ښځینه زده کوونکو په وضعیت باندې ځانونه پوه کړو، دې څېړنې یوه څو اړخیزه تګلاره اختیار کړې ده څیړنیزې ډلې له کمی او کیفي وسیلو او د تحلیل له روشونو څخه کار اخیستی او له اوو بیلا بیلو ولایتونو څخه یې ارقام راغونډ کړی دي. په دې بیلو ولایتونو کې د څیړنې ټیم د لوړو زده کړو په اوو حکومتي انستیتونو یا پوهنتونونو زور اچولي دی او هلته موږ د پوهنتون له جمعیتونو سره خبرې کړې دي. په دې برسیره د ښوونې د وزارت، د لوړو زده کړو د وزارت، او د ښځو د چارو د وزارت له برخه والو، د لوړو زده کړو د پرمختیایي پروژو له دونرانو، او په کابل کې د یو خصوصي پوهنتون له انفرادي کسانو سره هم مرکې ترسره شوې دي.

## د ځای غوره کول

په جغرافیایي لحاظ هغه ولایتونه چې انتخاب شوي دی د هیواد لویې سیمې احتوا کوي: په لویدیځ کې هرات، په شمال کې بلخ په شمال ختیځ کې بدخشان، په ختیځ کې ننګرهار، په جنوب کې کندهار او په مرکزي برخو کې بامیان او کابل. دغه سیمې له بلې خوا په مختلفو قومونو، د اسلام د دین په مختلفو مذهبونو او په افغانستان کې په نورو عمومی بیلوونکو نښو ویشل شوي دي. دغه راز د ولایتونو په انتخاب کې د محصلانو شمیر، عمر او نورې خواوې هم په نظر کې نیول شوي دي.

اووه پوهنتونونه په بیلا بیلو وختونو کې تاسیس شوی دي. په افغانستان کې لومړي پوهنتون په کابل کې په ۱۹۳۲ کال کی او وروستي پوهنتون په بامیان کې په ۲۰۰۴ کال کې پرانستل شوی دی او د بدخشان پوهنتون په ۲۰۰۳ کال کې په کار پیل وکړ. په دې کار سره څیرنیزې ډلې وکولای شو ل چی د داسې پوهنتونونو څخه معلومات او ارقام راغونډ کړي چې د ډیرو ښو او عالي پوهنځیو لرونکی دی او هم داسې پوهنتونونه، چې اوس د لوړو زده کړو سکټور ته داخل شوي دي. په دی هیله چې موږ د دواړو، هم پخوانیو او هم نویو پوهنتونونو څخه ارقام راټول کړی وی.




**لومړی شکل: د افغانستان هغه اووه ولایتونه چې څېړنې په کې ترسره شوې دي**

په ډېرو دغو پوهنتونونو کې په لومړیو څو کلونو کې ښځینه استادانې استخدام شوي دي خو دکندهار او ننګرهار پوهنتونونو استثنایي حالت درلود، چې له پرانستلو وروسته د لس څخه تر دوولسو کلونو پورې یې وخت ونیو چې ښځینه ښوونکې استخدام کړي. دغه دوه پوهنتونونه د هیواد په هغو سیمو کې واقع دی چې پښتانه په کې میشت دي، او د حجاب، د ښځینه او نارینه د تولنیز نقش په اړه او د هغوی د تولنیز چاپیریال په هکله محافظه کاره نظریات لري.

تر څېړنې لاندې اووه پوهنتونونه،د بدخشان او بامیان د پوهنتونونو په استثنا چې په وروستیو کې تأسیس شوي دي، مجبور شوی چې د خپل عمر په کلونو کې د ښځو به وړاندې خپلې دروازې وتړي، او ځینو یې د دوی په مخ خپلې دروازې په بشپړ ډول بندې کړي.[1] دغه پیښې د طالبانو د حکومت په دوره کې، له ۱۹۹۶- ۲۰۰۱ پورې را منځ ته شوې دي. له دې دورې څخه د مخه پوهنتونو له تأسیس څخه وروسته کم یا زیاتې ښځې شاملې کړې وی، که څه هم له پرانستلو څخه یو څو کاله وروسته یې ښځو ته د دې اجازه ورکړې وه. لکه څنګه چې لاندې په تفصیل سره راغلي دی. د طالبانو دکنترول دورې په ټول هیواد کې د ښځو په زده کړو او همدارنګه د نارینه وو په تعلیمي فضا منفي اغیزې درلودلې دي.

[1] د بامیان د پوهنتون د اداري په وینا په ۲۰۰۴ کې تاسیس شوی او د بدخشان پوهنتون، د اداري په وینا په ۱۹۶۳ کې د دارالمعلمین په چوکاټ کې او بیا په ۲۰۰۳ کې د پوهنتون په ډول تاسیس شوی دی.

| پوهنتون | ولایت | منطقه | د انتخاب شوی محصلینوتعداد | د محصلینو نفوس | دتأسیس کال |
|---|---|---|---|---|---|
| د بدخشان پوهنتون | بدخشان | شمال شرق | ۲۰ | ۵۱۲ | ۰۰۳ |
| د بلخ پوهنتون | بلخ | شمال-مرکز | ۵ | ۵۵۶۷ | ۱۹۸۷ |
| د بامیان پوهنتون | بامیان | مرکز | ۱۷ | ۹۰۷ | ۲۰۰۴ |
| د هرات پوهنتون | هرات | غرب | ۳ | ۶۴۴۶ | ۱۹۸۸ |
| د کابل پوهنتون | کابل | مرکز | ۱ | ۱۳۳۵۰ | ۱۹۳۲ |
| د کندهار پوهنتون | کندهار | جنوب | ۹ | ۲۰۱۳ | ۱۹۹۰ |
| د ننگرهار پوهنتون | ننگرهار | شرق | ۲ | ۷۰۹ | ۱۹۶۳ |

**لومړی جدول: اساسي مقایسوي معلومات د اوو افغاني پوهنتونونو په باب چې څېړنه په کې ترسره شوې ده**

سرچینه: د افغانستان د احصائیي کلنی ۲۰۰۹-۲۰۱۰ او د څېړنې ارقام د پوهنتون د راپور د کارډونو او مرکو په شمول (مې او جون ۲۰۱۰).

## وسایل او بیلګه اخیستنه

دغې څېړنې له مهمو مرکو څخه کار اخیستي او په ډله ایزه مباحثو یې زور اچولي دي. په ټولیز ډول ټیم له ۶۲ انفرادي مرکه ورکوونکو سره خبرې کړي دی چې ۱۶ یې ښځې او ۴۶ تنه یې نارینه وو. د نارینه وو زیات شمیر په مرکو کې له دې امله وو چې دوي مهم پوستونه درلودل خو دا انتخاب د څېړنیزې ډلې له خوا د کوم تبعیض په اساس نه دی شوی. په وزارتونو او د پوهنتونونو په سیستم کې ډیر مهم عالي پوستونه د نارینه وو له خوا اشغال شوی دی. د څېړنې ټیم ۵۷ بیلې ګروپي خبرې اترې (د تمرکزی ګروپونو بحثونه) هم ترسره کړي دی چې ۳۵ یې له ښځو او ۲۲ یې له نارینه وو سره شوې دي. په ډله ایزو خبرو اترو کې څېړنیزې ډلې له ۱۶۷ ښځو او ۱۰۶ نارینه وو سره خبرې کړې دي. د دغو دواړو مرکو پایلې به په لاندنیو برخو کې په تفصیل سره وړاندې شي.

## ګروپي خبرې اترې

په دې څېړنه کې د ګروپي خبرو اترو د ډلو شمیر محدود وو او په کوچنیو ډلو، چې د ۴نه تر ۶ تنو پورې په کې وه او د یوې معیني کټګورۍ کسان وه، ویشل شوي وو. ډیره هڅه شوې ده چې د ښځو او نارینه وو ډله بیزې خبرې اترې سره بیلې شي څو دوي وکولای شي په ازادانه توګه خپل نظریات بیان کړي. په افغانستان کې د څېړنو پخوانیو تجربو ښودلې ده چې ګډې ګروپي مباحثې ډیر ځله په دې تمامې شوي چې ښځینه ګډون کوونکي لږ برخه په کې اخلي او خپلې نظریې او پوهه نه څرګندوي. د دې روش هدف دا وو چې داسې یو چاپیریال رامنځ ته شي چې هلته هر ګډون کوونکی په خپل ګروپ کې ازادانه خبرې وکړي او بې له دې چې جنسي اړخونه په نظر کې وساتي.

ګروپي مباحثې د دې فرصت ورکوی چې د ګروپ غړي په خپلو منځونو کې ډیرې مباحثې او خبرې تبادله کړي، چې په یوه مسئله باندې زیاته رڼا اچوي او په انفرادي مباحثو کې دغه کار امکان نه لري. که څه هم په ګروپي مباحثو کې لارښوونې

مرسته کوی چې د ضرورت په وخت کې د مباحثې لارښود خبرې منظمې او رهبري کړي، خو په ګروپي مباحثو کې د دې امکان موجود وي چې مرکې و مختلفو اړخونو ته سوق شي. ګروپی خبرې اترې یا مباحثې ډیر ځله د دې لپاره کیږي چې کيفي ارقام او معلومات راغونډ کړي، ځکه په دې مباحثو کې ګډون کوونکی ددې فرصت لري چې په تفصیل سره خپلې انګیزې او د حالاتو په اړه خپلې نظریې بیان کړي. دغه دواړه خواوې د څړینې لپاره ډیر اهمیت لري.

ګروپي مباحثې له ښځينه او نارينه محصلانو، د هغوي له میندو او پلرونو، له ښځینه او نارینه غیر محصلانو، ښځینه او نارینه استادانو او د هر پوهنتون له ښځینه او نارینه کارمندانو سره ترسره شوی دی چې تفصیل یې په لاندی ډول سره راغلی دی.

ګروپي مباحثې له ښځینه او نارینه محصلانو سره او له ښځینه او نارینه غیر محصلانو سره په جلا ډول ترسره شوې دي، تر څو موږ په دې پوه شو چې د زده کړو د دوام لپاره څه انګیزې موجودې وي او د غیر محصلانو لپاره څه سبب ګرځیدلی چې زده کړې یې پرې ایښې دي. دې کار له موږ سره د هغو بیلا بیلو ستونزو په تشخیص کولو کې هم مرسته وکړه چې محصلان او غیر محصلان د زده کړو په بهیر کې او وروسته مخامخ شوې دي. په افغانستان کې کورنۍ د ځوانانو د تعلیمي مسلکونو په انتخاب کې لوی نقش لري، له دې امله ګروپی مباحثې د محصلانو او غیر محصلانو له میندو او پلرونو سره ترسره شوي ترڅو ګروپ په دې وپوهیږي چې دوي څومره رول لري او کوم لاملونه وړاندې کوي چې د کورنۍ ځوان غړي یې له امله باید لوړې زده کړې وکړي.

| | د ګروپی بحثونو کټګوری | ګروپی بحثونه | د ګډون کوونکو مجموعه |
|---|---|---|---|
| 1 | محصلين | 14 | 72 |
| 2 | میندی پلرونه | 14 | 70 |
| 3 | غیرمحصلین | 8 | 32 |
| 4 | استادان | 14 | 65 |
| 5 | د پوهنتون کارمندان | 6 | 27 |
| 6 | د وزارت ښځینه کارمندانی | 1 | 7 |
| | مجموعه | 57 | 273 |

**دوهم جدول: ګروپی بحثونه**

ګروپی بحثونو هڅی و کړې تر څو د ښځو د لوړو زده کړو به اړه په عمومی افکارو باندې پوه شی چې د دې اوو پوهنتونونو په شاوخوا چاپیریال کې موجود دی. حد اقل څلور تصادفي مرکې د دې ښارونو په بازارونو کې ترسره شوې دي. دغه مرکې ډیرې لنډې وي او د څیړنیزې ډلې لپاره یې د هغه ځای د اوسیدونکو یو سطحي نظر څرګند کړ چې د ښځو د لوړو زده کړو په اړه دوي څه فکر کوي. دغه نظریات د ښځو لپاره د لوړو زده کړو د مسئلې په تولنیز تایید یا ردولو کې هم مرسته کوی او د ښځینه محصلانو د کورنیو او په خپله د محصلانو په پریکړو اغیزه کوي چې لوړې زده کړې تعقیب کړي او که نه.

په داسې حال کې چې په افغانستان کې دولتي پوهنتونونه په لوړو زده کړو کې زښت زیات اهمیت لري، خو په وروستیو وختونو کې یو شمیر خصوصي پوهنتونونه هم پرانیستل شوي دي، څیړنیزې ډلې د یوه ډیر مشهور خصوصي پوهنتون له مشر سره مرکه وکړه څو پوه شي چې خصوصي پوهنتونونه د ښځینه محصلانو لپاره د لوړو زده کړو د لاس رسي په زیاتولو کې کوم نقش لري او که نه. موږ د کاردان د پوهنتون له مشر سره خبرې وکړي، چې په کابل کې فعاله دی او په

۲۰۰۹ -۲۰۱۰ ښوونیز کال کې یې تر ټولو زیات محصلین درلودل.[2]

په دې سربیره یو شمیر نورې مرکې د وزارت له کارمندانو، او د لوړو زده کړو له نورو برخه والو لکه د لوړو زده کړو د پرمختیایي پروژو د دونرانو سره وشوې. په دې کار سره د څیړنېزې ډلې لپاره د پالیسي د چاپیریال په اړه چې اوس مهال په افغانستان کې جارې دی، ژور معلومات لاس ته ورغلل او د مختلفو پرمختیایي پروژو څخه خبر شول چې ترسره شوې دي، جارې دي او یا د دې تمه کیږي چې ترسره شي او په دې ټکی زور اچوی چې د ښځو لپاره د لوړو زده کړو فرصتونه زیات شي.

| | د مهمو مرکو کټګوری | د مرکو شمیر |
|---|---|---|
| 1 | د دولتي پوهنتون اداري بخش | 21 |
| 2 | د وزارت کارمندان | 6 |
| 3 | تمویل کوونکي او تطبیق کوونکي | 3 |
| 4 | په بازارونو کي مرکي | 31 |
| 5 | د خصوصي پوهنتون اداري بخش | 1 |
| | مجموعه | 62 |

**دریم جدول: مهمي معلوماتي مرکي**

## مهمي معلوماتي مرکي

مهمي معلوماتي مرکي د لوړو زده کړو له انفرادي برخه والو او د عامو خلکو سره ترسره شوې دي څو وښیي چې لوړې زده کړې او ښځې د عامو خلکو په نظر څنګه ښکاري.

معلوماتي مهمي مرکي څکه کارول کیږي چې څیړونکو ته د دې فرصت ورکوي چې داسې پوښتني مطرح کړي چې مشخص ځوابونه ولري او یا یې ځوابونه له انفرادي اشخاصو څخه چې د پوهې څښتنان وي، د ډیر غور او تامل ایجاب کوي. دغه مرکي په جلا ډول ترسره شوې دي او د مرکي ورکوونکي لپاره د دې فرصت وو چې په ازاد ډول بې له سانسوره خپلې نظریې وړاندې کړي. مهمي معلوماتي مرکي د هر پوهنتون له مشر او د هغوی د ادارې کارمندانو سره شوي دی چې د ښوونځیو له احصاییو او نورو کارونو څخه خبر وه او په هر ولایت کې په بازارونو کې د خلکو سره هم مرکې ترسره شوې دي. په کابل کې د معارف د وزارت، د لوړو زده کړو د وزارت، د ښځو چارو د وزارت له کارمندانو سره، د پرمختیایي پروژو له دونرانو او تطبیق کوونکو او په پای کې په کابل کې د یوه شخصي پوهنتون له مشر سره مرکې شوې دی.

## محدودیتونه او ملاحظې

د وخت د لړوالی له امله دغه څیړنه د ۲۲ دولتي پوهنتونونو څخه یوازی په اوو پوهنتونو او په یوه شخصي پوهنتون پورې محدوده پاته شوه. د دې مانا دا ده چې ښایي په نورو ولایتونو کې وضعه بدله وي، که څه هم موږ د دې امکان د موندلو لپاره بیلا بیل پوهنتونونه، لکه پخوا چې وویل شول، انتخاب کړې دي.

[2] د کاردان پوهنتون په ۲۰۰۹- ۲۰۱۰ کې 2759 تنه محصلان درلودل په هغه پسې د باختر پوهنتون چې 657 تنه محصلان په کې روزل کیدل (د افغانستان اسلامی جمهوریت، د مرکزي احصاییي دفتر ۲۰۱۰: ۴۴).

د کیفیت پر اصل ولاړ روش څېړنیزې ډلې ته د دې امکان ورکړی چې داسې معلومات راغونډ کړي چې پوښتنو ته ژور ځوابونه وویلای شي، خو دغه ځوابونه موږ په هغه روش کې نه شو تر لاسه کولای چې یوازې کمیت ته ترجیح ورکوي، خو باید وویل شي چې وړاندې شوی ارقام د ټولو ولایتونو او یا په افغانستان کې د ټولو پوهنتونونو څخه استازیتوب نه کوي. دغه حقیقت باید د متن د لوستلو په وخت کې او په راتلونکو څېړنیزو هڅو کې په پام کې وساتل شي، موږ په دې باور یو، چې دغه معلومات د ښځو په اړه چې غواړي لوړې زده کړې وکړي د حقیقي وضعې ښه څرګندونه کوي.

## لوړو زده کړو ته د ښځو د لاس رسي تاریخ

په افغانستان کې د پوهنتون سیستم وروسته له هغه چې کمونیستی رژیم نسکور شو او دې سیستم ډیره صدمه ولیدله، اوس مهال کرار کرار بیرته د جوړیدو په حال کې دی.

په افغانستان کې د پوهنتون په کچه لومړنی پوهنځي د فیزیکي علومو پوهنځي وه، چې په کال ۱۹۳۲ کې تاسیس شوی ده.[5] له دې سره د کابل پوهنتون په کار پیل وکړ چې په رسمي ډول په ۱۹۴۶ کې پرانستل شو.[6] د راپوررونو له مخې د لومړی درجې په فارغ التحصیلانو کې ۲۲۳ تنې ښځې وې چې له کابل پوهنتون څخه فارغې شوې وی.[7] له دې وروسته د ننګرهار پوهنتون په ۱۹۶۳ کې پرانیستل شو چې ورپسې یې په ۱۹۶۹ کې د کابل د پولي تخنکی پوهنتون د شوروي اتحاد په مرسته تاسیس شو.[8] په ۱۹۷۷ کې یو وزارت تشکیل شو چې د لوړو زده کړو د چارو تنظیم یې په غاړه واخیست.[9] د دې وزارت نوم د لوړو زده کړو او ایدیالوژیکی روزنې وزارت وو او مسئوولیت یې دا وو چې د لوړو زده کړو ټولې مؤسسې اداره کړي. په اتیایمه لسیزه کې یو شمیر نور پوهنتونونه د اسلامی څیړنو او د هرات د پوهنتون په ګډون هم ایجاد شول.

لوړو زده کړو ته لاس رسي، په ځانګړی ډول د ښځو لپاره تر ډیری اندازی په سیاسي شرایطو پورې تړلی وو او د ډاکتر نجیب الله د کمونیستي رژیم له نسکوریدو ورسته په ۱۹۹۲ کې لوړو زده کړو ته لاس رسي نور هم ډیر محدود شو. د مجاهدینو په حکومت کې (۱۹۹۲- ۱۹۹۶) ډیرو موجودو پوهنتونونو په محدوده کچه د لوړو زده کړو لپاره دروازې پرانیستي وې. دغه وضعه د طالبانو په دوره کې نوره هم زیاته خرابه شوه او د هلکانو او نجونو ګډې زده کړې غیری قانونی وشمیرل شوې او ښځو ته د دې اجازه نه وه چې زده کړې وکړي. دغه شرایط د طالبانو د رژیم تر پایه (۲۰۰۱) پورې واکمن وه.

لکه څنګه چې موږ فکر کولای شو، لوړو زده کړو ته لاس رسي په هغو تعلیمي فرصتونو پورې تړلی دی، چې د زه کړو په لومړنیو مرحلو کې موجود وي. په افغانستان کې د ښځو لپاره لومړنی ښوونځې په کال ۱۹۲۱[10] کې تاسیس شوله او د لومړي ځل لپاره د هلکانو د منځنی دوري ښوونځې د ۱۹۰۰ کال په لومړیو کې تاسیس شوی ده.[11] د امان الله خان حکومت (۱۹۱۹- ۱۹۲۹) د دې هیله من وو چې "روڼ آندې طبقه" وده وکړي او له دې امله یې د منځنیو ښوونځیو د زده کوونکو لپاره بورسونه تهیه کړل.[12] په کابل کې دوی نوری لومړني ښوونځې له یوی منځني ښوونځی سره یو ځای په ۱۹۲۷ کال کې تاسیس شولی.[13]

د امان الله خان په دوران کې د لومړی ځل لپاره د ښځو د لوړو زده کړو د حاصلولو هڅې و شوی. به ۱۹۲۸ کې ۱۵ نجوني

---

[5] (عبد الباقي ۲۰۰۹)
[6] (عبد الباقي ۲۰۰۹)
[7] جانا ۲۰۱۰، ۵۰۱
[8] (عبد الباقي ۲۰۰۹)
[9] (عبد الباقي ۲۰۰۹)
[10] (بیورکی ۲۰۱۱: ۴۶)
[11] (ګریګورین ۱۹۶۹: ۲۳۹)
[12] (ګریګورین ۱۹۶۹: ۲۴۰)
[13] (بیورکی ۲۰۱۱: ۴۶)

ترکيي ته د لوړو زده کړو لپاره وليږدل شوې. د لوړو زده کړو د وزارت د يوه کارمند په وينا دې ښځو غوښتل چې د نرسانو او پرستارانو لوړې زده کړې وکړي خو د دې فرصت ورته پاته نه شو چې زده کړې تر پايه پورې ورسوي.[14] دغه نجونې چې د لوړو زده کړو لپاره تللي وې د کابل د لوړو اشرافي کورنيو نجونې وې. په دې کار سره د عامو خلکو احساسات را وپاريدل او دوي دغه عمل د کلتوري او ټولنيزو نورمونو په خلاف وګاڼه او داسې يې انګيرله چې حکومت د ريفورمونو او اصلاحاتو په برخه کې ډير زياتی کوي او هغه نجونې بېرته راوغوښتل شوې او د ښځو لپاره نوری تاسيس شوي ښوونځي هم و تړل شولی.[15]

د امان الله خان له حکومت وروسته د بچه سقاو د حکومت په لومړی سر کې د نجونو ټول ښوونځي وتړل شوی او بيا يي هغه افغاني نجونې چې بهرنيو هيوادونو ته د زده کړو لپاره ليږل شوې وې بيرته وطن ته راوغوښتلی.[16] له دې وروسته يی د نجونو لپاره په ښار کې څو مذهبي ښوونځي پرانستلی چې شمير يی ډير کم وو او د ټولو سطح د لوړو زده کړو څخه ټيټه وه. د ملالی ښوونځي په ۱۹۳۱ کال کی په کار پيل وکړ که څه هم نرساني او قابله ګاني يي روزلي[17] خو بيا هم دغه ښوونځی تر ۱۹۵۰ کلونو پورې تړلی پاتې وه او له هغه وروسته يی يوازې تر ۹ ټولګی پورې زده کړې لرلې.[18]

کله چې ظاهر شاه واک ته (۱۹۳۳- ۱۹۷۳) ورسدی، د ده حکومت په لومړی سر کې د نجونو لپاره په ټول هيواد کې لومړني ښوونځی پرانستلی ځکه دې په دې باور وو چې زده کړې د هيواد د پرمختګ لپاره ډيرې ضروری دي.[19] دغه راز د ده د پلار نادرشاه په وخت کې (۱۹۲۹- ۱۹۳۲) د کابل پوهنتون لومړنی پوهنځي په ۱۹۳۲کې پرانيستل شول او په دې پوهنځي کې ښځينه او نارينه محصلان شامل شول. حکومت محصلانو ته ډوډی، کالی، کتابونه او ليليه برابره کړه او د دوي د هڅونې لپاره يې نور څه هم وکړل.[20] په دې سربيره يی و محصلينو ته ددی اجازه هم ورکړله چې لوړې زده کړې په بهرنيو هيوادونو کې وکړي او محصلين فرانسې، جرمني، انګلستان، امريکا، ترکيي او جاپان ته وليږل شول.[21]

په ۱۹۵۰ کې د ښځو لومړنی ليسه په کابل کې تاسيس شوه، چيرې چې اوس مهال د ملالی ليسه جوړه شوې ده.[22] د مقايسي په ډول د هلکانو لومړنی ليسه په ۱۹۰۳ کې د حبيبې ليسه تاسيس شوه.[23] په ۱۹۵۰- ۱۹۵۱ کلونو کې ښځينه محصلاني په کابل پوهنتون کې د طب، ساينس او بشري علومو په پوهنځيو کې شاملې شوې.[24] له دې وروسته په ۱۹۷۵ کې په هرات کې د نجونو ليسه جوړه شوه.[25] د ۱۹۵۰ کلونو په دوره کې د امريکا او شوروی اتحاد مرستې زياتې شوې. د دغو بهرنيو مرستندويانو په مرسته د نجونو لپاره ډيری ښوونځی پرانيستل شولی. په دې وخت کې ښځو وکولای شول چې ډاکټراني، نرساني او ښوونکي شي، يعنی دوي د لوړو زده کړو فرصتونه درلودل. که څه هم د دې دوران د ښځو د شمير په اړه چې پوهنتونونو ته تللي دی ډير کم معلومات په اختيار کې لرو.[26]

[14] (سينتليورز- ديمونت ۱۹۹۴: ۳۳۷؛ احمد غوث ۲۰۰۳: ۴)
[15] (سينتليورز- ديمونت ۱۹۹۴: ۳۳۸؛ بيورکی ۲۰۱۱: ۴۹)
[16] (ګريګورين ۱۹۶۹: ۲۷۵)
[17] (ګريګورين ۱۹۶۹: ۳۰۹)
[18] (ګريګورين ۱۹۶۹: ۲۷۵؛ سينتليورز- ديمونت ۱۹۹۴: ۳۳۸)
[19] (ګريګورين ۱۹۶۹: ۲۰۷)
[20] (ګريګورين ۱۹۶۹: ۳۰۹)
[21] (ګريګورين ۱۹۶۹: ۲۰۸)
[22] يوازې د ۹ ټولګي له لارې، مخکې نوټ شوي وي (سينتليورز- ديمونت ۱۹۹۴: ۳۳۸؛ بيورکی ۲۰۱۱: ۵۰)
[23] (احمد غوث ۲۰۰۳: ۳)
[24] (سينتليورز- ديمونت ۱۹۹۴: ۳۳۸)
[25] (بيورکی ۲۰۱۱۱: ۵۰)
[26] (احمد غوث ۲۰۰۳: ۶)

په دې برسيره د ظاهر شاه په دوران کې په ۱۹۶۴ کې اساسي قانون تصويب شو، چې دولت په دې ژمن ګڼي چې د ښځو لپاره د زده کړو نور فرصتونه برابر کړي (۴۴ ماده).[27] په دې دوره کې، خصوصاً په ښاري سيمو کې ښځو د تعليم د حاصلولو لپاره ډيرې هلې ځلې وکړې. په کابل کې په ۱۹۷۰ کلونو کې د راپورونو له مخې ۴۲ سلنه ښځې په رسمي ښوونځيو کې ثبتې شوې دي، که څه هم دغه برخه لوړو زده کړو ته اشاره کوي.[28] په پوهنتونونو کې د ښځو د پوهنځيو شمير ډيرېده او ښځو په نورو عامه ادارو کې هم کارونه پيل کړل او په پارلمان کې يې هم استازيتوب وکړ.[29] خو په ټول هيواد کې وضعه کړکيچنه وه. د نړيوال بانک يو راپور چې په ۱۹۷۵ کې تيار شوی دی وايي چې يوازې ۸ سلنه نجونې په لومړنيو ښوونځيو کې او ۲ سلنه په منځنيو ښوونځيو کې شاملې وې، د لوړو زده کړو په اړه هيڅ هم نه وه ويل شوي، داسې فکر پيدا کيږي چې د لوړو زده کړو لپاره د ښځو شمير ډير لږ وو.[30] سره د دې سينټليو ريس ديمونت وايي چې د کابل د پوهنتون د محصلانو له شمير څخه په ۱۹۷۶ کال کې ۴،۱۵ سلنه ښځينه محصلانې وې او له ۱۹۷۴ کال څخه د مخه يوازې ۱۱ سلنه ښځينه محصلانې وې.[31]

کله چې د ثور د انقلاب څخه وروسته په ۱۹۷۸ کې کمونيستي حکومت منځ ته راغي او شوروی ځواکونه د دغه حکومت د ملاتړ لپاره راغلل، تعليم او زده کړو ته په تېره بيا د ښځو زده کړو ته ډيره پاملرنه وشوه. د هلکانو او نجونو لپاره زده کړې جبري شوې.[32] په کليوالي سيمو کې دولت ښځې دې ته اړې کړې چې د ليک لوست کورسونه ووايي، په دې کار سره د محافظه کارانو غوسه را و پاريدله او ډيری ښوونځی او حکومتي ودانۍ وسوځول شوې.[33] په کليوالي سيمو کې د لومړنيو ښوونځيو شمير کم شو.[34] او دا راز په کليوالی سيمو کې د ښځو لپاره د زده کړو فرصتونه کم شول، خو په ښارونو کې د کمونيستي رژيم په دوران کې د ښځو زده کړو ته ډيره پاملرنه وشوه. که څه هم په ۱۹۷۵ کې د ښځو شمير چې لوړې زده کړې يې پای ته رسولي وي يوازې ۵ سلنه وه.[35]

يوه ليکوال ويلی دي، چې سره له دې محدوديتونو، په ليسو او پوهنتونونو کې د ښځينه محصلانو شمير ډيريده، ځکه چې حکومت په ځوانانو باندې د عسکري دورې خدمت جبري ګرځولی وو.[36] په ۱۹۸۴ کې د کابل د پوهنتون له محصلانو څخه ۷،۵۷ سلنه ښځينه محصليني وې.[37] په ۱۹۸۸ کې ۲۵۰ محصلين هر کال په شوروی اتحاد کې دماستري او دوکتورا زده کړې کولی، او ۱۰۰۰ تنه شاګردان د منځنيو زده کړو لپاره شوروی اتحاد ته تلل، چې ځينې يې ښځينه زده کوونکې وې خو دقيق شمير يې معلوم نه دی.[38] په ۱۹۸۸ کې حکومت د دې هڅې هم وکړې چې د پوهنتونو لپاره د محصلينو شمير زيات کړي.[39] سنتليوريس ديمونت په دې باور دی چې په دې دوره کې حکومت د زده کړو لپاره ډيره پاملرنه کړې ده، ځکه دوی غوښتل چې په هيواد کې ډير پلويان وګټي. هغه راپور ورکوی چې په دې وخت کې ۱۳۰۰۰ محصلينو د هيواد په پوهنتونونو کې زده کړې کولې او ۷۶۰۰ يې يوازې په کابل کې وه.[40] دا وايي چې حکومت د زده کړو لپاره قواعدو ته هم

---

27 (بيورکی ۲۰۱۱: ۵۶)
28 (بروډسکی ۲۰۱۱: ۷۸)
29 (احمد غوث ۲۰۰۳: ۶)
30 (بروډسکی ۲۰۱۱: ۷۸)
31 (سينتليورز- ديمونت ۱۹۹۴: ۳۴۹)
32 (احمد غوث ۲۰۰۳: ۶)
33 (بيورکی ۲۰۱۱: ۵۳)
34 (سينتليورز- ديمونت ۱۹۹۴: ۳۴۷)
35 (جانا ۲۰۱۱)
36 (سينتليورز- ديمونت ۱۹۹۴: ۳۴۷)
37 (سينتليورز- ديمونت ۱۹۹۴: ۳۴۹)
38 (ارنولډ ۱۹۹۴: ۵۹)
39 (ريوبين ۱۹۹۴: ۲۱۵)
40 (سينتليورز- ديمونت ۱۹۹۴: ۳۴۹)

بدلون ورکړ او زده کوونکو کولای شول چي له ازمويني پرته پوهنتون ته شامل شي او له پوهنتون څخه مخکي د زده کړې دوره هم له ۱۲ کلونو څخه لسو ته راټيټه شول.[41]

که څه هم د ۱۹۸۰ کلونو په نيمايي کي د ډيرو پوهنتونونو دروازې د ښځو په مخ پرانيستي وي، دغه وضعه د ډاکتر نجيب الله د کمونيستي حکومت په نسکوريدو او د مجاهدينو په راتګ سره په بې ساری ډول په ۱۹۹۲ کال کي بدله شوه. ځيني پوهنتونونه، لکه د کابل پوهنتون په دې دوره کي په بشپړ ډول وتړل شو، ځکه د مجاهدينو ځواکونو د پوهنتون کارمندان، استادان او محصلين تهديدول. د احمد غوث په وينا د کابل پوهنتون په دې دوران کي د جنګ ميدان وګرځيد او مجاهدينو ځيني ودانۍ وسوځولې.[42] د ښځو په ګرځيدو را ګرځيدو محدوديتونه ولګيدل او د دوي لپاره د چادري اغوستل جبري وګرځيدل.[43]

د دغه دوران په تعقيب د طالبانو په وخت کي (۱۹۹۶- ۲۰۰۱) ځيني پوهنتونونه دوباره پرانستل شول، خو په دې دوران کي د ښځو وضعيت بدتر شو. حکومت د هلکانو او نجونو ګډ تعليم غير قانوني وباله او د نجونو لپاره يې لومړنی ښوونځی هم بندی کړلی. ښځو اجازه نه درلوده چي له کورنو څخه ووزي مګر د غذا د رانيولو لپاره او هغه هم د يوه محرم کس يا د کورنی د يوه نارينه غړي په موجوديت کي.[44] يوازې څو ښځو اجازه درلوده چي د طب زده کړې وکړي.[45] په دې دوران کي د هلکانو لپاره هم د زده کړو فرصتونه لږ وه، ځکه چي د هيواد په ډيرو برخو کي نا امني زياته شوې وه. د طالبانو له واک څخه مخکي په ټول هيواد کي ۱۴ عالي اداري د لوړو زده کړو په برخه کي فعالي وي.[46] دغه شمير د دوی په دوران کي ۷ ته راورسيد. هغه ښوونځی چي پرانيستي پاتي شولی د سختو مالي ستونزو او د ښوونکو له کمښت سره مخامخ وی، ځکه چي ډير خلک له جنګونو څخه وتښتيدل او په ګاونډيو هيوادونو کي يې پنا واخيسته. د لوړو زده کړو د وزارت د مرستيال په وينا په سلو کي اويا استادانو افغانستان د جنګونو له امله پريښود.[47]

په ۲۰۰۱ کال کي د طالبانو د رژيم له نسکوريدو وروسته د افغانستان پوهنتونونه بيا راژوندي شول او نوي پوهنتونونه تاسيس شول، لکه د باميان پوهنتون او د بدخشان پوهنتون. ټولو پوهنتونونو چي د دې څيړني تر پوښښ لاندي دی، ښځو ته د زده کړو اجازه ورکړې وه، خو په ۲۰۰۱ او ۲۰۰۲ کلونو کي د هغو ښځو شمير چي غوښتل يې لوړې زده کړې وکړي او پوهنتونونو د دوي په مخ دروازې پرانيستي پرې ايښي وي، ډير لږ وو او دغه شمير په ورپسي لسو کلونو کي ورو ورو زياتيدی.

په ۱۹۹۲ کي د لوړو زده کړو لپاره ۲۴۳۳۳ محصلان ثبت وه، خو دغه شمير په ۱۹۹۵ کي ۱۷۳۷۰ او په ۲۰۰۱ کي ۷۸۸۱ تنو ته راټيټ شو.[48] دغه شمير له دې وخت راهيسي په پرله پسي ډول زيات شو چي اوس په ټول هيواد کي له ۶۰۰۰۰ څخه زيات محصلين زده کړې کوي. له ليسو څخه ډير فارغ شوي زده کوونکي پوهنتونونو ته د کانکور ازمويني ورکوي. په ۲۰۰۸/ ۲۰۰۹ کال کي په اټکلي ډول ۹۰۰۰۰ زده کوونکو د کانکور د ازمويني لپاره غوښتنليکونه ورکړي وه

---

[41] (سينتليورز- ديمونت ۱۹۹۴: ۳۴۸)
[42] (احمد غوث ۲۰۰۳: ۷)
[43](احمد غوث ۲۰۰۳: ۷)
[44] (احمد غوث ۲۰۰۳: ۷)
[45] (جانا ۲۰۱۱)
[46] (عبد الباقي ۲۰۰۹)
[47] (نيمتسوا ۲۰۱۰)
[48] (نيمتسوا ۲۰۱۰)

او ۲۰۰۰۰ يې د لوړو زده کړو په سيستم کې شامل شوي دي.[49]

د لوړو زده کړو لپاره د زده کوونکو په شمير کې زياتوالى د دې سبب وګرځيد چې حکومت په ۲۰۰۳ کې د لوړو زده کړو خصوصي موسساتو ته د فعاليت اجازه ورکړه.[50]

## په افغانستان کې د لوړو زده کړو اوسنى وضع

لوړې زده کړې په افغانستان کې د حکومت له خوا تمويل کيږي. د افغانستان د اوسني اساسي قانون ۴۳ ماده حکومت په دې ژمن بولي چې د خپلو اتباعو لپاره د ليسانس تر دورې پورې وړيا زده کړې برابرې کړي.[51] د دې مانا دا ده چې پوهنتون ته د شامليدو او هلته د زده کړو د کولو لپاره محصلين اړ نه دي چې پيسې ورکړي. هغه پوهنتونونه چې ليليې لري د هغو لګښت هم د حکومت په غاړه دی. په دې ډول په دولتي پوهنتون کې د زده کړو لپاره دا لګښتونه راځي: دتګ راتګ مصرفونه، فوتوکاپى کول يا د کتابونو رانيول، د خوړو مصرف او کالي.

خصوصي پوهنتونونه بيا له محصلينو څخه فيس اخلي. د محصلينو ميندې او پلرونه اټکل کوي چې د خصوصي پوهنتونونو لګښت په کال کې له ۲۰۰۰۰ څخه تر ۱۰۰۰۰۰ افغانيو پورې رسيږی او په دې پورې تړلي دی چې د پوهنتون موقعيت چيرته دي او د زده کړو کيفيت يې څرنګه دی. دغه لګښتونه د محصلينو لپاره ډير زيات دی ځکه چې د ۲۰۰۹ کال د شميرو له مخې کلني عادي عايد د سړی په سر يوازې ۱۰۰۰ ډالره وو،[52] چې نږدې له ۴۹۷۵۰ افغانيو سره برابر دی. لکه څرنګه چې په لاندې کرښو کې به بحث ورباندې وشي. د لوړو زده کړو لګښتونه، که په دولتي يا خصوصي پوهنتون کې وي، د محصلينو په وړاندې چې غواړي د پوهنتون به کچه لوړې زده کړې وکړي، يو لوی خنډ ګڼل کيږي.

د دولتی پوهنتونونو شمير په افغانستان کې لږ دی. د لوړو زده کړو د وزارت په وينا په ۲۰۰۹- ۲۰۱۰ کال کې په ټول هيواد کې ۲۲ پوهنتونونه فعال وه.[53] دغه شمير له پاکستان سره په پرتله کې ډير کم دی. هلته اوس مهال ۱۲۷ د لوړو زده کړو فعالي موسسي جاري دي چې ۷۳ يې دولتي دي. ځيني دغه پوهنتونونه يوازې څو پوهنځي لري چې زده کړې په کې کيږي. که څه هم د لوړو زده کړو وزارت وايي چې ټول پوهنتونونه د هلکانو او نجونو لپاره ليليې لري د پکتيا د پوهنتون څخه پرته، چې په ليليه کې ښځينه محصليني نه لري. خو زموږ څيړني وښودله چې د هرات او کندهار په پوهنتونونو کې د ښځو لپاره ليليې نشته او د باميان پوهنتون د هلکانو لپاره ليليه نه لري. نو څلور پوهنتونونه چې په دې څيړنه کې شامل وو د هلکانو او نجونو لپاره ليليې لري، چې د ښځو ليليې په بشپړ ډول مجهزې وي او د هلکانو هغې په نسبي ډول مجهزې وي.[54]

---

[49] (د افغانستان اسلامي جمهوريت، د لوړو زده کړو وزارت ۲۰۰۹)
[50] (د افغانستان اسلامي جمهوريت، د لوړو زده کړو وزارت ۲۰۰۹)
[51] (د افغانستان اسلامي جمهوريت، د لوړو زده کړو وزارت ۲۰۰۹)
[52] (د اطلاعاتو مرکزي اداره ۲۰۱۱)

[53] (په دې پراګراف ګې احصاييوي معلومات د افغانستان د احصائيي له کلنى ۲۰۰۹- ۲۰۱۰ څخه را اخيستل شوي دی. په دې کې دا پوهنتونونه شامل دي: د کابل پوهنتون، د کابل پولي تخنيک، د کابل د تعليم او تربيي پوهنتون، د کابل طبي پوهنتون، د هرات پوهنتون، د کاپيسا البيروني پوهنتون، د تخار د عبد الله بن مسعود پوهنتون، د ننګرهار پوهنتون، د کندهار پوهنتون، د بلخ پوهنتون، د بدخشان پوهنتون، د کندز پوهنتون، د پروان پوهنتون، جوزجان پوهنتون، فارياب پوهنتون، شيخ زاهد خوست پوهنتون، بغلان پوهنتون، د باميان پوهنتون، د پکتيا پوهنتون، د غزني پوهنتون، د سمنګان پوهنتون او د هلمند پوهنتون.
[54] هغه نارينه محصلين چې د ځای د محدوديت له امله يې ليليه تر لاسه کړی نه ده، د مياشتي ۱۸۰۰ افغانی مرسته تر لاسه کوي چې خپل ځان ته

د کابل پوهنتون تر ټولو لوي پوهنتون دی چې د پوهنتون د ادارې په وینا په ۲۰۰۹/ ۲۰۱۰ ښوونیز کال کې ۱۲۰۰۰ محصلین په کې شامل وو. په عمومي ډول د محصلینو شمیر په ټول هیواد کې زیات شوی دی. په ۲۰۰۸/ ۲۰۰۹ ښوونیز کال کی د محصلینو په عمومي شمیر کې نږدې ۹ سلنه زیاتوالی د ۲۰۰۷/ ۲۰۰۸ کلونو په پرتله راغلی دی چې له ۵۶۴۵۱ څخه ۶۱۳۷۵ تنو ته زیات شوی دی.[55] د یادولو وړ ده چې د هلکانو او نجونو محصلانو په شمیر کې په دواړو کې زیاتوالی لیدل کیږي خو د ښځینه محصلانو په شمیر کې ۲۱.۹ سلنه زیاتوالی د هلکانو په پرتله چې ۵.۸ سلنه وو، ډیر د پام وړ دی. دغه شمیر تر یوه کال د مخه شمیر څخه هم ډیر لوړ وو، چې د ښځو د شاملیدو کچه ۱۶.۲ سلنه ته او د هلکانو د داخلیدو کچه ۱۴.۱ سلنه ته ختلې وه. دغه شمیرې ډیرې هڅوونکې بریښي، که څه هم په ۲۰۰۹/ ۲۰۱۰ ښوونیز کال کې د ښځینه محصلانو سلنه د ټولو محصلانو په جمله کې ۱۹.۹ وه، چې په دولتي پوهنتونونو کې د جنسیت په لحاظ اصلاحات لازمي ګڼي. په دې برسیره دغه سلنه یو منځني حد څرګندوی او ځینې موسسې لکه د کندهار پوهنتون د ښځو محصلانو یوه ډیره لږه اندازه داخلوي. د کندهار د پوهنتون د ښځینه محصلانو شمیر یوازې ۳.۶ سلنه ده چې د دې په مقایسه په هرات کې دغه شمیر ۳۳.۹ سلنه ده. دغه توپیرونه څرګندوي چې د جنسیت پر اساس ویش او توپیر په ټول هیواد کې یو شانته نه دی او څرګندوي چې ښايي د لوړو زده کړو لپاره د ښځو د هڅوونې لپاره بیلا بیلې لارې چارې کارول شوې وې.

د ښځینه زده کوونکو شمیر یوازنی وسیله نه ده چې د پوهنتون په جوړښت کې د جنسیت پر بنسټ د موازینې اټکل وکولای شو. وزارتونه او د پوهنتون ادارې د ښځینه استادانو او کارمندانو شتون ډیر مهم ګڼي. سره د هغو زیاتو خنډونو چې افغاني ښځو د لوړو زده کړو په لار کې په تاریخي لحاظ لیدلی دي، په افغانستان کې په پوهنتونونو کې ښځینه استاداني اوس هم کار کوي. په نا امنه سیمو لکه کندهار کې د ښځینه استادانو شمیر لږ دی، خو په عمومي ډول په دولتي پوهنتونونو کې د ښځینه استادانو شمیر د ټولو استادانو له جملې څخه ۱۴.۷ سلنه دی.[56] دغه سلنه په تیرو درېو کلونو کې په نسبي ډول ثابته پاته شوې ده.

د افغانستان په پوهنتونونو کې د ښځینه کارمندانو په اړه چې استاداني نه دي شمیرېږي نشته، خو زموږ څیړنې وښودله چې دغه سلنه لا تر اوسه هم ډیره ټیټه ده چې د بدخشان په پوهنتون کې دغه سلنه ۱.۷ او د بلخ په پوهنتون کې بیا ۳۲.۵ سلنې ته رسیږي. د پوهنتون ډیرو اداري مسوولینو وویل چې د دوي یو هدف دا دی چې د ښځینه استادانو، اداري کارمندانو او زده کوونکو شمر زیات کړي. ځینې پوهنتونونه په دې هدفونو کې له نورو څخه وړاندې وو.

د کندهار پوهنتون تر تېر کال پورې ښځینه کارمنداني نه درلودې، خو دوي وویل چې ۶ تنه ښځینه کارمنداني یې ګمارلې دي. په کندهار کې یوې ښځینه کارکوونکې موږ ته وویل چې په پوهنتون کې د کار کولو یوه انګیزه دا وه چې پوهنتون دوی ته دغه فرصت ور کړی دی چې خپلې لوړې زده کړې هم پر مخ یوسي. د هرات پوهنتون تر ټولو زیات زیار ایستلی دی چې د ښځینه زده کوونکو شمیر زیات کړي، او د ښځینه استادانو، کارمندانو او زده کوونکو لپاره یې وړکتون، د ډوډۍ خوړولو جلا ځایونه او تشنابونه برابر کړي دي.

په عمومي ډول ښځینه کارمندانو چې مرکې ورسره وشوې داسې احساسوله چې د پوهنتون شهرت په دې پورې تړلی دی چې ایا کارکول هلته اسانتیاوې او د ښځو لپاره د ډوډۍ خوړلو، استراحت کولو ځایونه، تشنابونه او نورې اسانتیاوې لري او که نه. نږدې ټولو ښځینه کارمندانو چې موږ مرکې ورسره وکړې وویل چې له دوی سره په عمومي ډول د نارینه وو په پرتله یو شانته چلند کیږي. یوازنی توپیر هغه په معاشونو کې لږ تفاوت شته چې نارینه کارمندان لږ څه تر ښځینه

---

ځای پیدا کړي.

[55] احصاییوی او نور په دې پراګراف کې شامل معلومات له (د افغانستان اسلامي جمهوریت د مرکزي احصایې دفتر ۲۰۱۰: ۴۵) څخه را اخیستل شوي دی.

[56] (د افغانستان اسلامي جمهوریت د مرکزي احصایې دفتر ۲۰۱۰)

کارکوونکو زيات معاشونه اخلي، که څه هم موږ په دې ونه توانيدلو چي ايا دغه توپير د جنسيت پر بنسټ د تبعيض له امله دی او که د کار د لايحي له امله موجود دی. په کندهار کي ښځنيه کارمندانو وويل چي د دوي مياشتنی معاشونه بايد له ۳۰۰۰ افغانيو څخه ډير شي ځکه چي دغه معاش د دوي د ترانسپورت او تليفون مصرف هم نه پوره کوي. حتی د لوړو زده کړو د وزارت چارواکو وويل چي د دوي د کارمندانو مياشتني معاش له ۳۰۰۰ افغانيو څخه تر ۴۵۰۰ پورې ډير لږ دی او د ښځينه کارمندانو د جلبولو په لار کي يو خنډ دی.

د لوړو چارو د وزارت سره د ښځينه کارمندانو شمير هم ډير اهميت لري. د لوړو زده کړو د وزارت د چارواکو په وينا ښځي د رئيسانو په توګه هم کار کوي. د دې وزارت په کارمندانو کي ۱۰۶ تنی ښځي دي چي د ټولو ۵۹۱ تنو کارمندانو له جملي څخه ۱۸.۸ سلنه جوړوي.

له ۲۰۰۳ کال راهيسي په ټول هيواد کي يو شمير شخصي پوهنتونونه پرانستل شوی دی، چي ډير يي په کابل او شاو خوا سيمو کي موقعيت لري. په ۲۰۰۸/ ۲۰۰۹ کلونو کي ۷ شخصي د لوړو زده کړو موسسي ثبتي شوې وي خو په ۲۰۰۹/ ۲۰۱۰ کي د افغانستان د حکومت له خوا ۱۲ داسي موسسي په رسميت پيژندل شوي وی، لکه څنګه چي د افغانستان د ۲۰۰۹/ ۲۰۱۰ کلنی احصائيه ښودلي ده. ځيني نور دغه شمير له دې څخه هم لوړ ګڼي.[57] د لوړو زده کړو د وزارت يوه مرستيال ځيرنيزې ډلي ته وويل چي اوس مهال په افغانستان کي ۴۷ شخصي پوهنتونونه فعاله دي (جون ۲۰۱۱) او په ۲۰۱۰ کي د دغو پوهنتونونو شمير ۳۴ ته رسيده. د وزارت له چاراکو، د پرمختيايي پروژو تمويلوونکو او په افغانستان کي د ښووني د سيستم له برخه والو سره مرکو وښودله چي د لوړو زده کړو خصوصي موسسي په چټکی سره ډيريږي، چي ښوونکی له ګاونډيو هيوادونو لکه هند او پاکستان څخه راځي. ځيني زده کوونکي دغه يو فرصت ګڼي چي خپلو زده کړو ته ادامه ورکړي، که څه هم دوی د کانکور په ازموينه کي ښې نتيجې نه دی تر لاسه کړي چي د خپلې خوښي پوهنځي ته ولاړ شي. ځيني نور کسان سره د پرمختيايي چارو او د وزارت چارواکي بيا د دې انديښنه لري چي د درسونو کيفيت د زده کړو په خصوصی موسسو کي ښه نه دی او زده کوونکي او د دوي کورنی ډير لوړ فيس هم ورکوي.

د ځينو مهمو برخه والو په نظر چي موږ ورسره خبرې کړي دي، خصوصي لوړې زده کړې پرمخ ځي. په ۲۰۰۸ کال کي ۲۳۱۸ تنه محصلين د لوړو زده کړو په خصوصي موسسو کي شامل وه، دغه شمير په ۲۰۰۹/ ۲۰۱۰ کي ۷۰۴۶ تنو ته لوړ شو.[58] سره د دې هم د هلکانو شمير په دې محصلانو کي بيا هم زيات دی چي په ۲۰۰۹/ ۲۰۱۰ کي د ښځينه محصلانو شمير ۱۲ سلنه (۸۴۸) ته رسيده چي په حقيقت کي دغه شمير د ۲۰۰۸/ ۲۰۰۹ کال په پرتله لږ وو. په دې کال کي د ښځو شمير ۱۵.۱ سلنه (۳۵۴) وو.[59]

په ۲۰۰۹/ ۲۰۱۰ کي د ښځينه استادانو سلنه په خصوصي پوهنتونونو کي ۱۲.۴ سلنه وه، چي د ۲۰۰۸/ ۲۰۰۹ کال د ۸.۶ سلني په پرتله زياتوالی ښيي.[60] د خصوصي پوهنتونونو د څو تنو اداره کوونکو کسانو سره مرکو څرګنده کړه چي د ښځينه استادانو شمير کم دی ځکه دوي استادان له ګاونډيو هيوادونو څخه استخدام کړي دی او يوازې محدود شمير ښځي دغه خطر مني چي افغانستان ته راشي.

---

[57] په دې کي دا پوهنتونونه شامل دي: د مولانا جلال الدين محمد بلخي لوړې زده کړې، باختر لوړې زده کړې، ميوند لوړې زد کړې، د افغانستان امريکايي پوهنتون، خاتم النبيين لوړې زده کړې، سعادت لوړې زده کړې، رنا لوړې زده کړې، خاوران لوړې زده کړې، سلام لوړې زده کړې، کاردان لوړې زده کړې، کاتب لوړې زده کړې، پيشګام لوړې زده کړې. دغه هغه رسمی لست دی چي د افغانستان د ۲۰۰۹- ۲۰۱۰ کلنی احصائيه کي راغلی دی. د دغو موسسو څخه ډيرې ځانته پوهنتون وايي، نو ځکه غير معمولی نه ده چي خلک د کاردان د لوړو زده کړو موسسی ته د کاردان پوهنتون وايی. (د افغانستان اسلامي جمهوريت د مرکزي احصايي دفتر ۲۰۱۰: ۳۶).

[58] (د افغانستان اسلامي جمهوريت د مرکزي احصايي دفتر ۲۰۱۰: ۴۴)

[59] (د افغانستان اسلامي جمهوريت د مرکزي احصايي دفتر ۲۰۱۰: ۴۴)

[60] (د افغانستان اسلامي جمهوريت د مرکزي احصايي دفتر ۲۰۱۰: ۴۴)

لکه څرنګه چې لیدل کیږي په اوس وخت کې د لوړو زده کړو سکتور ډیر فعال بریښي او په دولتی او خصوصي پوهنتونونو کې ډیر شمیر محصلین داخلیږي.

### د لوړو زده کړو پالیسګانی

لوړې زده کړې د افغانستان په ملي پرمختیایي ستراتیژي کې له اتو مهمو ستونو څخه یو ستون دی، چې د افغانستان د حکومت لپاره ډیر ارزښت لري. دغه ملي پرمختیایي پلان له ډیرو برخه والو سره یو ځای، چې د هیواد په پرمختیا کې برخه لري، لیکل شوی او په ۲۰۰۶ کې بشپړ شو.

### د لوړو زده کړو ستراتیژیک ملي پلان

د لوړو زده کړو د وزارت ملي تعلیمی ستراتیژیک پلان چې له ۲۰۱۰ څخه تر ۲۰۱۴ کلونو پورې موده رانغاړي د یونسکو د ښوونیزو پلانونو د نړیوال انستیتوت له خوا پیل شو.[61] دغه پلان د لوړو زده کړو د ډیرو برخه والو په مرسته تیار شوی دی. پلان دوه مهم پروګرامونه لري. د لومړی پروګرام هدف دا دی چې "کارپوه او تعلیم یافته کسان وروزي چې د افغانستان ټولنیز اقتصادي پرمختیایی اړتیاوو ته ځواب وویل شی؛ د تدریس زده کړې او د څیړنې فعالیتونه تقویه کړي، او ملت او ټولنې ته ښه خدمتونه وړاندې کړي." دویم پروګرام په نظر کې لري چې "د لوړو زده کړو یو همغږي سیسټم تنظیم او رهبري کړي چې پوهنتونونه، انستیتوتونه، او د ټولنې کالیجونه په کې شامل وي، چې د ښه کیفیت لوړو زده کړو لپاره وقف شوې وي."

په دې سند کې ښځو ته یو څو اشارې شوې دي. د لوړو زده کړو وزارت هدف لري چې تر ۲۰۱۴ د مخه د لوړو زده کړو د ټولو محصلینو له شمیر څخه ۳۰ ٪ باید ښځې وي. د دې مانا دا ده چې د ۱۱۵۰۰۰ تخمیني محصلینو څخه باید ۳۴۵۰۰ تنه یې ښځې وي، چې د ۲۰۱۰ کال به پرتله لوړ هدف دی، ځکه په دې کال کې یوازې ۱۲۰۰۰ تنه ښځې محصلانې پوهنتونونو ته داخلې شوې دي. که څه هم د دې شمیر د هڅولو په اړه کافي او مفصل معلومات نشته، خو څرګندوی چې د پوهنتون په لیلیو کې به ښځو ته د لومړیتوب حق حاصل شي. که څه هم څرګنده نه ده چې دغه هدف به څنګه ترسره شي، ځکه چې ټول د اوسیدلو ځایونه د جنسیت پر بنسټ ویشل شوی دی او داسې کومې نښې نښانې نشته چې د هلکانو لیلیې د نجونو په لیلیو بدلې شي او داسې کوم پلان هم نشته چې د نجونو لپاره نورې لیلیې جوړې شي او د څیړنې ډلې ته هغه معلوم وي، البته د هرات پوهنتون له دې حالت څخه بیل دی.

د لوړو زده کړو ملی ستراتیژیک پلان څرګندوي چې د سازمانونو په دننه کې د جندر یوه څانګه ایجاد شوې ده او دنده یې دا ده چې "په جندر پورې تړلې مسئلې سره شریکې کړي." ښایي همدغه څانګه به د ښځو لپاره د پوهنځیو او د ښځینه استادانو د زیاتولو یو مثبت پلان تیار کړي چې تمه کیږي د ۲۰۱۴ کال څخه د مخه بشپړ شي. په داسې حال کې چې ستراتیژیک پلان څرګندوي چې د لوړو زده کړو وزارت په لوړو زده کړو کې د ښځو د ونډې د زیاتولو نیت لري، خو پلان داسې مشخص اقدامات نه لري چې څنګه وکولای شي دغه پلان به عملي کړي. دوي وایي چې ښایي اصلاحي ګامونه اوچت کړي لکه یو ګټور عمل، د زده کړې د کورسونو فیس، مالي مرستې او مشورتی خدمتونه چې له ګوښه شویو کسانو، بې وزلو او ښځو سره مرسته وکړي، خو په دی برخه کی کوم مشخص پلانونه ندي معرفي شوي. د دې یادونه هم شوې ده چې د غیابي زده کړو پروګرام جوړوي تر څو هغو ښځو او نورو ته د زده کړو فرصت برابر کړي چې نه شي کولای د لوړو زده کړو موسسو ته ورشي، خو دغه پروګرام په راتلونکي کې یوازې د یوه امکان په څیر لیدل شوی دی.

---

[61] لوړې زده کړې د افغانستان د ملي پرمختیایي ستراتیژي له اتو مهمو ستونو څخه یو ستون دی.

## د افغانستان د ښځو لپاره ملی کاری پلان

د ښځو د چارو وزارت له یونیفیم سره یو ځای د افغانستان د ښځو لپاره د ملي کاری پلان په جوړولو کې ډېره لویه ونډه درلوده.[62] دغه پلان د جندر پورې تړلو مسئلو د تقویې یوه پالیسي ده چې په ټولو حکومتي ادارو کې د تطبیق وړ ده. د ښځو چارو وزارت، د یوی غیر تطبیق کوونکې اداري په څېر په معمولی ډول د هغو پالیسیو په عیارولو، بدلولو او جوړولو کې کار کوي چې په افغانستان کې په عمومي ډول، د لوړو زده کړو په ګډون ښځې تقویه کوي. د لوړو زده کړو وزارت یو له څو وزارتونو څخه دی چې د ښځو چارزو وزارت ته بلنه ورکوی چې د دوي په پروګرامونو او پروژو باندی بحث ورسره وکړي. دوي د لوړو زده کړو وزارت ته مشورې ورکوی چې څنګه داسې پروژې پلان کړي چې د جندر په لحاظ برابر ارزښت ولري او مساوات او برابري تقویه کړي.

د افغانستان د ښځو لپاره ملي کاری پلان هم د ښځو لپاره لوړې زده کړې په نظر کې لري او داسې هدفونه یې ټاکلی دی چې په پوهنتونونو کې باید د ښځو د داخلیدو کچې ۵۰ سلنه لوړه شي.[63] دوي غواړي چې ښځې په داسې پوهنځیو کې شاملې شي چې پخوا د جندر په لحاظ بې پلوه وي لکه تعلیم او تربیه او طب. او داسې رشتو ته مخه کړي چې ښځې په لږ شمیر هلته ورځې لکه ژورنالیزم، تجارت او د کمپیوټر علوم.[64] هغه هدفونه چې دوی ځانته ټاکلی وه لکه د ښاري او کلیوالي ښځو لپاره لوړو زده کړو ته لاس رسي، د زده کړو په وړاندې د خنډونو لیرې کول لکه وختي ودیدل، جنسي تهدید او فزیکي لارس رسي، د زده کړو په ټولو درجو کې د ښځو او نارینه وو ترمنځ د برابری رامنځ ته کول، د لومړنیو ښوونځیو له زده کوونکو څخه نیولی د لوړو زده کړو د وزارت د رئیسانو تر حده پورې راوستل او د ښوونکو د روزنې تقویه کول.

د لوړو زده کړو وزارت د مخکني پلان په خلاف، د افغانستان د ښځو لپاره د ملي کاری پلان ځینې عملي ګامونه وړاندې کوي، که څه هم موږ ته په دې اړه چې دغه ګامونه اوس اوچت شوي دي، لږ معلومات لاس ته راغلي دي. لومړی ګام دا وو چې یو ګټور عملي پروګرام تطبیق کړی څو ښځې دې ته وهڅول شي چې ښوونکې وګرځي او لوړ معاشونه او د روزنې نور فرصتونه تر لاسه کړي. دوی وویل چې دغه مثبت پلان تر هغو پورې باید دوام پیدا کړي چې ۵۰ ٪ ښوونکې ښځینه وی او ښځې دې ته وهڅول شي چې خپلو زده کړو ته ادامه ورکړي.[65] دغه راز د دغه پروګرام یادونه هم وشوه چې ښځې له ښوونځیو پرېښودلو څخه منع کړي، خو په دې اړه نور تفصیلات نه وه چې په دغه پروګرام کې څه شي شامل دی او یا باید شامل وي.[66] یوه کاري ډله د ترانسپورت او هوانوردي د وزارت په ګډون جوړه شوې څو د زده کړو په ټولو پړاوونو کې د ښځو د ترانسپورت لپاره تر ټولو ښې لارې پیدا کړي، که څه هم دغه پروګرام تر څېړنې لاندې دی خو په یوه پوهنتون کې هم په داسې یوه پلان نه وو بدل شوی چې له مخې یې د ترانسپورت چارې تنظیم شي.[67] د لوړو زده کړو په سطحه د افغانستان د ښځو لپاره ملي کاری پلان د دې غوښتنه کوي چې په هر پوهنتون کې د ښځو لپاره میلمستون او لیلیې جوړې شي.[68] لکه څنګه چې وروسته به په تفصیل سره وویل شي. د امریکا نړیوالی پرمختیایی اداری په کابل کې څو کاله د مخه د ښځو یوه لیلیه جوړه کړې ده او د هرات پوهنتون اوس مهال داسې یوه لیلیه جوړوي. دغه پورتنې سند دغه راز د ښوونځیو جوړول په نظر کې لري چې د ښځو د جنسي زورونې او له ښځو سره د خشونت مسئلې هوارې کړي.[69] په پای کې د ښځو

[62] (افغانستان ۲۰۰۷)
[63] (افغانستان ۲۰۰۷: ۸۵)
[64] (افغانستان ۲۰۰۷: ۸۷)
[65] (افغانستان ۲۰۰۷: ۸۷)
[66] (افغانستان ۲۰۰۷: ۸۷)
[67] (افغانستان ۲۰۰۷: ۸۸)
[68] (افغانستان ۲۰۰۷: ۸۸)
[69] (افغانستان ۲۰۰۷: ۸۸)

لپاره ملي کاری پلان له حکومت څخه غوښتنه کوی چې د ښځو لپاره د زده کړو د اهمیت په اړه یو ملي کمپاین پیل کړي.[70] چې د پیل کیدو نښې او ثبوت یې موجود دی او په تفصیل سره به پرې خبرې وشي.

## کارونه او فعالیتونه

د افغانستان د ملي پرمختیایي ستراتیژي او د ښځو لپاره د ملي کاری پلان سره سم د لوړو زده کړو وزارت د خپلو پلانونو او مثبتو پالیسیو په عملي کولو پیل کړی دی څو زیات شمیر ښځې دې ته وهڅوي چې پوهنتونونو ته ولاړې شي. د لوړو زده کړو د وزارت یوه لوړ پوړی چارواکي وویل چې له کلیوالی سیمو څخه د ښځو لپاره د کانکور په ازموینه کې د ۱۵ نمرو رعایت ورکول کیږی څو دوي پوهنتون ته لاس رسي پیدا کړي. هغه وویل چې په دې پریکړې سره اضافي ۱۰۰۰ تنه ښځینه زده کوونکي په ټول هیواد کې پوهنتونونو ته شاملې شوي دي. ده دا هم وویل چې د لوړو زده کړو وزارت له ښځو سره مرسته کوی چې زیاتې نمرې یوسي څو بورسونه تر لاسه کړي، که څه هم ده په دې اړه په تفصیل سره نور څه ونه ویل.

د لوړو زده کړو وزارت په دې لټه کې دی چې د هلکانو او نجونو لپاره د لوړو زده کړو کیفیت او کمیت ښه کړي او په عین وخت کې دغه وزارت هڅې کوي چې په پوهنتونونو کې د ښځینه استادانو شمیر زیات شي او د دوي توانایي نوره هم ښه شي. د لوړو زده کړو وزارت یوازنۍ مرجع ده چې د استادانو لپاره په بهرنیو هیوادونو کې د لوړو زده کړو په اړه معلومات ورکوی چې خپله تعلیمي سویه لوړه کړي. په ۲۰۰۸ کې د پوهنتون له استادانو څخه یوازې ۵.۵ ٪ د دوکتورا درجې تحصیلات درلودل، ۳۰.۷ ٪ د ماسټري تحصیلات کړی وو او پاتې ۶۳.۸ ٪ یوازې د لیسانس درجې زده کړې کړې وي.[71]

په بهرنیو هیوادونو کې زده کړې اکثریت مطلق د نارینه وو له خوا ترسره کیږي. د پوهنځیو د کارمندانو، ښځینه او نارینه استادانو او د وزارت د کارمندانو په باور د دې کار لامل دا دی چې ښځې بهرنیو هیوادونو ته په سفر کې ستونزې لري ځکه چې دوي یا کورني مسوولیتونه لري او یا د دوی کورنۍ اندیښني څرګندوی چې ښځینه غړي یې په خپله یوازې بهرنیو هیوادونو ته ولاړې شي. د دې لپاره چې دا مسئله هواره شي، د لوړو زده کړو د وزارت د لوړو زده کړو ملي ستراتیژیک پلان ۲۰۱۰- ۲۰۱۴ وایي چې په داخل د افغانستان کې به د ماسټري درجې کورسونه برابر کړی څو دواړو نارینه او ښځینه استادانو ته د دې فرصت پیدا شي چې خپلو مهارتونو او پوهې ته ارتقا ورکړی او په دې ډول د خپل تدریس کیفیت چې دوی یې په پوهنتون کې ورکوي ښه کړي. د ماسټري لومړی پروګرام (د تعلیم او تربیې) په برخه کې په کابل پوهنتون کې په ۲۰۰۸ کې د لوړو زده کړو د پروژې له خوا پرانیستل شو. په دې پروګرام کې ۵۰ ٪ ښځینه استادانې شاملې دي. تر اوسه پورې له کابل پوهنتون څخه ۴۴ تنه فارغ شوي دي. د کابل د تعلیم او تربیې په پوهنتون کې به په راتلونکو دریو کلونو کې د انګلیسي ژبې د ماسټري پروګرام پیل شي چې د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت له خوا د ۳.۵ میلیونه ډالرو مرسته ورسره کیږي.[72]

په دې برسیره، د افغانستان د ښځو لپاره ملي کاری پلان وایي چې ښځې باید د تعلیم په ټولو کچو کی د پالیسي د کچې په شمول ګډون ولري، لکه څنګه چې د دې څیړنې په موده کې ښځې د پوهنځیو د مشرانو او مرستیالانو په کچه کی شاملې وې. د لوړو زده کړو وزارت وایي چې دوی ښځې دې ته هڅوي چې پوستونه احراز کړي او د دوي لپاره د کار مناسب ساعتونه برابروي چې هم کار وکړي او هم د خپلو کورنیو څخه سرپرستي و کړی. د ثانوي تدریساتو مشر وایي چې دوی

---

[70] (افغانستان ۲۰۰۷: ۸۸)
[71] (د افغانستان اسلامی جمهوریت د لوړو زده کړو وزارت ۲۰۰۹)
[72] (یو پي آی ۲۰۱۱)

ښځينه او نارينه کارمندان په برابره اندازه استخداموي. د معارف د وزارت د پلان رئيس وويل چي د ابتدائی ښووني رئيس يوه ښځه ده او د ليک لوست د زده کړی د ولايتونو رئيس هم يوه ښځه ده. ده وويل: "موږ پلان لرو چي په راتلونکی کي د ښځينه کارمندانو شمير زيات کړو." که څه هم ده په دې اړه څه ونه ويل چي دغه کار به دوی څنګه سرته رسوي.

د لوړو زده کړو وزارت د دې هڅه هم کوی چي ښځي په دې وزارت کي د پوستونو د احراز لپاره وهڅوي. په تأسف سره ددې وزارت ښځينه غړو د ګروپی مباحثو په غونډه کي وويل چي دوی احساس کوي چي په پوهنتون کي ارزښت نه ورکول کيږي. "موږ داسي احساس کوو چي دلته سمبوليک حيثيت لرو. داسي معلوميږي چي زموږ موجوديت دلته هدف نه وو، خو اوس چي موږدلته يو دوي بايد له موږ سره سازش وکړي." دوي وويل چي وزارت له دوی سره مرسته نه کوي او احساس کوی چي موجوديت يي دلته سمبوليک ارزښت لري. دوي وويل، سره د دې چي د ښځو لپاره د جدا تشنابونو، مسجدونو او د ډوډۍ خوړولو ځايونو غوښتنه يي کړي ده خو تر اوسه يي يوه غوښتنه هم نه ده منل شوي. په دې برسيره دوي وويل چي د نارينه استادانو لپاره زياته اضافه کاري ورکول کيږي، ځکه نارينه داسي انګيرل کيدل چي د خپلو کورنيود نفقي د برابرولو لپاره يوازني کسان دي، بې له دې چي په دې وپوهيږي چي دغه حالت د ځينو ښځو لپاره هم ربښتيا دی. کله چي دوي پوښتنه کړې ده چي ولي اضافه کاري نه ورکول کيږي، په ځواب کي ورته ويل شوي چي د ښځو لپاره تر ناوخته کار کول د امنيت په لحاظ ستونزې لري. دغه دليل د ښځو په باور يوازې يوه پلمه ده.

کله چي پوښتنه وشوه چي دلوړو زده کړو په وزارت کي د ښځو لپاره کوم پوستونه شته دی، ښځيو موږ ته وويل چي په رسمی ډول ټول پوستونه د ښځو په وړاندې خلاص دي، خو دوي د ښځو لپاره دغه اسانتيا نه برابروي چي په دې وزارت کي د لوړ پوست غوښتنه و کړي، دوی وويل چي دوي هيله مني دي چي ښځي به ژر وکولای شي په وزارت کي داسي پوستونه احراز کړي چي پريکړې و کولای شي، او ډيرې ښځي به مشراني او مرستيالاني شي. دوي دغه راز وويل چي په وزارت کي د جندر د مسئلو د پوهاوي لپاره بايد روزنيز پروګرامونه عملي شي. يوازنی احصائيه چي د لوړو زده کړو د وزارت د کارمندانو په اړه موجوده ده، هغه د ۱۹۸۸ کال احصائيه ده چي ۴۳ ٪ د دې وزارت کارمندان ښځي وي او دغه تيوري له اوسنی هغي څخه ډيره لرې ده.[73]

## د پوهنتون د جندر/جنسيت پاليسګانی

د هرات او کندهار پوهنتونونو ويلي دي چي دوي په خپلو پوهنځيو کي د جندر پاليسي لري. د هرات پاليسي د نجونو د ليليي بشپړول، د ښځينه محصلانو د شمير زياتول، د څيړني د يوه مرکز فعاله کول چي مشري به يي ښځه کوي، او د ښځو لپاره د ليسانس درۍ کلن پروګرام په نظر کي لري. د کندهار د پوهنتون پاليسي دومره ښکاره او څرګنده نه ده. د څيړني مرکز يي هڅه کوی چي "له پي آر تي او نړيوالو ډونرانو سره کارونه همغږي کړي څو د امکان تر حده پورې زياتي مالي منابع ترلاسه کړي"، چي په نتيجه کي يي د ښځو لپاره خاصه پاملرنه کيږي. د دې همغږي په برکت د کندهار پوهنتون يو مسجد او د تفريح يوه خونه جوړې کړي دي چي د پوهنتون د ښځو لپاره تلويزيون، د انټرنيټ اسانتياوې، ايرکنډيشن او يخچال لري. په تاسف سره د دواړو پوهنتونونو د نارينه او ښځينه استادانو ترمنځ د دې پاليسي په اړه کافي معلومات موجود نه وه چي د معلوماتو د شريک کولو اړتيايي په ډاګه کړې ده.

د باميان، بلخ او بدخشان پوهنتونونه په خپلو څرګندونو حق درلود چي ويل يي څنګه چي دوي د جندر په نوم خاصه پاليسي نه لري نو له دې کبله د دوي ستراتيژيک پلان د جندر لپاره خاصي ځانګي او يا پروګرامونه نه لري، باميان هڅه کوي چي د ښځو لپاره د کار يو خوندي وړ چاپيريال برابر کړي، او بلخ پلان لري چي د ټولو سرچينو او د ځواکمنو پوستونو ۳۵ ٪

---

[73] (ارنولډ ۱۹۹۴: ۶۰)

يې ټول ښځو ته وقف کړي. د ننګرهار پوهنتون وويل چې دوي د جنډر پالیسي نه لري، خو دوي په نظر کې لري چې د پوهنتون په محصلينو، استادانو او کارمندانو کې د ښځو شمير ۵۰ ٪ ته لوړ کړي. د کابل پوهنتون د څيړنې ټيم ته وويل چې دوي د لوړو زده کړو وزارت ته سترګې په لاره دي چې د جنډر پالیسي بشپړه او دوي بيا هغه تطبيق کړي.

داسې بريښي چې تر څيړنې لاندې په دې اوو پوهنتونونو کې ددې لپاره کافي فرصتونه شته چې د جنډر په اړه عملي او ښه پلان شوې پاليسي تياره شي. په دغه پروسه کې بايد استادان، محصلين او د پوهنتون کارمندان ټول شامل وی څو دوی ټول له هغو سره اشنايي ولري او د زياتو معلوماتو شريک کول يو ضروري کار دی.

## د لوړو زده کړو پرمختيايي پروګرامونه: اوسنی حال او راتلونکی

د طالبانو له نسکوريدو راوروسته، د افغانستان حکومت او بين المللي دونرانو په افغانستان کې ښوونې او تعليم ته زياته پاملرنه کړې ده. په دې برخه کې د مرستو زياته اندازه لومړنيو زده کړو ته وقف شوې ده، خو ډيرې لږ پروژې د لوړو زده کړو په ساحه کې پلې شوې دي. سره د دې هم څو پروژې شته چې د لوړو زده کړو پرمختګ يې هدف ګرځولی دی، خو يوه يې هم يوازې د دې لپاره نه ده وقف شوې چې لوړو زده کړو ته د ښځو لپاره لاس رسي اسانه کړي. د دې کار د لاملونو د پوهيدو لپاره د څيړنې ډلې د ښوونې وزارت، د لوړو زده کړو وزارت او د ښځو چارو په وزارت کې د پروګرام له تطبيق کوونکو او د لوړو زده کړو د پروګرام له مسئولينو سره مرکې کړې دي. دوي له دی ډلې سره د مختلفو پروژو په اړه خبرې کړې دي چې اوس د تطبيق په حال کې دي او يا په راتلونکی کې تر اجرا لاندې دي.

د ښځو چارو وزرات د معارف او د لوړو زده کړو له وزارتونو سره په دوو پالیسيو کار کوی چې د افغانستان د ښځو د ملي کاری پلان سره سمون لري. لومړۍ پاليسي "په ښوونځيو کې د نجونو د شمير زياتول" ده او دويمه يې "په پوهنتونونو کې د ښځو د شمير زياتول" نوميږي. تمه کيږی چې دغه پاليسي به تر يوه کال پورې وغځيږي او د "برابری د سولی او دموکراسی لپاره" په نامه مؤسسی له خوا تطبيق کيږي. په دې برسيره، د ښځو چارو وزارت ويلی دي چې وزارت د پوهاوي د سطحې د لوړولو لپاره ورکشاپونه او کمپاينونه تيار کړی دی چې ښځې د لوړو زده کړو لپاره هڅوي. يو دغه پروګرام "کور په کور" نوميږي. دوزارت کارمندان د خلکو کورونو ته ورځي چې د ښځو د تعليم په اړه له دوی سره خبرې وکړي او د مسجدونو امامان دې ته تشويق کوی چې د ښځو د زده کړو د هڅونې لپاره په مسجدونو کې ويناوې وکړي. په دې برسيره، د ښځو چارو وزارت د تلويزيون له لارې هم پروګرامونه پرمخ بيايي چې د افغانستان د ملي محلي حکومتداري پروګرام دی چې د ملګرو ملتونو له خوا تمويل کيږي او يو شمير محلی غير حکومتي موسسي يې تطبيق کوي.

د لوړو زده کړو پروژه د لوړو زه کړو د پرمختګ په ساحه کې په ټول هيواد کې يوه ستره بريا ده. دغه پروژه د ۵۱ ميليونه ډالرو پروژه ده چې ۵ کاله دوام کوي او د امريکا د متحده ايالاتو د پرمختيايي اداری له خوا تمويل کيږي چې د مرکې په وخت کې تمه کيدله چې د يوه کال لپاره د لسو ميليونو ډالرو په بيه بيا تمديد شي. د پروګرام اصلي هدف دا د ی چې په افغانستان کې د دولتی پوهنتونونو د پوهنځيو د استادانو د کارمندانو ظرفيت لوړ شي. د پروګرام اداره کوونکي فکر کوي چې د نارينه او ښځينه استادانو د ظرفيت د لوړولو پروګرام به د هغو ښځينه استادانو په شمير کې زياتوالی راولي چې د ښه ظرفيت درلودونکي وي.

په دغه کار سره ښځينه محصلانې د لوړو زده کړو لپاره نورې هم هڅول کيږي. پروګرام د انګليسي ژبې او کمپيوټر کورسونه هم لري او د جنډر د برابرۍ او مساواتو په اړه هم ورکشاپونه دايروي. دغه راز، دا پروګرام لوړو زده کړو ته لکه د ماسټرۍ او دوکتورا لپاره د لاس رسي فرصتونه لري، چې د افغانستان د دولتی پوهنتونونو استادان ورڅخه استفاده

کولای شي. دغه زیات پروګرامونه په بهر ملکونو کې وي چې د ښځو شمیر په کې لږ دی. له دې امله د لوړو زده کړو پروګرام په کابل پوهنتون کې د ماسټرۍ پروګرام تیار کړی دی چې لاندې به پرې خبرې وشي.

د دې پروګرام کارمندانو ویلي دي چې د دوي پروګرام لوړو زده کړو ته د ښځو په معرفي کولو مثبته اغیزه درلودلې ده. یوه کارمند وویل چې پخوا به د کندهار پوهنتون ته نږدې لس تنې نجونې داخلیدلې، دغو ښځو به پوهنتون پریښود ځکه چاپیریال د دوي لپاره وړ نه وو، ځکه ښځینه استاداني هلته نه وې. دغو شرایطو اوس بدلون موندلی دی ځکه اوس مهال په دې پوهنتون کې څو تنې ښځینه استاداني فعالیت کوي. د ښځینه محصلانو شمیر اوس زیات شوی دی او زیات شمیر ښځې خپلو لوړو زده کړو ته په پوهنتون کې ادامه ورکوي.

د لوړو زده کړو د تقویې پروګرام په افغانستان کې د لوړو زده کړو په برخه کې تر ټولو ستر پروګرام دی. دغه پروګرام د ۴۰ میلیونه ډالرو په لګښت د نړیوال بانک له خوا تمویل کیږي چې د افغانستان د ملي پرمختیايي ستراتیژۍ سره سم طرح شوی دی او د لوړو زده کړو د وزارت همکاري ورسره ده. دغه پروګرام د پوهنتون د استادانو د ظرفیت په لوړولو، د لیلیو، کتابتونونو او نورو ودانیو په جوړولو او بیا ودانولو د افغانستان په شپږو پوهنتونونو کې زور اچولی دی. په دې برسیره، پروګرام له هغو پوهنتونونو سره چې د جندر مسئلې ته په خپلو فعالیتونو کې ځای ورکوي په یوه نوي ستراتیژیک پلان کار کوي. پروګرام په نړۍ کې له ډیرو پوهنتونونو سره اړیکې لري او د افغانستان د پوهنځیو لپاره سکالرشیپونه برابروي چې لوړې زده کړې وکړي او خپلو مهارتونو ته لوړتیا ورکړي. څرنګه چې ښځې بهرنیو هیوادونو ته په سفرونو کې ستونزې لري چې هلته لوړې زده کړې وکړي، دوي په دې لټه کې وو چې د دې ستونزې د هوارولو لپاره لارې چارې پیدا کړی او ښایي په داخل کې داسې ډول فرصتونه زیات کړي، لکه څنګه چې د لوړو زده کړو پروګرام کړی دي.

په دې سربیره، روسیې د پنځو میلیونو ډالرو مرسته له پولي تخنیک سره کړې ده او امریکا د راتلونکو ۵ کلونو (۲۰۱۰-۲۰۱۵) لپاره د لوړو زده کړو سره د ۲۰۰ میلیونه ډالرو مرستې کوي.[74]

د لوړو زده کړو ځینې وړې پروژې هم شته. د واشنګټن دولتي پوهنتون د افغان د برابري اتحادیې پروژه تطبیق کوي چې د پوهنتون د استادانو او محصلانو د ظرفیت په لوړولو زور اچوي.[75] دغه راز دغه پروژه تعلیمي نصاب ته هم پراختیا ورکوي. جرمني د معلوماتي تکنالوژۍ او د اقتصادي ښوونې په برخه کې مالي مرستې کوی او افغان محصلانو ته بورسونه ورکوی چې په جرمني کې لوړې زده کړې وکړي. فرانسه د فرانسوی ژبې تعلیم تمویلوي او هند د تعلیم او تربیې په برخه کې زیات شمیر بورسونه برابروي.

د امریکا د متحده ایالاتو نړیواله پرمختیایي اداره په ۲۰۰۴ کې په کابل کې د نجونو د لیلیې په جوړولو کې مرسته کړې ده.[76] دغه لیلیه ۱۱۰۰ تنې ښځې ځایوي، چې په طب پوهنځي، تعلیم او تربیې پوهنتون، پولی تخنیک او په کابل پوهنتون کې په تحصیل بوختې دي. دوی د لیلیې د مراقبت او ادارې لپاره پانګه ورکړې ده او محصلانو ته د دریو کلونو لپاره د ډوډۍ لګښت هم ورکوي. د جاپان د پنځو ښځینه پوهنتونونو اتحادیې له ۲۰۰۲ راهیسې افغاني ښځینه استادانو ته د ظرفیت د لوړولو روزنه ورکوي.

یونسکو هم د لوړو زده کړو په چارو کې مصروفه ده، که څه هم د دوي پانګه له ۶۰۰۰۰ څخه تر ۷۰۰۰۰ ډالرو پورې

---

[74] (نیمتسوا ۲۰۱۰)
[75] د لوړو زده کړو وزارت ویاند وویل چې ۱۲ افغاني پوهنتونونو د نړۍ له نورو پوهنتونونو سره د همکارۍ اړیکې لري چې د افغانستان پوهنتونونه تقویه شي. موږ ته په دې اړه نور معلومات لاس ته نه دي راغلي.
[76] (د امریکا د متحده ایالاتو نړیواله پرمختیایي اداره ۲۰۰۵)

رسيږي. دغه پروژه د لوړو زده کړه په وزارت کې د داخلي ظرفيت د لوړولو پروژې دي. دغه پروژې د وزارت د معلوماتو د اداري له سيستم سره مرسته کوی او له دې سره مرسته کوی چې په ستراتيژيک پلان کې د جندر مسئلې شاملې کړي. دغه راز يونسکو د عمومي زده کړو او ليک لوست د پروګرامونو سره بوخته ده، چې د ښځينه او نارينه شاګردانو په شمير کې زيات والی راولي چې ښايي په ليسو کې بريالي را ووځي. دغه راز دوی د لوړو زده کړو په وزارت، د ښوونې وزارت او د کليو د پراختيا او بيا ودانولو په وزارت کې د جندر د پاليسي په طرح کې هم نقش لري. دغه راز د غير حکومتي موسسو، اشخاصو او د نورو له خوا د بورسونو واړه پروګرامونه هم شته. د خالد حسيني بنياد، چې د افغانستان په باب د يو څو ناولونو د ليکوال له خوا تاسيس شوي دی، د يو شمير محدودو نجونو لپاره بورسونه برابروي چې د امريکا په پوهنتونونو کې زده کړې وکړي لکه څنګه چې د افغاني ښځو د زده کړې نوښت پروګرام يې کوي. دغه پروګرام په امريکا کې له ۳۳ ښځينه محصلانو سره مرسته کړې ده. په ۲۰۰۸ کې د افغاني نجونو لپاره د مالي مرستې پانګه تاسيس شوه او له ۱۱ نجونو سره يې د محلي کورنيو په همکاري مرستې کړې دي چې امريکايي پوهنتونونو ته ولاړې شي.

په دې سربيره، د ملګرو ملتونو د محلي او بين المللي غير حکومتي موسسو او نورو له خوا د عمومي تعليماتو پروګرامونه شته، چې نجونې هڅوي تر څو په لومړنيو او ثانوي ښوونځيو کې پاتې شي. د ښځو د چارو په وزارت کې د اشخاصو په وينا، د ملګرو ملتونو د نړيوال خوراکي پروګرام له خوا، "خواړه د تعليم لپاره" پروګرام تر ټولو اغيزناک پروګرام دی. د دې پروګرام له خوا زده کوونکو ته د زده کړو په بدل کې خواړه ورکول کيږي. د لومړنيو او منځنيو زده کړو پروګرامونه د غير حکومتي موسسو لکه پاملرنه، ايس سی آی، سی ار ايس، افغان مرکز، او نورو له خوا پرمخ بيول کيږي.

د لوړو زده کړو د پروژو يو شمير تطبيق کوونکي فکر کوی چې د لوړو زده کړو د برخه والو ترمنځ ښه همغږي نشته. دوي په دې باور دي چې د لوړو زده کړو په وزارت کې يو مناسب ميکانيزم نشته او د دونرانو ترمنځ همغږي هم وجود نه لري. دوي په دې هم باور لري چې د لوړو زده کړو وزارت د خپلو ستراتيژيکو پلانونو لپاره تمويل کوونکي نه دي پيدا کړي، لکه څنګه چې د ۵۵۰ ميليونه ډالرو هدف يې تر لاسه نه کړ کوم چې د ۲۰۰۹ کال په ستراتيژيک پلان کې د ضرورت په حيث پيژندل شوی وو. يو دونر د دغه کار لامل په دې کې وينې چې دونران له داسې پروژو سره ليوالتيا لري چې ډير ژر نتيجه ورکړي، ضرور نه ده چې د اوږدې مودې پروژې وي، چې د لوړو زده کړو په وزارت کې ډير شمير د لنډې مودې پروژې ليدل کيږي.

سره د دې هم، د لوړو زده کړو پروژی په قول هغه بيلا بيل سازمانونه چې په افغانستان کې د لوړو زده کړو سره بوخت دي په منظم ډول په خپلو کې همکاري لري. دوي د دې کار لامل په دې کې ويني چې د لوړو زده کړو پروژې په شمير کې لږ دي او د پوهنتون سکتور هم محدود دي. د لوړو زده کړو پروژه، د لوړو زده کړو د وړو پروژو سره مرسته کوی چې د محصلانو د شمير د ثبت چارې تنظيم کړي، دوی د محصلانو لپاره په خدمتونو په ګډه کار کوي لکه حرفوي مشورې او همدارنګه د کيفيت د ښه کولو په غرض موجوده سيستم د کريډيټ په سيستم اړوي. د لوړو زده کړو پروژه د افغان برابري اتحاديې پروژی سره يو ځای کار کوي او د انګليسي او عامه اداري د څانګو د تعليمی نصاب له بيا کتنې او بيا ليکنې سره بوختې دي.

## بورسونه (سکالرشيپونه)

د ډيرو نورو هيوادو په خلاف، بورسونه په افغانستان کې ډير يې د استادانو لپاره وقف شوی دي. په داسې حال کې چې د محصلانو لپاره يو څو محدود بورسونه شته، خو ټل په دې زور اچول شوی دی چې د افغانستان د پوهنتون په سيستم کې دننه د استادانو لپاره دلوړو زده کړو درجې مهيا کړي څو په پوهنتون کې د تدريس کيفيت د دوي د پوهنې او مهارتونو له

لاري ښه شي.

د لوړو زده کړو د وزارت وياند وويل چې له ۲۰۰۹ راهيسې له ۵۰۰ څخه زياتو ښځو په بهر کې د لوړو زده کړو لپاره غوښتنليکونه ورکړي دي. ډير بورسونه د نورو هيوادونو له خوا برابر شوي دي. د لوړو زده کړو د وزارت د بهرنيو اړيکو مشر وويل چې په هر کال کې ۱۱۰ بورسونه موجود دي او د ۱۵۲۴ تنو کانديدانو څخه ۲۵ ٪ يې ښځې دي. په دې برسيره د ماسټرۍ او دوکتورا د زده کړو لپاره په هند کې د (۵۰۰- ۸۰۰) پورې بورسونه شته. پاکستان د پوهنتون د فارغ التحصيلانو لپاره او بلغاريا، روسيه او ترکيه د پوهنتون د محصلانو لپاره بورسونه ورکوي.

دا هغه بورسونه دي چې د لوړو زده کړو د وزارت له خوا اعلانيږي. نور اضافي بورسونه چې په پورتنۍ برخه کې ياد شول د نورو چينلونو له خوا برابريږي. د لوړو زده کړو وزارت بورسونه د خپلې ويب پاڼې، راډيو تلويزيون او هغو تختو له لارې اعلانوي چې په وزارت کې نصب شوی دي. د دې وزارت د پاليسيو کتابګوټي څرګندوي چې دواړه، هلکان او نجونې د بورسونو په لاس ته راوړلو کې مساوي حقونه لري. دا حقيقت د دې څرګندوی دی چې کوم خاص اقدامات نه دي نيول شوي په وزارت کې چې د ښځو لپاره د بورسونو د پيدا کولو فرصتونه زيات کړي.

يوازې څو بورسونه شته چې د ښځينه استادانو لپاره په نظر کې نيول شوي دی، چې د کوريا، بلغاريا او بنګله ديش د حکومتونو له خوا ورکړل شوي دي.[77] دغه بورسونه په عمومي ډول د ۱۰۰۰۰ څخه تر ۶۰۰۰۰ ډالرو پورې ارزښت لري چې د تګ راتګ، فيس، کتابونو، او اوسيدلو لګښتونه پوره کوي او د ۲۰۰ څخه تر ۱۰۰۰ ډالره پورې د غذا او نورو مصرفونو لپاره ورکول کيږي. ځيني بورسونه له محصلانو څخه غوښتنه کوی چې د سفر لګښت او يا د اوسيدلو د مصرف فيصدي پخپله ورکړي. دغه بورسونه په نتيجه کې بې استفادې پاتې شي ځکه ډير کم افغانان د دې توان لري چې لګښتونه په غاړه واخلي. دغه مسئله د کوريا د حکومت له بورسونو سره وشوه، چې لس تنې ښځې منل شوې وي خو يوه هم ولاړه نه شوه ځکه چې دوي د لګښتونو د منلو توان نه درلود.

له استادانو او د پوهنتونونو له کارمندانو سره د خبرو په ترڅ کې څيرنيزې ډلې ته څرګنده شوه چې ښځو ته ډير لږ شمير بورسونه ورکول کيږي، په اوو پوهنتونونو کې چې تر څيرنې لاندې وو يوازې دوو تنو ښځو استادانو بورسونه اخيستي وه خو ډير شمير نارينه استادان د لوړو زده کړو لپاره ليږل شوي دي. دغه توپير خطرناک په دې دي چې نارينه استادان کولای شي په پوهنتون کې تدريسي چارې په مخ بوزي او ښځې به ونه شي کولای ځکه چې په پوهنتون کې د ارتقا او ترفيع لپاره د زده کړو لوړې درجې ټاکونکې نقش لري.

که څه هم د پوهنتون چارواکو څيرنيزې ډلې ته ډاډ ورکړی دی چې د بورسونو په اړه معلومات له نارينه او ښځينه استادانو سره شريک کيږي، په دوو پوهنتونو کې ښځينه استادانو دوي ته ويلي دي چې دوي ته د بورسونو په اړه معلومات نه دي ورکړل شوي. د يوه پوهنتون رئيس موږ ته وويل چې يو څو ښځو بورسونه اخيستي دي، ځکه چې ښځې د کورنيو مسئوليتونو له کبله نه شي کولای چې سفر وکړي. ځينو ښځو دا خبره تاييد کړه چې د دوي لپاره سفر کول ګران کار دی، خو ځينو نورو دغه خبره نه ده منلې. هغه پريکړه چې د بورسونو لپاره غوښتنليک ورکړي او که يې ورنه کړي، بايد پخپله د ښځو له خوا ونيول شي، نه د هغې فرضيې پر بنسټ چې ښځو ته د بورسونو په اړه د معلوماتو ورکول منع کوي.

---

[77] د بنګله ديش د اسيا پوهنتون د افغان ميرمنو لپاره ۲۵ بورسونه لري.

## د خلکو له خوا د لوړو زده کړو منل او د هغو ملاتړ

انفرادي کسانو چې د مهمو معلوماتی مرکو او ګروپی (تمرکزي ګروپونه) خبرو اترو په ځیړنو کې شامل وه په یوه خوله ویلی دي چې ښځې باید له نارینه وو سره په برابره توګه په زده کړو کې برخه واخلي. ۹۸ سلنه د مرکو ورکوونکو له دې خبرې سره پوره موافقه درلوده. ټول ۱۷۶ ښځینه مرکه ورکوونکو او له ۱۴۲ تنو څخه ۱۳۶ کسانو وویل چې ښځې باید له نارینه وو سره یو ډول تحصیلي فرصتونه او امکانات ولري، پنځو کسانو وویل چې دوي تر یوې اندازې له دې نظر سره موافقت کوي چې ښځې او نارینه باید یو ډول تحصیلي امکانات ولري خو یوه کس له دې خبرې سره کلک مخالفت وښود. په عموم ډول، دا یو مثبت غبرګون وو، خو باید وویل شي چې دغه غبرګونونه د هغو کسانو له خوا ورکړل شوي دی چې په یو ډول سره د لوړو زده کړو په چارو کی بوخت دي (د پوهنځیو کارمندان، محصلان، غیر محصلان، میندي او پلرونه، د وزارت چارواکي او د پرمختیایي چارو دونران او تطبیق کوونکي) او همدارنګه په ښاري سیمو کې دعامو خلکو له خوا. داسې څرګندیږي چې دغه غبرګون د کلیوالو خلکو د احساساتو استازیتوب نه کوي. خو داسې شواهد هم شته چې ځینې کسان د ښځو او نارینه وو لپاره د برابرو تعلیمي امکاناتو غوښتونکی دي، چې په عام ډول داسې نه انګیرل کیږي کله چې موږ په افغانستان کې د ښځو د زده کړو په اړه د خلکو د چلند او نظریاتو په اړه فکر کوو.

ځیرنیزې ډلې نه یوازې د پوهنتون له چارواکو، د پوهنځیو له استادانو، محصلینو، غیر محصلینو، میندو پلرونو، د وزارت له چارواکو، دونرانو او تطبیق کوونکو سره مرکې کړې دي، بلکه دوي په کوڅو کې له انفرادي اشخاصو سره هم ۴۱ مرکې ترسره کړي دي، چې ۱۲ یې له ښځو سره او ۲۹ یې له نارینه وو سره شوې دي.[146] په هر ولایت کې په تصادفي ډول څلور تنه انتخاب شوي دي چې په مرکه کې برخه واخلي او د هغو خلکو نظریات د ښځو د لوړو زده کړو په اړه راغونډ شي چې په لازمي ډول له لوړو زده کړو سره څه مستقیمه اړیکه نلري، د نارینه وو او ښځینه مرکه ورکوونکو اوسط عمر ۳۰.۴ کاله وو چې له ۱۸ څخه تر ۵۰ کلونو پورې وو. اووه تنی ښځې د کور ښځې وې او نورو یې یا کارونه کول او یا هم محصلانې وې. له نارینه وو څخه یوازې درې تنه بې‌کاره وه او نورو یې کارونه درلودل چې له عسکري څخه نیولې تر دوکانداري او نورو کسبو کې لګیا وه.

له هغو کسانو څخه چې په بازار کې یې مرکې ورکړې دي ۲۹ تنو یې وویل چې دوی فکر کوی ښځې او نارینه باید د زده کړو مساوي حقونه ولري. په ننګرهار کې یوه موچي له دې خبرې سره کلک مخالفت وښود او یوه تن عسکر په کابل کې وویل چې دې له دې سره تر یوې اندازې پورې په یوه خوله دي. ټولو مرکه ورکوونکو ویل چې نارینه باید لوړې زده کړې وکړي، دغه شمیر د ښځو په اړه یوازې ۲۷ تنو ته راټیټ شو. دغه توپیر له هغه څخه کم دی چې تمه یې کېدله چې دا یوه مثبته علامه ده. څنګه چې پورته ذکر شوه یعنی یوازې یوه تن موچي په ننګرهار کې له دې سره کلک مخالفت وښود چې ښځې باید لوړې زده کړې وکړي. یوه تن سوداګر په کندهار کې تر یوې اندازې د ښځو له زده کړو سره مخالف وو او دوو تنو، یوه یې په کابل او بل په کندهار کې هم یوه اندازه مخالفت وښود چې ښځې دې هم لوړې زده کړې وکړي، په عمومي ډول یوازنی مشترکه وجهه د هغو کسانو ترمنځ چې د ښځو له لوړو زده کړو او له کور څخه بهر د ښځو له کارونو سره مخالف وه، دا وه چې د دوي اوسط عمر ۶.۳۷ چې د ۳۰.۴ نمونوی عمر په پرتله یو لږ څه جګ وو او ټول یې نارینه وه.

[146] د جنسیت په اساس توپیرونه د ځیرنیزې ډلې له خوا له دې امله په ګوته شوي چې په محلي بازارونو کې له ښځو سره خبرې کول ستونزمن کار وو. په دې سربیره، په عمومي ځایونو کې نارینه د ښځو په پرتله ډیر دی او هم حاضر دي چې خبرې وکړی.

ځېرنيزې ډلې دغه راز له دغو ۳۱ کسانو څخه وپوښتل چې ايا ښځې او سړی د دې حق لري چې له کورونو څخه بهر کارونه وکړي. ټولو مرکه کوونکو وويل چې سړي حق لري چې له کور څخه بهر کار وکړي او ۲۶ تنو وويل چې دوي ښځو ته له کور څخه بهر د کار کولو حق ورکوي. د انفرادي کسانو شمير چې له دې سره يې مخالفت درلود يو څه پورته شوی وو، که د لوړو زده کړو له پوښتني سره مقايسه شي، چې دريو سړيو وويل چې دوی له کور څخه بهر د ښځو له کار کولو سره مخالف دی. له دې څخه معلوميږي چې ښايي يو کس زده کړو ته اهميت ورکړي خو دغه خبره د دوي له دې درک سره نه ده تړلې چې ښځې هم حق لري چې له کورونو څخه بهر کارونه وکړي. د دې لپاره چې په عمومي ډول د دې مخالفو نظرياتو په پراخوالي وپوهيږو، زياتو ځيرنو ته اړتيا شته. دوو تنو نارينه وو وويل چې ښځې له کور څخه بهر د کار کولو حق لري، خو په دې شرط چې د کورنيو اجازه په کې موجوده وي.

په زړه پورې خبره دا ده چې دواړه ښځې او سړی د ښځو لپاره د لوړو زده کړو پلوی کوی او ښځو ته هم د دې حق ورکوی چې له کورونو څخه بهر کارونه وکړي. دغه مثبت غبرګون تر يوې اندازې په ښاري سيمو پورې تړلی دی چې په بازارونو کې مرکې وشوې. موږ ددې وړانديز کوو، چې نورې ځيرنې هم وشي او وښيي چې ايا دغه مثبت غبرګونونه کليوالی سيمو ته يا هغو منطقو ته هم غزيدلي دی چې په ښاري عمومي سيمو کې نه دي شاملې او که په هغو انفرادي اشخاصو پورې محدود دي چې په ښاري سيمو کې ازادانه ګرځيدای شي.

## له لوړو زده کړو څخه د ښځينه محصلانو لپاره احتمالي ګټې

د مهمو معلوماتی مرکو او ګروپی (تمرکزي ګروپونه) خبرو اترو په ترڅ کې موږ له انفرادي اشخاصو څخه وپوښتل چې ايا دوی د ښځو لپاره د پوهنتون زده کړې مهمې ګڼي او که نه. هر انفرادی شخص د پوهنتون په کچه، د وزارتونو په دننه کی او د پرمختيايي پروژو کارمندانو دغې پوښتني ته مثبت ځواب ووايه. دوي وويل چې زده کړې اهميت لري. دغه ځواب په اوو ولايتونو کې ۲۹۰ کسانو ورکړی دی.

کله چې پوښتنه وشوه چې د ښځو لپاره پوهنتونونو کې زده کړې ولې مهمې دي، ځېرنيزې ډلې مختلف ځوابونه تر لاسه کړل. ځينې دغه ځوابونه يو له بل سره تړلې دي او خو نږدې ټولو د جندر په اړه يوه خبره کوله. اووه تر ټولو مهم ځوابونه د پوهنتونونو په استادانو، محصلانو، غير محصلانو کې شريک وه او د ميندو پلرونو له خوا هم له اوو ځوابونو څخه پنځه تر ټولو زيات سره شريک وه. په ځوابونو کې دغه يو والی د پام وړ دی او هڅوونکی ځوابونه وه، ځکه د ښځو لپاره د لوړو زده کړو په ګټه باندې سره متفق وه او د معلوماتو په کمپاين کې ور څخه استفاده کيږي.

د ټولو مرکه کوونکو له ډلې څخه تر نيمايي زياتو يې يو ځواب ووايه او هغه دا چې ښځې بايد پوهنتونونو ته ولاړې شي ځکه چې دوي د ټولنې نيمايي برخه جوړوي. د ځينو لپاره دا د 'منطقی توضيح' پواسطه سره تعقيب کيدی چې د پوهنتون لوستې ښځې د هيواد د پرمختيا لپاره اړينې دي. دريم ډېر مشترک ذکر شوی لامل دا وو چې د زده کړو خاوندې ښځې کيدای شي چې ښې ميندې وګرځي، حتی ډېر محافظه کاران هم په دی باور دی چې دا مهم دی. په دې برسيره ځينو خلکو وويل چې د لوړو زده کړو کول د ښځو خپل حق دی چې دغه خبره د دی عقيدې سره کلکه تړلی وه چې ښځې او سړي يو شانته اړتياوې لري او له دې امله بايد د لوړو زده کړو لپاره يو شانته ارمان ولري. دغه عملي ضرورت چې ښځو ډاکترانو، نرسانو او ښوونکو ته احساسيږي ځکه چې ښځې په افغانستان کې اجازه نه لري چې د نارينه ډاکټر له خوا دې درملنه وشي او يا دی نارينه ښوونکي درس ورکړي، ډيرو تکرار کړې دي. د ښځو ډاکترانو ، نرسانو او ښوونکو زيات شمير کولای شي له ښځو سره د روغتيا او پوهې په کسب کولو کې مرسته وکړي. په پای کې تر ټولو زيات عام ځواب د اسلام په دين پورې اړه لري چې په افغانستان کې حاکم دين دی. ځېرنيزې ډلې ته ډيرو مرکه ورکوونکو وويل چې پر هر مسلمان شخص

نارینه وي او که ښځه د علم زده کول فرض دي.

یوازې یو څو خبرې وې چې مختلفو ډلو بیلا بیل ځوابونه ورکړی دي. ښځو ویلي دي چې دوي باید لوړې زده کړې وکړي ترڅو په مالي یا اقتصادي ډول تقویه شي. ځینو ښځو وویل چې دوي کولای شي له دې لارې د خپلې کورنۍ له اقتصاد سره مرسته وکړي او نورو بیا په دې ټینګار کاوه چې ښځې باید اقتصادي خپلواکي ولري. میندو پلرونو هم په دې ټینګار کړی دي چې که د دوي لوڼې په پوهنتونونو کې لوړې زده کړې وکړي نو کیدای شي چې دوي خپل ځان او کورنۍ ته یې اقتصادي ګټې ورسیږي. سرې زیاتره په دې باور وو چې دواړه جنسونه، نارینه او ښځینه باید علم زده کړې چې د اسلامي ښوونو له مخې په دوي دواړو فرض ګرځول شوي دي.

دغه مهم لاملونه چې ولې د ښځو لپاره په پوهنتونونو کې زده کړې مهمې دي کولای شی چې په راتلونکی کې د رسنیو په کمپاینو کې و کارول شي چې د ښځو د زده کړو پروګرامونه تقویه کړي او په هغو عقیدو تکیه وکړي چې د خلکو د ځینو برخو له خوا منل شوي دی. موږ باید د هغې اړیکې په اړه په احتیاط سره چلند وکړو چې د لوړو زده کړو او اقتصادي ګټو په اړه منل شوي دي. که څه هم لوړې زده کړې د دې ضمانت نه کوی چې د ښه معاش کار به پیدا شي، خو بیا هم لوړې زده کړې حتماً د شخص لپاره هغه چانسونه زیاتوي چې ښې وظیفې یې اشغال کړې وی.

## په افغانستان کې د ښځو په وړاندې د لوړو زده کړو په لار کې احتمالي خنډونه

د پوهنتون په اداري کارمندانو، محصلانو، غیر محصلانو، میندو پلرونو، د وزارت د چارواکو او د پرمختیایي چارو کارمندانو ترمنځ چې د لوړو زده کړو له چارو سره بوخت وو، د ښځو په وړاندې د خنډونو په اړه تر زیاتې اندازې پورې یو والی موجود وو. په پنځو مهمو لاملونو کې، چې د خلکو په باور په افغانستان کې د ښځو په وړاندې د لوړو زده کړو په لار کې خنډونه جوړوي دا دي: د امنیت نشتوالی، اقتصادي ستونزې، د کانکور ازموینې، د کورنیو له خوا په لوڼو باندې بندیزونه چې پوهنتون ته ولاړې شي او کلتوري ستونزې. له دغه خنډونو څخه هر یو یې د ۱۰۰ کسانو له خوا یاد شوی دی. په دغه پنځو مهمو لاملونو برسیره، شپږ نور عوامل هم په ګوته شوي دی چې نږدې د ټولو له خوا وربانديې توافق شوی دی. د ترانسپورت نشتوالی، وختي ودونه، د لومړنیو او منځنیو زده کړو ټیټ کیفیت، په ټولنه او یا هم د ټولنې په خاصو منطقو کې د تعلیم په ضد افکار ، د یوې کورنۍ په نوم او حیثیت باندی منفي انګیرنې، او هغه عقیده چې د هلکانو او نجونو ګډ تعلیم د منلو وړ نه دی، دغه ټول د ځواب ویونکو له خوا په ټولو هغو ولایتونو کې یاد شول چې څیړنه په کې شوې ده.

لکه څنګه چې لیدل کیږي، دغه کټګوري یو له بل سره تړلې دي، داسې معلومیږي چې د امنیت نشتوالی د هغو کورنیو موقف تقویه کوي چې خپلو لوڼو ته د پوهنتون د تګ اجازه نه ورکوي او دا یو دلیل ګڼل کیږي چې هره ورځ پوهنتون ته په خوندي ډول د تګ مسئله ډیر اهمیت لري. د لومړنیو او منځنیو زده کړو د کیفیت په اړه اندیښنې له دې باور سره تړلې دي چې نجونې په تحصیلی لحاظ د کانکور د ازموینې لپاره نه دي تیاري، چې له لیسې څخه وروسته د دوي د زده کړو په وړاندې خنډ جوړوي. کلتوري ستونزې، که څه هم د ځواب ویونکو له خوا یې لږ یادونه شوې ده، خو داسې معلومیږي چې دا د لاندنیو مواردو سره تړلې دی لکه: د ټولنې هغه قشرونه چې د زده کړو سره مخالفت لري؛ د ښځینه او نارینه محصلینو د جدا کولو اندیښنې؛ وختي ودونه؛ او منفي تبلیغات په هغو کورنیو پسې چې خپلو لوڼو ته د پوهنتون د ویلو اجازه ورکوي.

په ټولیز ډول له ۳۰ څخه زیات خنډونه د انفرادي اشخاصو له خوا چې په څیړنو کې یې برخه اخیستې وه په ګوته شوي دی. د مختلفو ځوابونو بشپړ لست چې د جندر او د مرکې د نوعیت په لحاظ جدا شوي دي، وګورئ. له دې څخه څرګندیږي چې د ښځینه محصلانو د شمیر زیاتوالی چې لوړې زده کړې کوی یوه پیچلې پروسه ده؛ بیلا بیلې هڅې باید وشي چې دغه ځینې

خنډونه کم او يا له منځه يوړل شي. دغه کار وخت او زغم ته اړتيا لري او په دې پروسه کې به تيروتنې هم پيښيږي.

**امنيت**

د ډېرو ښځينه او نارينه مرکه ورکوونکو په نظر په افغانستان کې د لوړو زده کړو د تر لاسه کولو په لار کې خنډ، د امنيت نشتوالی دی. که څه هم دغه خبره د پوهنتون د اداره کوونکو لپاره خنډ نه وو، خو ښځينه او نارينه غير محصلينو او پلرونو لپاره دغه خنډ تر ټولو لومړی ارزښت لري.

د دولت ضد عناصرو په وړاندې د افغان او نړيوالو ځواکونو له خوا جګړې د ښځو پر زده کړو باندی منفي اغيزه کړې ده، هم په هغو سيمو کې، چيرې چې جګړه زياته ده او هم په هغو کې چېرې چې په منظم ډول جګړه نه رامنځ ته کيږي. ميرمني خپلي لوڼي له ځوروني، تښتوني او داسي نورو هيښوونکو ګواښونو څخه چې پوهنتون ته د ښځو د تګ را تګ پرمهال رامنځ ته کيږي، ډاروي.

دغه واقعيت له دغه احساس سره مرسته کوي، چې هغه پوهنتونونه چې په داسي موقعيتونو کې دي چيرې چې په معمولی ډول کم ګواښ يا په کمه کچه جګړه رامنځته کيږي، په لوړه کچه د ښځينه محصلاتو شتون تر سترګو کيږي. د مثال په ډول، په هرات کې د ښځينه محصلينو سلنه ۳۱.۲ ده، په بدخشان کې ۲۷.۶ او په کابل کې ۲۷.۴ ده. په داسي حال کې چې په دغو ولايتونو کې هم د دولت ضد عناصرو له خوا فعاليتونه ترسره کيږي، خو د کندهار په پرتله کم دي، چيرې چې د ښځينه محصلينو سلنه ۳.۷ ده، يا په ننګرهار کې، چيرې چې د ښځينه محصلينو سلنه يوازې ۲.۹ ده.

په داسي حال کې چې څيړنيزې ډلي ته د ازادې پلټونکي پروسي له لارې زيات شمير ډول ډول خنډونه وړاندې شول، دا په ډاګه کوي، چې د ښځينه محصلينو د شمير د زياتوالی لپاره يو واحد دليل نشته، د امنيت نشتوالی يو ستر خنډ او ورته رسيدل خورا ستونزمند کار دی.

**اقتصاد**

د لوړو زده کړو د ترلاسه کولو په موخه د يوه ماشوم استول، په ځانګړی ډول د يوې انجلۍ، هغه خنډ او مانع وو، چې له امنيت څخه وروسته ډېر ياد شوی دی، او د دغه خنډ يادونه دولتي او خصوصي پوهنتونونو ته هم شوې ده. د اساسي قانون سره سم، افغان دولتي پوهنتونونه له محصلينو څخه د تعليم په بدل کې فيس يا اجرت نه اخلي. پر دې سربيره، حکومت په ليليو کې د محصلينو د اوسيدو لګښتونه هم ورکوي. که چيرې په ليليو کې د محصلينو لپاره بسيا ځای موجود نه وي، دولت هر محصل ته د استوګني د لګښتونو د پوره کولو په موخه ۱۸۰۰ افغاني ور کوي.

د دولت له ملاتړ سره سره، لا يو زيات شمير لګښتونه شته چې پلرونه او محصلين يې د پوهنتون په دوره کې ګالي، چې په دې کې د ترانسپورت، د ليک لوست د موادو، قرطاسيي، کاليو او د ارتباطاتو لګښتونه شامل دي. سره له دې چې ليليې زياتره وخت محصلينو ته خواړه برابروي، خو په ځينو سيمو لکه باميان کې محصلين د خواړو د برابرولو په خاطر پخپلو کې مالي مرسته کوي، ځکه چې په ليليو کې د خواړو د کمښت په اړه په وار وار راپورونه ورکول شوي دي.

په باميان کې د لوړو زده کړو پر مهال د يوه محصل کلني لګښت له ۲۰۰۰۰ افغانيو څخه تر ۳۰۰۰۰ پورې اټکل شوي دی. په بلخ کې، پلرونه داسي اټکل کوې، چې دا د دوي لپاره د کاله ۲۰۰۰۰ افغاني لګښت لري، څو يو ماشوم دولتي پوهنتون ته

واستول شي. په هرات کې مينډو اټکل کاوه، چې دولتي پوهنتون ته د يوه کس ليږدول د دوي لپاره د کاله ۱۲۰۰۰ افغانۍ لګښت لري، خو بيا پلرونو ۲۵۰۰۰ افغانۍ اټکل کاوه. پلرونو په خپلو حسابونو کې د ځانګړو کورسونو لګښتونه هم شامل کړي وو، خو په ځانګړې ډول مشخص کړای شوي نه دي، اما په زيات احتمال سره اضافي کورسونه لکه د انګليسي ژبې او د کمپيوټر زده کړو ته راجع کيږي. په کابل کې مينډو پوهنتون ته د خپلو ماشومانو لګښت د يوه کال لپاره ۲۰۰۰۰ افغانۍ او پلرونو ۳۰۰۰۰ افغانۍ اټکل کړی دی. په ننګرهار کې محصلينو د يوه کال د لګښت تر ټولو لوړ اټکلونه وړاندې کړل، چې د ليک لوست او خوراکي توکو د لګښتونو په ګډون له ۴۹۰۰۰ افغانيو څخه نيولې بيا تر ۵۸۵۰۰ افغانيو پورې اټکل شوی دی. دغه اټکل د ښځينه محصلينو له خوا چې د پوهنتون په ليليه کې اوسيږي وړاندی شوی وو، په دغو ښځينه محصلينو کې د افغانستان د مختلفو او ليرو پرتو سيمو لکه بدخشان څخه محصلانې هم شاملې وې. په ننګرهار کې پلرونو نورو ولايتونو ته ورته د يوه کال د لګښتونو اټکلونه وړاندې کړل، چې له ۳۰۰۰۰ افغانيو نيولې تر ۳۶۰۰۰ پورې اټکل شوی دی.

ځينې محصلين نيم وخت کار او نيم وخت زده کړې کوي، زياتره له ښوونځيو يا نادولتي سازمانونو سره (باميان)، خو دغه شمير محدود دی. په بلخ کې، ۵ سلنه محصلانې او ۲۰ سلنه محصلين اټکل شوي دی، چې کارونه کوي او له دغې لارې خپلې لوړې زده کړې تمويلوي. په کابل کې مينډو او پلرونو اټکل کړی وو، چې ۹۰ سلنه محصلين د خپلو کورنيو له خوا د هغوي د تعليم لګښت تاديه کوي. په کندهار کې راپور ورکړل شوي دی، چې زياتره محصلين د خپلو کورنيو له خوا حمايه کيږي، خو يو کم شمير محصلينو پخپله دغه لګښتونه ورکول. له دې سره سره، په کندهار کې ښځينه محصليني په دې باور وې، چې نږدې ۵۰ سلنه محصلين خپل لګښتونه تاديه کوي.

زياتره محصلين د اړتيا وړ لګښتونو په وړاندې پر خپلو کورنيو متکي دي. په دې مانا، چې دوي ته دغه پيسې، د پلار، مور (که چيرې د کورنۍ مشره وي) ورور، يا ځينې وختونه له تره يا د کورنۍ د کوم بل غړي له خوا ورکول کيږي. دغه کار د کورنيو پر اقتصادي سرچينو باندې زيات فشار راوړي، په تيره بيا د افغانستان په څير په يوه هيواد کې، چيرې چې تنخواګانې ډيرې کمې دي. بې له شکه يو شمير کورنۍ شته چې د خپلو ماشومانو د لوړو زده کړو په تمويل کې کومه ستونزه نلري، خو زيات شيمر نورې کورنۍ هم شته چې دغه کار د هغوي لپاره خورا ستونزمن دی، د ځينو هغو مينډو او پلرونو په ګډون چې موږ ورسره خبرې اترې ترسره کړې، زيات شمير مينډو او پلرونو دغه نظر څرګند کړ، چې لوړو زده کړو ته د خپلو ماشومانو د هڅولو او له هغوي سره د مالي مرستې کولو مسووليت لري. په ننګرهار کې يوې کورنۍ موږ ته وويل، چې دوي د کور له رانيولو څخه د دې لپاره تير شول، ترڅو د هغوي ماشومان پوهنتون ته ولاړ شي او لوړې زده کړې ترسره کړي. په ننګرهار کې ځيرنيزې ډلې ته يو پلار داسې وويل: "زه د خپلو ماشومانو ټولې ستونزې او سختۍ ګالم، څو هغوي زده کړې ترسره کړي."

ځينې کورنۍ د دې جوګه وي، چې د خپلو دندو له لارې د دغو لګښتونو له عهدې څخه ووزي، ځينو اضافه کارونه کول، څو د لوړو زده کړو د ترلاسه کولو لګښتونه تاديه کړي او نورې داسې هم وې، چې لا زياتې قربانۍ ورکړي. يو شمير مينډو او پلرونو وويل، چې ځينې وخت کورنۍ خپل زيورات پلوري څو ماشومان يې لوړې زده کړې ترسره کړي (باميان او بلخ)، او يو شمير نورې کورنۍ دې ته اړ شوي چې د دغه کار پخاطر له بانکونو او نورو پور ورکوونکو څخه پورونه واخلي. يوې مور څرګنده کړه، چې څرنګه هغې ټولې هغه پيسې چې د غاليو د اوبدلو له لارې يې ګټلې وې، پوهنتون ته د خپلو ماشومانو پر استولو مصرف کړي. په بدخشان کې مينډو تصديق کړه، چې ددوي کورنۍ نوي کالي نه اخلي يا په داسې مراسمو کې ګډون نه کوي، چيرې چې د ډالۍ اړتيا وي لکه ودونه او په ټولنه کې داسې نور مراسم، څو د خپلو ماشومانو له پوهنې سره مرسته وکړي. په کابل کې هم مينډو په ورته ډول د نويو کاليو د نه پيرودلو او له ګاونډيو يا کورنۍ څخه د شخصي پورونو د ترلاسه کولو يادونه وکړه. په کندهار کې مينډو پلرونو ځيرنيزې ډلې ته له کليو څخه د ځينو کورنيو د بې

ځايه کيدلو يادونه وکړه، څو په ښار کې د هغوي ماشومان کيفيت لرونکي ښووني ته لاس رسي پيدا کړي، چې دا هم قيمته تماميږي.

د شخصي پوهنتونونو لګښتونه ډېر لوړ دي، د تعليم د فيس په شمول، په کابل کې دغه لګښت حتی د ۶۰۰۰۰ افغانيو څخه لوړ دي، له ترانسپورت، کتابونو او خواړو پرته. په بدخشان کې د تعليم کلنی لګښت ۳۲۰۰۰ افغانی دی. هغو پلرونو چې په ګروپي مباحثو کې يې ګډون کړی وو، څيړنيزې ډلې ته خبر ورکړ، چې په خصوصي پوهنتون کې د زده کړې کولو کلني لګښت له ۷۰۰۰۰ افغانيو څخه لوړ دی. داسي څرګنديږي، چې په هرات کې د لوړو زده کړو ترسره کول لا زيات قيمته دی، لکه څرنګه چې د ميندو او پلرونو له خوا په ډاګه شوه چې يوازې د تعليم فيس ۳۴۰۰۰ افغانی دی، چې له ټولو لګښتونو سره دغه کلني لګښت د ۶۸۰۰۰ او ۱۰۰۰۰۰ ترمنځ افغانيو ته رسيږي. په کندهار کې ميندو پلرونو اټکل کاوه، چې د شخصي پوهنتون کلنی لګښت له ۲۰۰۰۰ نه تر ۵۰۰۰۰ افغانيو پوری رسيږي. په ننګرهار کې د شخصي پوهنتونونو کلني لګښت د تعليم د فيس، د جب د خرڅ، د کتابونو او داسي نورو په ګډون ۱۰۰۰۰۰ افغانی اټکل شوی دی.

د زيات شمير نورو هيوادونو برعکس، د محصلينو د پوهنتون د دوري د زده کړو لپاره سکالرشيپونه/تعليمي بسپنې معمول نه دي. يوازې په باميان کې، يوې مور موږ ته وويل، چې هغه د يوه نادولتي سازمان څخه د خپل ماشوم د لوړو زده کړو لپاره مالي ملاتړ ترلاسه کوي. کوم سکالرشيپونه چې د محصلينو لپاره د لاس رسي وړ دي، کابو ټول يې له هيواد څخه د بهر زده کړې لپاره دي، خو دغه فرصت د ټولو لپاره نه ميسر کيږي او هغه محصلين چې په افغانستان کې پاتې کيږي له زياتو اقتصادي ستونزو سره مخامخ کيږي او نه شي کولای چې د عالي درجې زده کړې تر لاسه کړي.

### د کانکور ازمويني

د کانکور ازموينه په افغانستان کې پوهنتون ته د داخليدو ملي ازموينه ده. په افغانستان کې د لوړو زده کړو د ترلاسه کولو لومړی ګام، له لېسې څخه تر فراغت وروسته په دغه ازموينه کې د ګډون لپاره نوم ليکنه ده. دغه ازموينه په کال کې يو ځل ترسره کيږي او زده کوونکی کولای شي چې په نوموړې ازموينه کې درې ځلې ګډون وکړي څو د خپلې خوښې پوهنځي ته د داخليدو لپاره اړينې نمرې تر لاسه کړي. له دې وروسته بريالي زده کوونکي يا خو بايد کامياب شويو پوهنځيو ته حاضري ورکړي، او يا له هغوي څخه منصرف شي او په افغانستان کې په کوم بل شخصي پوهنتون کې خپلې لوړې زده کړې ترسره کړي.

د هر شخص د ازمويني نمرې دا تشخيص کوي، چې هغه د کومی پوهنځي وړتيا لري. هره پوهنځي د ټيټو نمرو حد ټاکي او هر شخص چې له هغه حد څخه زياتې نمرې يوسي، اړونده پوهنځي ته د منلو وړتيا لري. دغه ترتيبات په دې موخه ترسره شوي دی، چې يو شمير اشخاصو، په ځانګړی ډول نجونو، لوړو زده کړو ته لاس رسي نه شو تر لاسه کولای يا به له پامه غورځول کيدي.

زياتره زده کوونکي او د هغوي ميندي پلرونه د طب او انجينري پر لوستلو ټينګار کوي، کوم چې دواړو پوهنځيو ته د داخليدو لپاره په کانکور کې د لوړو نمرو د ترلاسه کولو لپاره اړتيا لري. کله چې يو زده کوونکی اړونده پوهنځي ته د داخليدو لپاره اړينې نمرې يو نسي، اړ دی، چې بلې پوهنځي ته ولاړ شي او يا هم په راتلونکی کال کې د دوهم ځل لپاره ازموينه ورکړي، که چيرې دغه زده کوونکي له دې مخکې دوه ځلې د کانکور امتحان نه وي ورکړی. د مثال په ډول، يو زده کوونکی د طب پوهنځي ته د داخليدو لپاره له ۳۰۰ څخه لوړو نمرو ته اړتيا لري، خو د ښووني او زراعت لپاره ۲۰۰-۲۶۰ نومرو ته اړتيا ده. هغه اشخاص چې له ۱۰۰ څخه ټيټې نومرې يوسي، يوی پوهنځي ته هم د منلو وړ نه دي.

د لوړو زده کړو د وزارت د مرستیال د وینا پر بنسټ، په ۲۰۰۹ کال کې ۶۶۸۰۰ محصلینو او ۱۶۲۳۷ محصلاتو د کانکور په ازموینه کې ګډون کړی وو، دا په دې مانا، ټولو هغو زده کوونکو چې په دغه ازموینه کې یې ګډون کړی وو، ۱۹.۶ سلنه یې نجونې وې. په ۲۰۰۲ کال کې یوازې ۱۰۰۰ تنو نجونو له اټکل شویو ۸۰۰۰ زده کوونکو څخه د کانکور په ازموینه کې برخه اخیستې وه، دا په ډاګه کوي چې څومره په شدید ډول د ښځو ترمنځ د لوړو زده کړو د ترلاسه کولو غوښتنه لوړیږي.[147] په ۲۰۰۹ کال کې یوازې ۳۴۵۴۳ نارینه محصلان او ۱۰۷۶۳ ښځینه محصلانې په دغه ازموینه کې بریالي شوي وو.

کله چې له ښځینه محصلینو څخه په افغانستان کې لوړو زده کړو ته د ښځو د لاس رسي د سترو خنډونو په اړه وپوښتل شول، د کانکور ازموینه تر ټولو دریم ستر خنډ په ګوته شو. په عام ډول د کانکور ازموینه د نارینه وو زده کوونکو لپاره څلورم او د ښځینه وو لپاره دوهم خنډ شمیرل کیده. د نجونو د میندو او پلرونو لپاره، دا تر ټولو ستر خنډ وو. دا د ښځینه محصلینو لپاره (دریم) د نارینه وو (اووم) په پرتله په لوړه کچه درجه بندي شوی وو. د پوهنتون اداري هم داسې احساسول، چې ګواکي دا په ښکاره ډول یو مرستندویه فکتور دی، چې په پوهنتون کې د مرکه شویو کسانو له خوا تر ټولو زیات یاد شوي څلورم په نارینه وو کې او تر ټولو زیات یاد شوي پنځم په ښځو کې په ګوته شوي خنډ بلل شوي وو.

د پوهنتونونو یو شمیر رئیسانو دا احساس کاوه، چې د داخلیدو ازموینه د دوي له پوهنځیو څخه د یو شمیر محصلینو له پاتې کیدو سره مرسته کوونکې لامل دی. دوي څیړنیزې ډلې ته وویل، هغو زده کوونکو چې مخکې یې د کانکور په ازموینه کې درې ځله ګډون کړې دی، یا هغه نور چې دا پریکړه یې کړې وی، چې د بل ځل لپاره په دغه ازموینه کې ګډون ونه کړي، ځینې وختونه هغو پوهنځیو ته ځي په کومو کې چې د دوي نومرې د منلو وړ وي. د پوهنتون د اداری او استادانو له وینا سره سم، دغه حالت له پوهنتون څخه د محصلینو د ایستلو یا پاتې کیدولو ستر لامل دي. دغه محصلین زیاتره د دوی د خوښې د دوهم انتخاب پوهنځی پیل کوي، چې د وخت په تیریدو سره د پوهنځي له درسونو او موادو سره خپله لیوالتیا بایلي، او د پوهنځي د پریښودلو پریکړه کوي. محصلانې هم له دغې ستونزې څخه اغیزمنې کیږي، خو د محصلینو په کچه نه دي. داسې یو احساس شته، چې کله نجونې پوهنتون ته داخلې شي، هغوي بیا ډیرې مصممې دي، څو تر پایه پوهنځي ولولي، څه توپیر نه لري چې دغه پوهنځي د هغوي لومړی انتخاب دی او که نه.

که څه هم کله چې موږ له ښځینه غیر محصلینو سره خبرې ترسره کړي، هغوي د خپلې خوښې پوهنځي ته نه داخلیدل د لوړو زده کړو د نه تر لاسه کولو ستر لامل په ګوته کړ. د هغوي زیاترو دا پریکړه کړې وه، چې د کانکور په راتلونکې ازموینه کې بیا ګډون وکړي، د ښه کار کردار په ښودلو سره کیدای شي د دوهم ځل لپاره د خپلې خوښې پوهنځي ته بریالی شي.

ځینې ښځې له یو شمیر هغو نورو چې په ازموینه کې نه وي بریالي شوی ناهیلي او بې زړه شوې وي، آن چې په هیڅ ازموینه کې یې ګډون هم نه وو کړی، په دې فکر چې د هغو نورو په څیر به دوي هم بریالی نه شي.

د ښځو لپاره د کانکور ازموینې په کامیاب ډول سره د ترسره کولو په لار کې د پرتو خنډونو په درک کولو سره، د پوهنې وزارت د ازموینې لپاره د چمتوالی کورسونه او د داخلیدو ازموینې برابرې کړی دی او په دې اړه یې ۱۰۰۰۰۰ کتابونه چاپ کړی او ویشلي یی دي او همدارنګه دغه مواد په سی ډی کې هم ثبت شوي دی. سربیره پر دې، هغه زده کوونکي چې په لیرو پرتو او نا امنو ولایتونو کې دي، د ازموینې پرمهال اضافي نومرې تر لاسه کوي. موږ ته داسې وویل شوه، چې په بامیان، ننګرهار او کندهار کې، نارینه وو زده کوونکو ۱۵ او ښځینه وو ۲۰ اضافي نومرې مرسته ترلاسه کړې دی.

---

[147] (ارین ۲۰۰۲)

په بدخشان کې میرمنو احساس کاوه، چې د کانکور د ازموینې د چمتوالی کورس ته نه لاس رسي، په نوموړې ازموینه کې د دوي د کمزوري کارکردګی لامل دی. دا ستونزه یوازې په بدخشان کې نه، بلکې په نورو ولایتونو کې هم په ډاګه شوه، د دغې ستونزې یادونه هم د نارینه وو، ښځینه وو او هم د غیر محصلینو له خوا ترسره شوه. هلکانو د نجونو په پرتله دغه ډول کورسونو ته زیات او اسان لاس رسي لري، لکه څرنګه چې هغوي د خوځښت زیاته ازادي لري څو په دغه ډول کورسونو کې ګډون وکړي، په داسې حال کې چې نجونې په ورته کورسونو کې د ګډون له محدودیت سره مخ وي او د دوي کورنی د امنیت په اړه هم ډیرې ډاډه نه وي، څو هغوي دا ډول کورسونو ته واستوي، او همدارنګه له بلې خوا د جندر په اساس جلا کورسونه هم د لاس رسي وړ نه وو. باید وویل شي، چې دغه ډول ټولګې یا کورسونه یو اضافې لګښت دي، چې زیاتره کورنی یې له عهدې څخه وتلو توان نه لري. په هرات کې څلورو ښځینه غیر محصلینو څیړنیزې ډلې ته وویل چې، زیاتره کورنی پر خپلو لونو فشار راوړي، چې د طب پوهنځې ته داخلې شي، خو کله چې هغوي د طب لپاره اړینې نومرې تر لاسه نه کړای شي، بیا کورنی له هغوي سره د لوړو زده کړو په تر لاسه کولو کې اړینه مرسته نه کوي، آن چې هغوي په نورو پوهنځیو کې له داخلیدو څخه ګرځوي، سره له دې چې د هغوي نومرې هغوي ته په نورو پوهنځیو کې د داخلیدو اجازه ورکوي.

په ننګرهار کې ښځینه غیر محصلینو څیړنیزې ډلې ته وویل، چې دوي دا احساس کړه، چې له دوي سره په ازموینه کې مناسب چلند نه دی شوي. دوي وویل، چې ازموینه له خپل وخت څخه مخکې ترسره شوه او دوي ورته په بشپړ ډول تیاری نه درلودله. دوی موږ ته وویل، داسې احساس کوي، چې د لوړو زده کړو وزارت نه غواړي چې له ننګرهار څخه دې څوک په نوموړې ازموینه کې بریالي شي، "په ځانګړي ډول نجونې". هغوي زیاته کړه، کوم شخص چې د لوړو زده کړو له وزارت څخه د ازموینې د کنټرول لپاره راغلی وو، یو غیر مسلکي شخص وو او خلک یې ناهیلي کول. موږ په دې و نه توانیدلو، څو دغه معلومات تایید کړو. دا یوه مهمه یادونه ده، چې د ازموینې د وخت په اړه معلومات باید له ازموینې څخه مخکې وړاندې کړای شي او د لوړو زده کړو د وزارت کارمندان باید مخکې له دې چې له ازموینې کتنه وکړي د جندر د حساسیتونو په اړه بسیا روزنه تر لاسه کړي، څو ډاډ تر لاسه شي، چې دوي په مناسب ډول له وزارت څخه استازیتوب کوي او ټولو زده کوونکو ته د لوړو زده کړو د ترلاسه کولو په ډګر کې د مناسب او منصفانه چانس غوښتونکی دی، په ځانګړی ډول د ښځو لپاره.

په داسې حال کې چې محصلین او غیر محصلین په دې باور دي، چې د ازموینې د چمتوالی کورسونو ته نه لاس رسي د نجونو په تاوان دی، د ۲۰۰۹ کال د ازموینې نتیجه، چې د جندر په اساس جلا شوی وه، د دغې نظریې ملاتړ نه کوي. زیات شمیر هغو نجونو چې په ازموینه کې یې ګډون کړی وو او ازموینه یې په بریالی ډول سره ترسره کړې وه، ۶۶.۳ سلنه نجونې او ۵۱.۷ سلنه هلکان وو. له بده مرغه په دې اړه چې څوک کامیاب شوي دی او چا د ازموینې د چمتوالي په کورسونو کې ګډون کړي دی، تفصیلي معلومات تر لاسه نه کړای شول، خو دغه ارقام دا په ډاګه کوي، چې د ښځو د کامیاب کیدلو ټیټه کچه د چمتوالي کورسونو ته د نه لاس رسي له امله نه ده. نجونې په نسبي ډول سره ښه کارکردګي ترسره کوي.

نږدې ټولو هغو ښځینه غیر محصلینو چې څیړنیزې ډلې ورسره خبرې کړې دی وویل، که چیرې هغوي له هغو خنډونو سره چې اوس ورسره مخ دي، نه وای مخ، دوي به لوړې زده کړې تر لاسه کړی وای. په داسې حال کې چې د هغو غیر محصلینو سره چې موږ خبرې ترسره کړي، د لیسو فارغین وو، خو د عمرونو په توپیر سره، دوي د ځینو خنډونو په اړه معلومات ورکړل، خو زیاته یې کړه چې له دې سره سره په دې توانیدلي چې خپلې لومړنی او منځنی زده کړې ترسره کړي. په هر حال، موږ باید زیات شمیر هغه زده کوونکي په پام کې ونیسو، چې یا یې په لومړیو مرحلو کې د تعلیم د پریښودلو او یا د رسمي تعلیم د نه درلودلو له امله لوړې زده کړې نه ترسره کوي، په ځانګړی ډول ښځینه. موږ په ډیره اسانی سره

کولای شو څرګنده کړو، چې ټول هغه غیر محصلین چې موږ ورسره خبرې ترسره کړې هیله مند وو، چې هغوي به وکولای شي خپل تعلیم ته دوام ورکړي او د دغه کار د پېښېدو لپاره هغوي هرې سربښندنې ته چمتو دي، خو ځېرنيزې ډلې ته د هغوي ترمنځ د تعلیم د تر لاسه کولو د لیوالتیا کچه نه وه څرګنده. دا هغه ډګر دی، چیرې چې موږ په دې اړه د لا زياتې ځېرنې وړاندیز کوو، څو په ډاګه شي، چې په ښارونو او لیرو پرتو سیمو کې د ښوونځیو د زده کوونکو او د هغو نورو ماشومانو ترمنځ چې له ښوونځیو څخه بهر دي، د لوړو زده کړو د ترلاسه کولو د لیوالتیا کچه په کومه اندازه ده. په کندهار کې ښځینه غیر محصلینو وویل، چې هغوي په دې باور دي چې یوازې ۳۰ سلنه نجونې غواړي لوړې زده کړې ترسره کړي، چې د دغو نجونو ۸۰ سلنه نجونې د کندهار د ښار یا نږدې سیمو اوسیدونکې دي. دغه شمیرې دا په ګوته کوي، چې د لیرو پرتو سیمو په پرتله په ښاري سیمو کې د لوړو زده کړو د تر لاسه کولو لیوالتیا زیاته ده.

## مخکنۍ زده کړې

د زده کړو هغه لړۍ، چې یو شخص باید له هغې تیر شي او پوهنتون ته ورسیږي، هغه څه دي چې زیاتره افغانی نجونې یې وړتیا نه لري. په تیرو لسو کلونو کې په لومړنیو ښوونځیو کې د نجونو شمیر په بې ساری ډول سره لوړ شوي دی، د ۴.۷ میلیونو زده کوونکو څخه ۳۹.۱ سلنه یې نجونې دي، خو په تاریخي ډول دغه شمیرې ډیرې ټیټې وې، د هغو نجونو په پرتله چې په ایران کې ۹۰.۴ سلنه، په سعودي عربستان کی ۶۷ سلنه او په پاکستان کې ۶۲ سلنه په لومړنیو ښوونځیو کې د هغوي د شاملیدو کچې وې.[148] د هغو نجونو شمیر چې په بریالي ډول منځنیو ښوونځیو ته ځي، په بې ساری ډول سره نه دی لوړ شوی. په وروستي ښوونیز (۲۰۰۹- ۲۰۱۰) کال کې ۳۳ سلینه د منځنیو ښوونځیو زده کوونکې نجونې وې.[149] د لیسو په کچه د نجونو شمیر نسبت هلکانو ته په زیاته پیمانه کمیږي، په لیسو کې د نجونو فیصدي ۲۶.۹ ده. په ۲۰۰۹- ۲۰۱۰ کال کې د ۳۰۴۱۷۶ هلکانو په پرتله ۱۱۲۴۱۷ نجونو په دولتي ښوونځیو کې ځانونه شامل کړي وو.

په افغانستان کې د لومړنۍ ښوونې/تعلیم په اړه یو شمیر ځېرنې ترسره شوي دی، چې ځینې یې دا واقعیت په ډاګه کوي، چې دا د هغو کورنیو لپاره یو غیر عادي کار نه دي، کومې چې خپلو لوڼو ته لومړنیو ښوونځیو ته د تګ اجازه ورکوي، او کله چې هغوي بلوغ ته نږدې شي، بیا یې له ښوونځیو څخه منع کوي. یوه راپور دا ومونده، چې "د هلکانو او نجونو دواړو لپاره د شاملیدو د اوج وخت د ۱۱ کلنۍ په عمر کې وي (پنځم ټولګی) او له هغې وروسته په ثابت ډول سره کمیږي."[150] سربیره پر دې، د شمولیت دغه شمیرې له واقعي حاضرۍ سره سر نه خوري، ځکه چې د زده کوونکو نومان په حاضرۍ کې ثبت وي خو تر څنګ یې لیکل شوي وي، چې "دایمي غیر حاضر" دی. د ښوونې د وزارت له خوا دغه کار تر دریو کلونو پورې مجاز دی، که له هغه وروسته زده کوونکي حاضر نشي بیا د زده کوونکي نوم له حاضرۍ څخه ایستل کیږي.

په څلورمو یا پنځمو ټولګیو کې د ښځینه زده کوونکو له خوا د ښوونځیو پریښودل د دوې لپاره په وروستیو لوړو زده کړو کې ډیر زیانمن ثابتیږي. په لومړنیو زده کړو کې کم شمیر زده کوونکي د منځنۍ دورې د زده کوونکو په شمیر کې کموالی راولي. پر دې سربیره هغه فشارونه چې غواړي لوڼې د واده په عمر کې له نامحرمو کسانو سره له پیژندګلوۍ څخه وژغوري په دې تماميږي چې په لیسو کی د ښځینه زده کوونکو شمیر له هلکانو څخه ډیر کم وي.

پر دې سربیره، په افغانستان کې د ښوونځي د عمر درلودونکو ماشومانو لپاره د لومړنۍ او منځنۍ دورې بسیا ښوونځي شتون نه لري. تر ۲۰۰۹- ۲۰۱۰ ښوونیز کال پورې، د نجونو لپاره یوزاې ۴۳۵ لیسې، ۹۷۹ ګډ ښوونځي او د هلکانو لپاره

148 (ایوبي ۲۰۱۰)
149 (د افغانستان اسلامي جمهوریت، د احصائي مرکزی دفتر ۲۰۱۰: ۶۲)
150 (جاکسون ۲۰۱۱: ۱۰)

۱۰۶۰ ښوونځي موجودي وي.[151]

## د ټيټې زده کړې کيفيت

د لوړو زده کړو په تر لاسه کولو کي د نجونو لپاره يو بل خنډ چې په ګوته شو هغه د زده کړې ټيټه سطح وه چي په لومړنيو او منځنيو ښوونځيو او ليسو کي تدريس کيږي.

دا په ځانګړي ډول د ښځينه غير زده کوونکو مرکه شويو له خوا وويل شوه، چي زياتره يې لوړو زده کړو ته د کانکور د ازمويني د نه کاميابي له امله لاس رسي پيدا نه کړای شو، يو شمير نورې هم وي چي پوهنتون ته له تګ څخه د خپلو کورنيو له خوا د امنيتي ستونزو له کبله منع کړای شوې وي.

د ۲۹ ښځينه غير محصلينو يعنې د ليسو د فارغينو له جملي څخه چي موږ خبرې ور سره کړي وې، ۲۴ تنو يې وويل، چې د دوي د لوړو زده کړو د نه ترلاسه کولو تر ټولو ستر لامل د کانکور په ازموينه کي د دوی ناکامي ده. دا په دې مانا، چي دوي په دې نه دي توانيدلي چي حتی ۱۰۰ نومرې چې د هرې يوی پوهنځي د شامليدو د پاره ضروری دي تر لاسه کړي، يا په دې مانا چي دوي د خپلې خوښې او يا هم د دوي د کورنۍ د خوښې پوهنځي ته اړينې نومرې نه دي تر لاسه کړي څو اړونده پوهنځي ته داخلې شي. دغه معلومات په ګروپي مباحثو کي مشخص شوي نه دي، خو هغه څه چي موږ يې له دې نه درک کوو هغه دا دي، چي نجوني د کانکور له ازمويني سره ستونزې لري او په دې نه توانيږي چي د لوړو زده کړو د تر لاسه کولو لپاره اړينې نومرې تر لاسه کړي. دا همدارنګه هڅوونکي دی چي دغو ټولو ۲۴ تنو نجونو څرګنده کړه چي دوي لا تر اوسه هم پوهنتون ته د تګ ليوالې دي او زيات زيار باسي څو د بل ځل لپاره د کانکور په ازموينه کي ګډون وکړي، په دې هيله څو ښې نومرې تر لاسه کړي. دا د ټولو اوو ولايتونو په کچه صدق کوي.

له مختلفو ولايتونو څخه څلور نورې زده کوونکې وي، چي له مختلفو پيښو سره مخ شوې وي. يوه يې د کابل په پوهنتون کي منل شوي وه، خو د هغې تره له دې سره مخالفت وکړ چي هغه دې له باميان څخه و کابل ته پوهنتون ته ولاړه شي. له کندهار څخه يوه ښځه پوهنتون ته منل شوي وه، خو د هلمند د زارعت پوهنځي ته، چي هغې نه غوښتل هلته لوست وکړي. د يوې بلې زده کوونکي کورنۍ پيسې نه درلودې چې د هغې د پوهنتون د لګښت له عهدې څخه ووزي. په بلخ کي بلې زده کوونکي پريکړه کړې وه، چي بيا په ازموينه کي ګډون وکړي او په يوه خصوصي پوهنتون کي خپلې زده کړې ترسره کړي. يوه بله ميرمن په بشپړ ډول له بل قسم پيښې سره مخ شوې وه. هغه د کندهار په پوهنتون کي منل شوې وه او د څو کلونو لپاره يې خپلو زده کړو ته دوام هم ورکړ، خو د هغې پر مخ تيزاب و پاشل شو. له پيښې وروسته هغې د يوه کال لپاره پوهنتون پرېښود او له يوه کال وروسته کله چي بيرته پوهنتون ته راستنه شوه، هغې ته وويل شول، چي ته له پوهنتون څخه ايستل شوې يې. نوموړې مصممه وه، چي بيرته پوهنځي ته وګرځي، هغه په فعال ډول د تخنيکي تفصيلاتو په برابرولو کار کوي، څو د دوهم ځل لپاره د کندهار په پوهنتون کي ونيول شي.

## کلتوري مسئلې

پنځم تر ټولو زيات عمومي خنډ کلتوري ستونزې وي. دغه ځواب موږ له لويانو څخه ډير واوريد تر دې چي خپله زده کوونکي يې ووايي. ښځينه زده کوونکو دغې ستونزې ته نهمه درجه ورکړې وه، په داسې حال کي چي د پوهنتون استادانو په لومړۍ درجه کي ځای ورکړی و.

---

151 (د افغانستان اسلامي جمهوريت، د احصائي مرکزی دفتر ۲۰۱۰: ۶۳)

په داسي حال کي چي کم شمیر خلکو وکولای شوای چي په مفصل ډول دغه ستونزي تشریح کړي، ځیرنیزه ډله وتوانیدله چي د ټولنیز چاپیریال او د نورو یادو شوو خنډونو د ادراک له لاري د هغوي په مفهوم باندي ځان پوه کړي، لکه له وخته مخکي واده، ښوونیز ضد سلوک، د کورنۍ حیثیت ته د زیان د رسیدو په اړه اندیښني، او د ګډو یا مختلطو زده کړو نه منل. کله چي دغه په جدا ډول لست شوي خنډونه د کلتوري یا عنعنوي خنډونو په ځیر په موانعو کي شامل شول، کلتوري مسئلي د پوهنتون د اداري او پوهنځي، محصلینو، میندو پلرونو، غیر محصلینو او د وزارت د کارمندانو تر منځ تر ټولو زیاته راپورته شوي اندیښنه ګڼل کیده.

دا په افغانستان کي د میرمنو او سړیو لپاره غیر معمول نه دي چي په ځوانی کي واده وکړي، د ټولو ودونو د اټکل شوی ۶۰ سلنه ناویانو عمرونه له ۱۶ کلنی څخه ښکته وو.[152] په عنعنوي ډول، له واده سره یو شمیر مسئولیتونه، د ماشومانو د روزني په ګډون رامنځته کیږي. نو د دي امله، ډیري کمي کورنی دي چي له واده وروسته واده شوي ښځي ته په پوهنتون یا لیسه کي د زده کړو د تر لاسه کولو اجازه ورکوي. د هرات پوهنتون دا هڅه وکړه، چي دغي کلتوري ننګوني ته د رسیدګي په موخه د پوهنتون په ساحه کي د ماشومانو د پاملرني خدمتونه برابر کړل، کوم چي له ښځینه محصلینو، پوهنځي او کارمندانو سره مرسته کوي چي خپل ماشومان له ځانه سره پوهنتون ته راولي او هغوي ته د زده کړو د تر لاسه کولو لپاره وخت ورکړي. سره له دې چي دغه اقدام د دې لپاره ترسره شوي وو، چي ښځي په پوهنتون کي زده کړې یا کار وکړي، د نورو ښځو لپاره د حجاب د عنعنوي مفکورو د تسلط له امله د هغوي د میړونو یا د کورنی د غړیو له خوا د زده کړو فرصت له منځه یوړل شوي دی. موږ د دغي ننګوني په اړه د لا زیاتو ځیرنو سپارښتنه کوو، څو په ډاګه شي، چي دغه ستونزه د زده کړو په کومه کچه څومره خپره او هر اړخیزه ده، څو د اړینو او مشخصو معلوماتو کمپاینونه ترسره شي.

ځیني کورنی خپلي ځواني ناویاني له زده کړو څخه په دې خاطر منع کوي، ځکه چي هغوي فکر کوي، چي زده کړې ډیري ضروري نه دي، په ځانګړی ډول د ښځو لپاره، یا په دې باور دي، چي دغه کار د اسلامي زده کړو خلاف دی. دغه ډول مفکورې د مشهورو مذهبي مشرانو له خوا حمایه کیږي، په ځانګړی ډول د ننګرهار او کندهار په ولایتونو کي، سره له دې چي دغه ډول اعتقادات د هیواد په نورو ولایتونو کي هم موجود دي. ځیني دغه ډول د ښووني ضد مفکوری په دې باور دي، چي هغه څه چي په رسمي ښوونځیو کي تدریس کیږي د لویدیځ لارښوونه ده او دا به د هغو کسانو چي ښوونځي ته ځي د اسلام له سمي لار څخه د هغوي د بې لارې کیدو لامل شي.

هغه وګړي چي د دغي ارزوني په موخه ورسره مرکي شوي دی، هیڅ یوه یې د زده کړو ضد مفکوره نه درلوده، خو دوي دا احساس کاوه، چي په ټولنه کي نور د نفوذ خاوندان دوي تر خپلي اغیزې لاندې ساتي، په ځانګړی ډول په لیرو پرتو سیمو کي، کوم چي موږ د حیثیت تصور او فکر ته رهنمایي کوي. له اوو ولایتونو څخه ځیرنیزې ډلي ته یو شمیر اشخاصو وویل، یو شمیر کورنی شته چي غواړي خپلي لوڼي ښوونځیو ته واستوي، خو د هغو نفوذ لرونکو خلکو له خوا تر فشار لاندې نیول کیږي چي د زده کړو ضد مفکورې لري. دغه کورنی په دې پوهیږي که چیرې دوي خپلو لوڼو ته ښوونځیو ته د تګ اجازه ورکړي، د دوي د لوڼو حیثیت به له منځه ولاړ شي، هغوي ته په بده سترګه کتل کیږي، چي په پای کي دا پر ټولي کورنی ناوړه اغیزه کوي. نو دغه کار د دې لامل کیږي چي زیاتره کورنی خپلی لوڼي په کور کي وساتي، څو هغوي د ګاونډیانو او خپلوانو له ګونګسو او آوازو څخه وژغوري. دا د کورنیو لپاره خورا ستونزمن کار دی، چي دغه ډول ټولنیز فشار له پامه وغورځوي، لکه څرنګه چي تورن حیثیت ډیرې منفي او ځیني وختونه هم ډیری هیښوونکي پایلي لري، په ځانګړی ډول د افغانستان په لیرو پرتو ټولنو کي، چیرې چي ټولنیزې اړیکي د ټولنیز خوندیتوب یوازنی د لاس رسي وړ جال دی.

دا موږ تر ټولو وروستی کلتوري تشخیص شوې ستونزې ته رهنمایي کوي، هغی مفکورې ته چي ګډې یا مختلطي زده کړې

[152] (ایرن ۲۰۰۵)

د منلو وړ نه دي. يو ځل بيا، له هغو اشخاصو څخه چې مرکې ور سره شوي دی، يوه هم ځيرنيزې ډلې ته و نه ويل، چې ګواکې هغوي داسې څه احساس کوي، خو هغوي په دې ټينګار وکړ، چې ځينې مشران او هغه کسان چې عنعنوي مفکوري لري، په دې باور دي، چې ميرمنو ته بايد اجازه ور نه کړای شي، څو له خپلوانو پرته له نورو کسانو سره راکړه ورکړه يا انفعال ولري. دغه موضوع د دوي د کورنۍ د لوړو د حيثيت په اړه د مخکې يادو شويو انديښنو سره تړاو لري. ځينې په دې اند دی چې د مختلفو کورنيو د سړيو او ميرمنو يو ځای کيدل ګناه لري او د اسلام سره په ټکر کې دي، خو يو شميرنور اشخاص وه، چې د دې برعکس يې فکر کاوه، هغوی په دې آند وه چې د زده کړې ګټې د ښځو او سړيو له جدا کولو څخه زياتې مهمې دي، ټولنيز فشار چې نبايد ټولنيز نورمونه تر پښو لاندې شي، خورا غښتلی دی، په ځانګړی ډول په ليرو پرتو سيمو کې.

## ترانسپورټ

زياتره محصلين بايد پوهنتون ته له کورونو يا له ليليو څخه سفر وکړي، که چيرې د هغوي ليليې د پوهنتون په ساحه کې موقعيت و نه لري. په څو اړخيزه کچو دا يوه انديښنه ده. لومړی، خلک د محصلينو د خونديتوب په اړه انديښمن وي کله چې هغوي پوهنتون ته سفر کوي، په ځانګړی ډول د هغو ښځينه وو محصلينو لپاره چې ځينې وخت له ځورونو سره مخ کيږي، لکه څرنګه چې په کندهار کې په يوې ښځينه محصلې باندې د تيزابو بريد شوی وو، يا د بلخ په پوهنتون کې د ښځينه محصلينو په اړه د جنسي ځورونې راپورونه.[153] دغه ډول پيښې د کورنيو او پخپله د ښځو لپاره د زياتې انديښنې سبب ګرځي. په باميان، بلخ او ننګرهار کې ښځينه محصلينو له ځيرنيزې ډلې سره پوهنتون ته د تګ په لار کې ور پيښې شوې واقعات شريک کړل. په ننګرهار کې ښځو وويل، چې خلک د دوي د ليليو په ديوالونو باندې جملې ليکي، هغوي ته بې مغزه خطاب کوي، او هغوي تورنې کوي، چې ښې مسلمانانې نه دي. په باميان کې ښځينه محصلينو راپور ورکړ، چې هغوي پوهنتون ته په لار او په خپله د پوهنتون په ساحه کې د خلکو له خوا ځورول کيږي. محلي هلکان، مشران او حتی پخپله د پوهنتون نارينه محصلين هغوي ته بدې خبرې کوي. په بلخ کې ښځينه محصلينو وويل، چې دوي په لارو کې د هلکانو، نارينه محصلينو، پوليسو او ځينې وختونه د استادانو له خوا ځورول کيږي. د ښځو لپاره د دغه ډول ځورونو سره مخ کيدل ډير سخت دي او د دوي د کورنيو لپاره خورا ډارونکې دی، څوک چې غواړي هغوي خوندي وساتي. په داسې حال کې چې په بدخشان، هرات، کابل او کندهار کې ښځينه محصلينو د ځيرنې ډلې ته وويل، چې دوي پوهنتون ته د تګ په اړوند له هيڅ ډول ځورونو سره مخ نه دي، يوې ښځينه محصلې، چې په غالب ګومان د تيزابو د بريد قرباني وه څرګنده کړه، چې په دغو ښارونو کې پوهنتونونه په بشپړ ډول له ګواښونو څخه خوندي نه دي.

له دې سره سره، په افغانستان کې د تګ راتګ ناامني چې د ټولو مسافرينو لپاره، لکه تعبيه شوي چاوديدونکي توکي، ځانمرګي بريدونه، ماينونه، ترافيکي پيښې او پوهنتون ته د تګ په لار کې خطرونه د ځينو کورنيو په نظر د ډيرو سترو ګواښونو څخه ګڼل کيږي. پر دې سربيره، د تګ راتګ لګښتونه هم زيات دی، په کندهار کې يوه پلار موږ ته وويل چې دې هره ورځ ۵۰۰ افغانۍ د تيلو مصرف ورکوي چې خپله لور پوهنتون ته بوزي او له هغه ځای څخه يې بيرته کور ته راولي. هغه وايي چې هغه دا کار د دې لپاره کوی چې لور يې پوهنتون ته په تګ راتګ کې له خطر سره مخ نه شي. محصلينو په ننګرهار کې راپور ورکړ، چې دوي هره ورځ له کور څخه پوهنتون ته د تګ راتګ لپاره ۱۰۰ افغانۍ لګوي.

له خونديتوب او اقتصاد سره تړلې انديښنې، ترانسپورټ يوه د پام وړ موضوع ګرځوي. په داسې حال کې چې دغه موضوع تر ټولو زيات شپږم خنډ په ګوته شوي دی، خو کله چې د هغو سپارښتنو په اړه وپوښتل شول، چې کولای شي زده کړو ته د ميرمنو لاس رسي بهتره کړي، ترانسپورټ يوازې د شپږو ښځو له خوا ياد شوی وو. دغه توپير په زړه پورې او بايد په پام

[153] (عبد الباقي ۲۰۰۹)

کې ونيول شي. که چېرې ترانسپورت په رښتيا يو خنډ وي، نو معقوله ده چې د ښځينه محصلينو د ارزانه او خوندي ترانسپورټي و سايلو لپاره بسيا هڅې ترسره شي.

### د ښځينه استادانو نشتوالی

د ښځينه استادانو په نشتون باندې د اشخاصو له خوا کله چې يې د افغان ښځينه محصلينو د زده کړو د تر لاسه کولو ستر خنډونه په ډاګه کول، زيات ټينګار نه دی شوي، دا هغه څه وو، چې د ګروپي بحثونو ګډونوالو په دې اړه د کافي وخت لپاره خبرې اترې ترسره کړې دی.

په ټوله کې په افغانستان کې، په دولتي ښوونيز سيستم کې د پوهنتون په کچه يوازې ۱۴.۷ سلنه استادان ښځېنه دي.[154] يو عام توافق او رضايت موجود دي، چې د پوهنتون سيستم اړتيا لري، چې زياتې ښځينه استاداني وګماري چې په دې ډول سره به د جنسيت توازن هم بهتره کړای شي.

د پوهنتون د اداره کوونکو او استادانو له نظره، د پوهنتون په چاپيريال کې د ښځينه استادانو شتون د رهبري کوونکي نموني په توګه، کولای شي نجوني پوهنتون ته وهڅوي او د ځينو هغو کورنيو د انديښنو په راکمولو کې مرسته کولای شي، چې هغوي يې د خپلو لونو يو داسې چاپيريال ته د هرې ورځې د ننوتلو په اړه لري، چې زياتره يې نارينه دي. ځينو هغو استادانو چې په دغه څېړنه کې يې ګډون کړی وو، داسې احساس کاوه، چې د ښځينه استادانو شتون به نه يوازې د ښځينه محصلينو شمير زيات کړي، بلکې د هغه درناوي په کچه به هم مثبت اغيز ولري، کوم چې ښځو ته په ټولنه کې ورکړل شوی دی. په هرات کې استادانو داسې احساسوله چې د ښځينه استادانو کمښت د ښځينه محصلينو لپاره ناهيله کوونکی حقيقت دی، ځکه دوي په راتلونکی ژوند کې د نورو امکاناتو په اړه له اوسنيو مثالونو څخه الهام اخلي. لکه څرنګه چې په څلورم جدول (له اوو پوهنتونونو څخه د جنسيت احصائيی) کې معلوميږی، په داسې حال کې چې له راټولو شويو ارقامو څخه کوم مستقيم تړاو نه شي تر لاسه کيدای، خو په عام ډول، هغه پوهنتونونه چې په لوړه سلنه ښځينه استادانی لری د هغوی د ښځينه محصلينو د شمير سلنه يې هم لوړه ده.

| | پوهنتون | ښځينه محصلينی (فيصدی د مجموعی نه) | ښځينه استادانی (فيصدی د مجموعی نه) | ښځينه کارمندانی (فيصدی د مجموعی نه) |
|---|---|---|---|---|
| 1. | هرات | 31.2 | 18.5 | 19.6 |
| 2. | کابل | 27.4 | 19.3 | 20.1 |
| 3. | بلخ | 24.1 | 24.0 | 32.5 |
| 4. | بدخشان | 13.7 | 10.6 | 1.7 |
| 5. | باميان | 4.5 | 27.6 | 8.1 |
| 6. | کندهار | 3.7 | 2.9 | 10.9[155] |
| 7. | ننګرهار | 2.9 | 2.8 | 2.0 |

**څلورم جدول: له اوو پوهنتونونو څخه د جنسيت احصائيی**

154 (د افغانستان اسلامي جمهوريت، د احصائي مرکزی دفتر ۲۰۱۰: ۴۵)
155. تمام کارمندان اناث در سال گذشته استخدام شده اند.

د طالبانو د رژیم پر مهال په ټولو کچو د ښځو لپاره د ښوونیزو فرصتونو نشتون، د لوړو زده کړو پر بیا رغونې منفي اغیزې پر ځای پرې ایښي دی. ښځینه زده کوونکو ته اجازه نه ورکول کیده چې لوړې زده کړې ترلاسه کړي، کوم چې د لوستو ښځو د واټن لامل شو چې د لوړو زده کړو په ادارو کې د استادي مقامونه تر لاسه کړي. دغه ستونزه به تر هغه دوام وکړي، ترکومه چې د عامه زده کړو په ډګر کې د جنسیت موضوع غیر متوازنه وي. د دولتي پوهنتونونو په سیستم کې د ښځو لپاره د استاد کیدلو تر ټولو ستر خنډ د ښځینه فارغانو نشتون دی. آن تردې هغه ښځې چې لوړې زده کړې یې تر لاسه کړي هم وي، کیدای شي مستحقه نه وي، استادي ته نوماندان باید لږ تر لږه ۷۵ سلنه اوسط په پوهنتون کی تر لاسه کړي وي او په هیڅ یوه مضمون کې هم باید نه وی پاتې شوي، تر څو د پوهنتون استاد شي.

د استادي پوستونه د لوړو زده کړو د وزارت له خوا د هغوي د ویب پاڼې، د راډیو، تلویزیون او ورځپاڼو له لارې اعلانیږي. له کومو استادانو سره چې موږ خبرې کړي دی، په دې باور وو، چې ښځې د نومړو پوستونو د اعلانیدو څخه د خبرتیا په اړه کومه ځانګړی ستونزه نه لري، خو د هغو ښځو لپاره چې د استادي لپاره یې اسناد وړاندې کړي دی د ګمارنې پروسه یی خورا ستونزمنه ده. د ګمارنې د پروسې دغه ستونزمنتوب په دې خاطر نه وو، چې ګواکي له هغوي سره بل ډول چلند کیده، بلکې په دې خاطر وو، چې ښځې د نارینه نوماندانو په پرتله له مختلفو ټولنیزو ننګونو سره مخ وې.

د ګمارنې اوږدمهاله پروسه او هغه ستونزې چې ښځې یې کابل ته په سفر کې لري، څو د لوړو زده کړو د وزارت له مسئولینو سره وګوري، د ښځو لپاره تر ټولو سترې ټولنیزې ننګونې وي. په دې وروستیو کلونو کې د لوړو زده کړو وزارت د دولتي پوهنتونونو لپاره د استادانو د ګمارنې پر پروسه تمرکز کوي. په دغه پروسه کې نوماندان باید کابل ته ولاړ شي، څو په رقابتي پروسه کې ګډون وکړي، چې په کې ازموینه، مرکې، د لکچر ورکول او د انتخاب نور فعالیتونه شامل دي.[156] دغه چارې به زیاتره له ولایتونو څخه د میرمنو لپاره ناشونې وي، یا خو د کورنی مسئولیتونو د امله لکه، ماشومان، د هیواد مرکز ته له محرم پرته د سفر کولو په اړه اندیښنه، اقتصادي محدودیتونه او یا خو به د ښځې خاوند او یا د کورنۍ بل غړي هغې ته د سفر اجازه نه ورکوله. د ګمارنې له پروسې داسې څرګندیږي، چې ګواکې هغه، ځینې میرمنې د استاد د انتخاب په پروسه کې له ګډون څخه منع کوي.

پر دې سربیره، د لومړني کال دواړو جنسیتونو د استادانو لپاره بله ستونزه د امتحاني دوري کمه تنخوا ده. وروسته له هغه چې نوماند د لوړو زده کړو د وزارت له خوا انتخاب او په رسمی ډول وګمارل شي، استاد بیرته هغه ولایت ته استول کیږي، چېرې چې به هغه تدریس کوي، د یوه کال امتحاني دورې لپاره، استاد زیاتره داسې ولایت ته استول کیږي، چې کیدای شي هغه په کې د تدریس هیله و نه لري. په دغه دوران کې، هغوي باید د لوړو زده کړو د وزارت د مجربو استادانو له خوا نقد او و ارزول شي، خو موږ ته وویل شوه، چې دا کار ډیر کم ترسره شوي دی. د دغې یوې کلنې اوږدې مودې لپاره تنخوا له ۳۰۰۰ څخه تر ۳۵۰۰ افغاني پورې وي، چې د استاد کیدو په لار کې یو خنډ او ستونزه په نظر راځي، یوازې ډیر کم خلک د یوه کال لپاره د دومره کمې تنخوا د ګټلو له عهدې څخه وتلای شي.

په عام ډول د ځینو هغو میرمنو له نظره چې په پوهنتونونو کې کار کوي، د ګمارنې د پروسې ځینې بنې د ښځو لپاره خنډونه ګڼل کیږي. کلتوري خنډونه، له کور څخه د باندې د کار کولو لپاره د خاوند د اجازې تر لاسه کول، د کورنۍ د ماشومانو پاملرنه، او په پوهنتون کې د کار له امله د کورنۍ د بد حیثیت ویره په پوهنتونونو کې د استادانو په څیر د ښځو د کم شمیر مرستندویه لاملونه ګڼل کیږي.

---

[156] استادانو او د پوهنتون اداري کارمندانو څیړنیزې ډلې ته وویل، چې پخوا به زیاتره دغه پروسه په اړونده ولایت کې ترسره کیدل، او کله به چې د پوهنتون ادارې یو نوماند انتخاب کړ، د تصویب لپاره د هغه کاري پاڼې د لوړو زده کړو وزارت ته استول کیدې. له دې وروسته به هغه ګمارل کیدی او په رسمی ډول به د پوهنتون استاد کیدی.

د ښځو د لوړو زده کړو د استاد کيدو بل اضافي خنډ د مافوق ليسانس او ماستري دوري په کچه زده کړو ته د هغوي نه لاس رسي په ډاګه شوي دی. په داسي حال کي چي د ښځو لپاره له هيواد څخه بهر تعليمي سکالرشيپونه (بورسونه) د لاس رسي وړ دي، خو ډيرې کمي د دې جوګه دي، چي له هيواد څخه بهر ولاړې شي او دغه تحصيلي سندونه ترلاسه کړي. د پورته يادو شوو لاملونو له امله زياتره ښځې د سفر کولو له محدوديتونو سره مخ دي. يو شمير سکالرشيپونه هندوستان او بنګلديش ته موجود وه، چيرته چي افغانی ميرمنو کولای شواي، چي له خپلو ماشومانو سره نوموړو موقعيتونو ته سفر وکړي، کوم ته چي د پوهنتون اداره کوونکي د يوه حل په توګه ګوري، خو د هغوي د يوازې سفر کولو په اړه کلتوري او کورنۍ انديښني نه دي په ډاګه کړای شوې. په سيستم کي د ټيټ تحصيل درلودونکو ښځينه استادانو شتون په دې مانا دی، چي ډير کم شمير ښځينه استاداني په لوړو پوستونو کی کار کوي، کوم چي د نړيوالو مرستندويانو او هم د وزارت د کارمندانو له خوا يوه ستونزه ګڼل کيږي.

په افغانستان کي د ښځو لپاره د مافوق ليسانس د تحصيلي دوري نشتون، په پوهنتون کي د هغوي د استاد کيدو امکانات لا پسي محدود کوي. لکه څرنګه چي مخکي وويل شول، د هغو استادانو شمير چي د ليسانس څخه لوړ تحصيلي اسناد لري، په هغه اندازه لوړ تحصيلي اسناد نه دي، لکه څرنګه چي يې د لوړو زده کړو وزارت غواړي، او دا د ښځو په برخه کي ډير واقعيت لري، تر کومه چي د هغوي تحصيلي امکانات لا زيات محدود دي.

له هغو ښځينه استادانو سره چي موږ خبري ترسره کړي دی، د خپل کاري چاپيريال په اړه د ويلو لپاره ډير مثبت څه درلودل. دوي وويل، چي له دوي سره د هغوي د نارينه وو همکارانو په څير برابر او منصفانه چلند کيږي، پرته د باميان له پوهنتون څخه، چيرې چي ښځينه استادانو وويل، چي نارينه وو استادانو ته استوګنځايونه او ترانسپورت برابر شوي دی، په داسي حال کي چي هغوي ته له دغو توکو څخه يو هم نه دي ورکړل شوي. څيرنيزه ډله و نه توانيدله چي د دوي دغه ادعا په خپلواک ډول تصديق کړي. د هرات د پوهنتون ښځې د هغوي د ماشومانو لپاره د پوهنتون له خوا د پاملرني د برابرولو له امله مننديه وي، کوم چي دوي ته يې اجازه ورکوله چي په دفتر کي د زيات وخت لپاره پاتي شي. په عام ډول سره، پوهنتونونه په دې لټه او هڅه کي وو، چي ښځې په پوهنتونونو کي د داخليدو په خاطر وهڅوي. د پوهنتون د اداري غړو څيرنيزې ډلي ته وويل، چي دوي هڅه کوي د ښځو لپاره يو ښه کاري چاپيريال رامنځ ته کړي، سره له دې هغوي داسي کوم مثال وړاندې نه کړ، چي د دغه کار لپاره هغوي کوم کار او څرنګه ترسره کوي. ښځينه استادانو په پوهنتون کي د ځورونې د ډيرو کمو پيښو په اړه راپور ورکړ، که څه هم په کندهار کي هغوي د پوهنتون له ساحي بهر ځيني وختونه ځورول شوي دی، هغه هم له پوهنتون سره د تړاو په پلمه.

پوهنتونونو په مختلفو کچو کي د ښځينه استادانو په هڅوني کي ګډون کړی دی. که څه هم د بلخ د پوهنتون اداره کوونکو وويل، چي د دې لپاره چي ښځينه استاداني وهڅوي څو په پوهنتون کي د استادي لپاره خپل اسناد ورکړي، کوم ځانګړی کار نه کوي، ځکه چي هغوي په دې ډګر کي بريالي دي او د هغوي د استادانو ۲۴ سلنه استادان ښځينه دي، خو د نورو ټولو پوهنتونو اداره کوونکو په ډاګه کړه، چي دوي ټل ښځې دغه کار ته هڅوي. سره له دې، نورو پوهنتونونو لکه د باميان، د ښځينه استادانو لپاره په اضافي روزني او ورکشاپونو باندې کار کاوه.

## اضافي خنډونه

اضافي خنډونه هغه خنډونه دي، چي ډيره يادونه يې نه ده شوي، خو لا هم حقيقي خنډونه ګڼل کيږي او بايد په پام کي ونيول شي. ځينو محصلينو موږ ته وويل، دا ډير غير معمول نه دي، چي کورنۍ د لونو په پرتله د خپلو زامنو زده کړو ته لومړيتوب ورکوي، ځکه چي د دوي اقتصادي حالت دوي ته د دواړو د زده کړو د تمويل اجازه نه ورکوي او د هلکانو تعليم

نسبت نجونو ته زيات اړين بولی، لکه څرنګه چې به هغوي په راتلونکی کي د خپلو کورنيو مسئوولين وي. ځينو ښځينه زده کوونکو، په ځانګړی ډول په کندهار کي څرګنده کړه، چې زياتره ښځي د لوړو زده کړو په ترلاسه کولو کي زياته ليوالتيا نه لري، په هر صورت که هغه د معلوماتو د نشتون، نه ليوالتيا، د حيثيت د زيانمن کيدو ويره يا د نورو سببونو له امله وي، دا هغه څه دي چې په اړه يي بايد په معلوماتي کمپاينونو کي لا زياتي څيړني ترسره شي. يو شمير ميندو په دې اړه خبرې وکړي، چې څرنګه د مناسبو او خوندي ليليو نشتون د لوړو زده کړو په تر لاسه کولو کي د نجونو لپاره يو خنډ وو. يو شمير محصلانو، د پوهنتون کارمندانو او پلرونو وويل، چې دوي فکر کوي چې په پوهنتونونو کي د ماشومانو لپاره د پاملرني نشتون، ښځي له تعليم څخه منع کوي، نو بايد هغوي په کورونو کي پاتي شي او خپل ماشومان وروزي. په پای کي، د ښځو لپاره د مافوق ليسانس د مناسبو تحصيلي امکاناتو نشتون هم په ګوته شو. سره له دې چې دغه فکتور د پوهنتون او وزارت له يو شمير کارمندانو له خوا ذکر شو، خو دا يو مهم فکتور دی او بايد چې په معلوماتي کمپاين کي اضافه کړای شي. په داسې حال کي چې زده کړې پخپل ذات کي ډيرې مهمې دي، په دی اړه د معلوماتو برابرول، چې دا څرنګه کولای شي، يو فرد، د هغه کورنۍ او د هغه هيواد ته ګټه و رسوي، او دا به د ډيرو کورنيو په تشويق کولو کی مرسته وکړي، چې له خپلو لونړو سره د لوړو زده کړو په ترلاسه کولو کی ملاتړ وکړي.

په دغه څېړنیزه پروژه کې ګډون کوونکو څېړنیزې ډلې ته زیاتې سپارښتنې وړاندې کړې دي، چې څرنګه کېدای شي په افغانستان کې لوړو زده کړو ته د ښځو لاس رسي بهتره او غښتلې کړي. د دوې غبرګونونه او ځوابونه د جوړښت د بدلونونو څخه نیولې بیا تر د ښوونې د سیستم او په ټوله کې په ټولنه کې په کلتوري بدلونونو پورې توپیر درلود. د هغوي نظریې د هڅوونکو او مثبتو عملي ګامونو، او نورو هغو وسیلو په اړه وي، چې ښځې او د هغوي کورنۍ په یوه افغانۍ پوهنتون کې د هغوي پرېښودو ته موافق او قانع شي. په دغو نظریو د ټولو له خوا سلا مشوره وشوه او د ګروپي ډلو له خوا پرې د مرکو پر مهال خبرې اترې ترسره شوې. راتلونکو سپارښتونو دغه وړاندیزونه په پام کې نیولي او هڅه کوي چې په اړه یې لا پراخ لید برابر کړي، څو په اوسني چاپېریال کې یې تطبیق شونی کړي.

## د پوهاوي کمپاین

تر ټولو زیاته یاده شوې سپارښتنه کله چې وپوښتل شول، چې څرنګه کېدای شي لوړو زده کړو ته د ښځو لاس رسي بهتره کړای شي، دا وه چې باید په ټول هېواد کې تعلیمي پوهاوي کمپاین ترسره شي. د اوو ولایتونو له هر ولایت څخه اشخاصو او د ټولو طبقو وګړو احساسوله، چې هېواد داسې پروګرامونو ته اړتیا لري، کوم چې له کورنیو او ټولنو سره د پوهنې د اهمیت په درک کولو کې په عام ډول، او د لوړو زده کړو د ارزښت په درک کولو کې په ځانګړي ډول مرسته کوي. همدارنګه دغه ډول کمپاین به په افغانستان کې د ځینو هغو دایمي مفکورو او اندیښنو په له منځه وړلو کې هم مرسته وکړي، چې ګواکې پوهه او زده کړه له اسلام سره په ټکر کې ده یا دا چې د لوړو زده کړو تر لاسه کول، یوازې د سست اخلاقه ښځو کار دی. د لوړو زده کړو په وزارت کې یوه چارواکي وویل، لوړو زده کړو ته د نجونو د هڅونې تر ټولو مهمه لار دا ده، چې د خلکو ذهنونه او فکرونه روښانه کړای شي. د پوهنتون ادارې او پوهنځي وړاندیز کاوه، چې د لوړو زده کړو لپاره د عامه پوهاوي پروګرامونه باید په لیسو کې ترسره شي، په داسې حال کې چې د وزارت کارمندانو او پلرونو فکر کاوه، که چېرې دغه ډول پروګرامونه په کلیوالو او لیرو پرتو ټولنو کې ترسره شي، اغیزه به یې زیاته وي. د دغه ډول معلوماتي کمپاینونو له ترسره کولو څخه داسې هیله کېږي، چې دا به د ښځو د لوړو زده کړو د تر لاسه کولو په اړه د ځینو کلتوري شخړو په له منځه وړلو کې مرسته وکړي.

موږ په دې باور یو چې مختلف وزارتونه باید په یوه هر اړخیز کمپاین باندې کار وکړي، چې په هغه کې له هغو مفکورو او نظرو څخه ګټه واخلي چې د ښځو د لوړو زده کړو د ګټو په اړه د مېندو پلرونو، محصلینو او نورو وګړو له خوا وړاندې شوې دي، او د پام وړ پیغام باید ټولو ته ورسول شي. د دې له درک کولو سره چې افغانستان له کمې تعلیمي کچې سره یو ستر هېواد دی، موږ د دې وړاندیز کوو، چې وزارتونه دې په راډیویي پروګرامونو باندې تمرکز وکړي، لکه څرنګه چې دغه کار د یو شمیر نورو پروګرامونو لپاره هم ترسره شوی دی، لکه د ملي پیوستون پروګرام (این ایس پي). راډیویي پروګرامونه د چاپي رسنیو یا هرې ټولنې ته له سفر څخه زیاته رسیدنه لري، له دې سره سره کولای شي چې د یو تماس یا اړیکي له لارې زیات شمیر مینه والو ته رسیدګي وکړای شي. خلکو ته د ښځو د لوړو زده کړو د مثبت پوهاوي د رسولو بله وسیله، له کومې چې په زیاتره نورو ټولنیزو او عامه پوهاوي لکه د ټاکنو او روغتیا په ډګر کې ګټه ځینې اخیستل شوې ده، د ګرځنده ننداریتونونو کارول دي. دغه ډول ننداریتونونه زیاتره له یو شمیر نامتو هنرمندانو له خوا ترسره کېږي، چې د بریالیتوب په اړه یې زیات راپورونه ورکړل شوي دي. دوې خپل پیغامونه ټولنې ته د میلمه کولو او خوشحالولو له لارې وړاندې کوي، او ځینې وختونه له دغې لارې پیغام د نورو وسیلو په پرتله ډېر په اسانه او ساده ډول رسیږي.

موږ همدارنګه د دې وړاندیز کوو، چې د پوهنتون د فارغینو د بریا کیسې، هم د نارینه وو او هم د ښځینه وو باید وړاندې

شی او هم په دې مفکوره چې د زده کړې تر لاسه کول هم په ښځه او هم په نر فرض دی، باید زیات ټینګار ترسره شي. يو شمير اشخاصو د دې وړانديز وکړ، چې محلي ملايان هم بايد په هر کمپاين کې راښکيل کړای شي، چې دا په خپله د ملايانو لپاره د يوه جلا کمپاين غوښتنه کوي، څو هغوي په عام ډول په هيواد، کورنيو او ټولنو باندې په پوهنتونونو کې د زيات شمير ښځينه محصلينو د درلودلو په ممکنه مثبتو اغيزو باندې پوه او خبر کړای شي. دغه موضوع، د پوهنتون د کارمندانو، محصلانو، غير محصلانو او د ميندو پلرونو له خوا راپورته کړای شوې وه. ځينو اشخاصو څېړنيزې ډلې ته وويل، چې اسلام له ښوونځيو څخه د ښځو د منع کولو پخاطر ځيني وختونه د يوې پلمې په څير کارول کيږي، دوي فکر کاوه، چې د اسلام په اړه دغه انځور او درک بايد تعديل شي، خو هغه وګړي چې دغه ډول مفکورې لري، بايد د اسلام له نظره د زده کړو په ارزښت قانع کړای شي.

دغه کمپاين بايد تر ټولو زياتې معمولي اووه ګټې يا لاملونه غوره کړي، چې ولې ښځې بايد لوړو زده کړو ته لاس رسي ولري، يا نور هغه لاملونه انتخاب کړي چې هغه د اوسني عامل چاپيريال سره سمون خوري. تر ټولو زياتې مهمې ګټې چې په دغه څيړنه کې وموندل شوي په دې ډول دي:

1. ښځې د ټولنې نيمه برخه جوړوي او ښوونې ته اړتيا لري، څو توازن رامنځ ته شي؛
2. لوستي ښځې د هيواد په پرمختګ کې مرسته کولای شي؛
3. د ښځو تعليم غښتلي ميندې منځ ته راوړي او هغوي ببيا يوه روغه رمټه کورنی او اولاد توليدوي؛
4. ښځې هم د زده کړو حق لري؛
5. ښځينه نرسانو، ډاکټرانو او استادانو ته اړتيا شته، او يوازې ښځې کولای شي دغه اړتياوې پوره کړي؛
6. ميرمنې د سړيو په څير اړتياوې لري، چې په دې کې لوړې زده کړې هم شاملې دي؛ او
7. په اسلام کې هم د دواړو ښځو او نارينه لپاره د لوړو زده کړو تر لاسه کول ضروري (فرض) دي.

پر دې سربيره، موږ د پوهنتون اداره کوونکو، کارمندانو او استادانو ته سپارښتنه کوو، چې د جنسيت پر بنسټ په ورکشاپونو کې ګډون وکړي. څو د ښځينه محصلينو او استادانو لپاره يو مناسب او ارام چاپيريال رامنځ ته کړي، او داسې يو احساس بايد موجود وي، چې د جنسيت برابري يعني څه، او تبعيض په ريښتني بڼه روښانه کړای شي. دغه وګړي د پوهنتون د مخ په څير دي او دوي بايد د هغو ښځو لپاره چې په پوهنتون کې په هره کچه ښکيلې وي، مرستندويه اوسي، دغه چاره کيدای شي په ځينو پوهنتونونو کې ترسره شي، خو په ټولو کې نه. په يوه ولايت کې يوې ښځينې استادې څيړنيزې ډلې ته وويل: "له يوه اړخه که څه هم زموږ رئيس ښه سړی او په ځينو برخو کې مرستندوی دی، خو هغه د پوهنتون د رئيس په توګه لا اوس هم ډير منفي ذهن لري. ځيني وختونه وايي، چې ښځې ددې جوګه نه دي چې په ځينو برخو کې کار ترسره کړي، د ښځې په څير، دوي نه شي کولای چې په سختو شرايطو کې له لوړ پوړو خلکو يا د نارينه محصلينو له ګټې ګوټې سره مخ شي." لکه څرنګه چې څرګنديږي، په ډاګه شوې نظريې د جنسيت د برابري د رامنځ ته کولو سره مرسته نه کوي.

موږ همدارنګه د ښوونې او د لوړو زده کړو په وزارتونو او پوهنتونونو کې د جنسيت د حساسيتونو په اړه د روزنيزو پروګرامونو (ټريننګونه) سپارښتنه کوو، څو له دې لارې هغوي د جنسيت د برابري په اړه له مختلفو موخو او هدفونو څخه خبر کړای شي او ښايي هغوي ته داسې معلومات وړاندې کړای شي، څو وکولای شي، چې دغه معلومات له هغو خلکو سره د مخ کيدو په حالت کې شريک کړي، څوک چې لوړو زده کړو ته د ښځو د لاس رسي سره مخالفت کوي. که چيرې دوي له دغه ډول معلوماتو له درلودلو سره چمتو کړای شي او د جنسيت په حساسو لارو عمل وکړي، دغه کار به په افغانستان کې لوړو زده کړو ته د ښځو لاس رسي بهتر او زيات کړي.

## امنیت

اتمه تر ټولو زیاته عمومي وړاندې شوې سپارښتنه امنیت وو، د امنیت بهتره کول خورا حیاتي دي، چې په پوهنتون کي د ښځینه محصلینو د شمیر په زیاتولو کي مرسته کوي. موږ په دې باور یو، چې دغه ستونزه له دې امله زیاته نه ده یاده شوې، ځکه چې زیاتره افغانانو ته د دغې ستونزې حل کول نږدې ناشوني ښکاري. د امنیت ټینګښت به زیاترو میندو پلرونو ته د دې اجازه ورکړي چې خپل ماشومان پرته له کومې ویرې څخه لومړنیو او منځنیو ښوونځیو ته واستوي. له لومړنیو ښوونځیو څخه له فارغیدو پرته، د منځنیو ښوونځیو زده کوونکي نه شي رامنځ ته کیدای او په ورته ډول د لیسو او پوهنتونونو لپاره هم حقیقت لري.

د ښوونې وزارت په لومړنیو او منځنیو ښوونځیو کې د زده کوونکو د شمیر پر زیاتوالي باندې کار کوي، چې له ۲۰۰۲ راهیسي یې په دې ډګر کې زیاتې بریاوې ترلاسه کړې دی، کله چې دوې ښوونځي ته د بیرته ستنیدو کمپاین ترسره کړ. په ښوونځیو کې د زده کوونکو شمیر په اټکلي ډول په ۲۰۰۲ کې له ۹۰۰۰۰۰ څخه ۶.۷ میلیونو ته په ۲۰۰۹ کال کې لوړ شو.[169] جاکسون لیکي، "د نجونو زیاتوالی په زیات ډول بی ساری وو: د رسمي شمولیت شمیرې د طالبانو له دورې څخه نیولې تر اوسه پورې په اټکلي ډول له ۵۰۰۰ څخه ۲.۴ میلیونه نجونو ته پورته شوي دی، چې اوس مهال په ښوونځیو کې شاملې دي."[170] دغه لاسته راوړنې له ګواښونو سره مل وي، او زده کوونکي به ښوونځي ته په لار ګواښل کیدل. دوي له تښتونې، د تیزابو د بریدونو، تعبیه شوي چاودیدونکو توکو او د ځانمرګو بریدونو څخه ویره درلوده. کورنی هم د هغوي د ماشومانو د روغتیا او ژوند په اړه اندیښمنې وي، په ځانګړی ډول د ښځینه ماشومانو په باب، څوک چې د هغوي په آند له بهرنیو ګواښونو څخه لا زیاتې ساتنې او حفاظت ته اړتیا لري. د امنیت په اړه د دوي د ویرې له منځه وړل به د دې لامل نشي چې، ګواکي کورنی به د ښوونځي د عمر ټول ماشومان ښوونځیو ته واستوي، ځکه لکه څرنګه چې موږ ولیدل یو شمیر زیات نور فکتورونه هم شته چې ښوونځي ته د ماشومانو په نه استولو کې د کورنیو په پریکړه کې شامل دي، که چیرې دا ستونزه له منځه یووړل شي، په دغه لار کې به یو تر ټولو ستر خنډ له منځه یووړل شي.

سره له دې چې دغه سپارښتنه د څیړنیزې ډلې له خوا تر ټولو ستونزمنه پیژندل شوې ده او تعقیب یې سخت کار دی. په هیواد کې د امنیت د ټینګښت هڅې په ۲۰۰۱ کال کې د طالبانو له سقوط راهیسې رواني دی، خو په دې وروستیو کلونو کې په ټول هیواد کې د ناامني کچه د پام وړ لوړه شوې ده. داسې هیله ښودل شوې ده، چې د ارتباطاتو د کمپاینونو له لارې به د زده کوونکو لپاره امنیت رامنځته شي، لکه څرنګه چې ټولنې په لوړه کچه او ویاړ سره د ښوونې قدرداني کوي.

## د ازموینې د چمتوالي کورسونه

د ازموینې د چمتوالي لپاره په کلتوري لحاظ د مناسبو او منلو وړ ټولګیو جوړول، دوهمه تر ټولو زیاته یاده شوې سپارښتنه وه، په ځانګړی ډول د محصلینو او غیر محصلینو لپاره. که څه هم، لکه څرنګه چې یې مخکې یادونه وشوه، د ازموینې لپاره د چمتوالي د ټولګیو پرته، په ازموینه کې د سړیو د ۵۰ سلنې په پرتله د ښځو د ۶۰ سلنې په درلودلو سره، ښځې له سړیو څخه د ازموینې په بریالیتوب کې مخکې دي. دا په دې مانا نه ده، چې ګواکې موږ د ښځو لپاره د ازموینې د چمتوالي ټولګي نه هڅوو، موږ په دې باور یو چې دغه ټولګي د ښځو د هڅوونې او ملاتړ یوه وسیله ده، خو دا موږ دې ته رهنمايي کوي څو په دې باور شو، چې که چیرې په لوړو زده کړو کې د ښځو د ګډون د زیاتوالي سرچینې محدودې وي، نو دا نه باید تر ټولو لومړی په ګوته شوي لامل وي.

169 (جاکسون ۲۰۱۱: ۴)
170 (جاکسون ۲۰۱۱: ۴)

موږ د دې سپارښتنه کوو، څو د لوړو زده کړو وزارت دا یقیني کړي، چې د نوموړې وزارت کارمندان د جنسیت په یو شمیر ورکشاپونو یا روزنیزو پروګرامونو کې ګډون کوي، څو هغوي ته په لوړو زده کړو کې د ښځو د ګډون په اړه د وزارت د هدفونو په باب روزنه ورکړای شي. داسې هیله کیږي، چې دغه ډول روزنې او ورکشاپونه به هغوي ته داسې معلوماتونه برابر کړي، چې په لوړو زده کړو کې به هغوي د ښځو د مدافعینو په څیر وي، او دا به له دوي سره په دې برخه کې مرسته وکړي چې عامو وګړو ته د وزارت هڅوونکې څیره وړاندې کړي، په ځانګړی ډول هغو ښځو ته څوک چې د لوړو زده کړو د تر لاسه کولو هیله منې دي.

موږ همدارنګه د دې وړاندیز هم کوو، چې د لوړو زده کړو وزارت باید د ازموینې ثابتې نېټې وټاکي په کومه نېټه چې په مختلفو ولایتونو کې ازموینه اخیستل کیږي، چې هر کال به په عینی نیټه ازموینه ترسره کیږي، څو دا یقیني کړای شي چې زده کوونکي د ازموینې له رېښتني نېټې څخه مخکې له مخکې خبر دي. دغه کار به دوي ته اجازه ورکړي چې د ازموینې لپاره ځانونه چمتو کړي، دا هغه څه دي چې ځینو غیر زده کوونکو احساس کاوه، چې د ازموینې د چمتوالي لپاره یې بسیا وخت نه درلود.

## هڅوونکي او ملاتړي پروګرامونه

دریمه تر ټولو زیاته وړاندیز شوې سپارښتنه د پوهنتون په سیستم کې د ښځو لپاره د ګټور عمل (مثبت تبعیض) د پالیسي پلي کول وه. په داسې حال کې چې د پوهنتون خلکو تفصیلات وړاندې نه کړل، چې دغه کار باید څرنګه ترسره شي، خو یو شمیر داسې وړاندیز وکړ چې نجونې باید د هلکانو په پرتله د کانکور په ازموینه کې زیاتې نومرې واخلي، څو د هغوي لپاره په پوهنتون کې د داخلیدو فرصت برابر شي. د پوهنتون یو شمیر رئیسانو یاده کړه، چې دغه کار تیار له مخکې ترسره کیږي، کوم چې د NAPWA (د افغانستان د ښځو د پاره ملی کاری پلان) د څرګند شویو هدفونو سره په انطباق او سمون کې دي. د مثال په ډول، موږ ته وویل شوه، چې په بامیان کې هغه نارینه زده کوونکي چې د کانکور په ازموینه کې ګډون کوي، اضافي پنځلس نمرې او ښځینه زده کوونکي شل اضافه نومرې تر لاسه کوي. په ورته ډول کار په ننګرهار او کندهار کې هم ترسره شوی دی.

ځینو اشخاصو احساسوله، چې ښځینه زده کوونکو ته د اضافي انګیزو او هڅوونو برابرول به د پوهنتون په پروګرامونو کې د ښځو د شمولیت د شمیر په زیاتولو کې ښه والی رامنځ ته کړي. چې په دې کې کیدای شي یوه ډیره کمه اجوره (یا جب خرڅ) شامله شي، لکه څرنګه چې به پخوا د ډاکټر نجیب الله د واکمنې پر مهال ترسره کیدل، کوم چې کیدای شي لږ تر لږه د هغوي د ترانسپورت لګښتونه تادیه کړي. یو شمیر میندو پلرونو څیرنیزې ډلې ته وویل، چې حکومت باید په داسې پروګرامونو باندې کار وکړي چې د پوهنتون د فارغینو لپاره د کار زمینه برابره کړي، په ځانګړي ډول د ښځو لپاره، په دې باور چې د دغه کار په ترسره کیدو سره به کورنۍ دې ته چمتو او وهڅول شي څو لازمي قرباني ورکړي او خپل ماشومان پوهنتون ته واستوي په داسې حال کې چې هغوي د دغه کار محسوسې ګټې ګوري، کومې چې د هغوي له قربانیو څخه رېښه اخلي. دغه تر ټولو زیاته نهمه عمومي وړاندې شوې سپارښتنه وه.

سره له دې چې څیړنیزه ډله په دې باور ده، چې هڅوونکي پروګرامونه به د هغو ښځو پر ژوند باندې مثبته اغیزه ولري، څوک چې دمګړۍ په پوهنتونونو کې دي، خو بیا هم موږ په دې متیقین نه یو چې ټول پورته یادې شوې انګیزې او هڅوونې به د هغو ښځو په شمیر کې کوم مستقیم بدلون رامنځ ته کړي، څوک چې لوړې زده کړې تر لاسه کوي. دغه پروګرامونه کیدای شي له هغو کم شمیر خلکو سره مرسته وکړي، څوک چې د لوړو زده کړو د تر لاسه کولو په لار کې له مالي او لوجستیکي خنډونو سره مخ دي او په احتمالي او مؤقت ډول له هغو ښځو سره چې د لوړو زده کړو په ترسره کولو کې له

ننګونو سره لاس او ګریوان دي، خو دا به د هغو ښځو لپاره ګټور نه وي، چا چې د لومړنیو او منځنیو زده کړو بشپړه دوره نه وي مکمله کړي. او نه به هم د هغو وګړو ذهنونه بدل کړای شي، څوک چې په دې باور دي، چې د ښځو تعلیم غیر ضروري یا خطرناک دي. دغه انګیزې او هڅوونې باید له پامه و نه غورځول شي، خو موږ د داسې نورو پروګرامونو د لومړیتوب وړاندیز کوو، چې هغه د دغو پروګرامونو په پرتله لا غښتلي او موثر وي، که څه هم هغه ممکن اوږدمهاله وي، کوم چې لوړو زده کړو ته د ښځو په لاس رسي کی اغیزه لري.

یو بل اضافي مرسته کوونکي پروګرام، کوم چې په ساده او اقتصادي ډول د تطبیق وړ دی، دا دی چې د پوهنتون محصلان یو له بل سره جوړه کړای شي، چیرې چې د پوهنتون پخوانی محصله له نوی سره مرسته کوي، چې څرنګه پوهنتون پیدا کړی او له هغه څخه ګټه پورته کړي، دغه کار کیدای شي پوهنتون ته له رارسیدو وروسته یا مخکې ترسره شي. ښایي هغه پوهنتونونه چې د ممکنه ښځینه محصلینو د میندو او پلرونو لپاره سفرونه برابروي، کیدای شي له موجوده ښځینه محصلینو سره وګوري، څو هغوي ته د نورو هغو ښځو مثالونه وښودل شي، څوک چې په بریالي ډول پوهنتون ته تللي دي.

## د پوهنتون په سیستم کی بدلونونه

د مهمو معلوماتی مرکو او ګروپی خبرو اترو یو شمیر سپاړښتونو په ټول کې د پوهنتون په سیستم باندی ټینګار کاوه. ځینو داسې احساسوله چې د ښځو او سړیو لپاره د پوهنځیو او یا پوهنتونونو جلا کول به د ښځو لپاره دغه چاره په ټولنیز ډول د منلو وړ وګرځوي، څو لوړو زده کړو ته لاس رسي تر لاسه کړي. ځینې وګړي په دې عقیده وه، چې ګډې/مختلطې زده کړې د منلو وړ نه دي او دا د دوي لپاره ستره انګیزه ده چې د ښځو د لوړو زده کړو په خلاف کار کوي. ځینې نور بیا له دغې مفکورې سره مخالف وه، او په دې باور وه، چې د جلا امکاناتو رامنځته کول یوازې د دوي په آند د پخوانیو مفکورو له سخت او جامد کولو سره مرسته کوي.

په داسې حال کې چې د ښځو او سړیو جلا کول، د نړی په زیاترو برخو کې معمول نه دي، یوازې په سعودي عربستان کې پوهنتونونه شته، چې یوازې د ښځو لپاره کار کوي. که څه هم د ښځو دغه ټول پوهنتونونه ستړې برياوې لري. باید په پام کې وساتل شي، چې د لوړو زده کړو د وزارت له محدودو سرچینو او په هیواد کې د استادانو د لاس رسي وړه بشري قوا په پام کې نیولو سره، د جلا خو د برابرو پوهنتونونو درلودل خورا ستونزمن کار دي څو په ریښتینې ډول ترسره او اداره شي، موږ په دې عقیده یو چې د افغانستان ښځو او سړیو ته هغه مهال په غوره ډول کار ترسره کیدای شي، کله چې دغه سرچینې د پوهنتون د سیستم د کیفیت په زیاتوالي باندې وکارول شي، نه دا چې یو بل موازي سیستم رامنځته کړای شي، په ځانګړې ډول لکه څرنګه چې د مرکو ورکوونکو له خوا ګډې زده کړې د تر ټولو زیاتو سترو خنډونو په منځ کی موجودی نه وی. په تعلیمي سیستم کې دغه ډول مثبت بدلون ژورو فکرونو، مناظرو او مباحثو ته اړتیا لري.

سره له دې، موږ د لوړو زده کړو وزارت د پوهنتون د سیستم پراختیا او غزیدنې ته هڅوو، څو په ټول هیواد کې د زیاتو زده کوونکو لپاره له داسې یو ځای څخه د لوړو زده کړو د ترلاسه کولو امکان برابر شي، چې د هغوي لپاره لا زیات مناسب او راحت وي، په ځانګړی ډول د ښځو لپاره، د چا لپاره چې نورو ولایتونو ته سفر او هلته استوګنه د لوړو زده کړو د نه تر لاسه کولو لامل ګرځیدای شي. په دې ډول به زیات شمیر پوهنتونونه او یا پوهنځي به لا زیاتو زده کوونکو ته د لوړو زده کړو د تر لاسه کولو اجازه ورکړي، پرته له دې چې د هیواد پرېښودلو ته اړ شي.

په ورته ډول، موږ ټول هغه کوښښونه هڅوو، چې د پوهنتون په کچه د ښځینه استادانو د شمیر په زیاتوالی کې مرسته کوي. یو عام احساس موجود دی، چې په پوهنتونونو کې د ښځینه استادانو شتون د ځوانو افغانو میرمنو لپاره د وخت د تیرولو تر

ټولو زیات د منلو وړ موقعیتونه دي. "ښځینه استادانو ښځې دې ته هڅولې دی چې له خپل نارینه همکار څخه د ویرې پرته زده کړې ترسره او خپلې نظریې یو له بل سره شریکې کړي"، دغه خبره له بدخشان څخه یوې ښځینه استادې په ډاګه کړه. دا همدارنګه د هغو ښځو لپاره کاري نمونې برابره وي، څوک چې یې په لټه کې وي. موږ همدارنګه په دې باور یو چې ټولې هغه هڅې چې د پوهنتونونو په ساحو کې د ښځو لپاره مساحت پراخ کوي او د هغوي لپاره رابلونکی وي، باید جریان ولري، چې په دې کې د ښځو د لیلیو او تشنابونو، د لمانځه او د ډوډۍ خوړلو د خونو جوړول شامل دي. د داسې امکاناتو تاسیسول په هیواد کې د کلتوري حساسیتونو کچه په ډاګه کوي، چیرې چې حجاب د زیاتو کورنیو له خوا یو خنډ په ګوته شوي دی. دغه چاره همدارنګه د ښځو لپاره یو د امن ځای برابر کوي. د لوړو زده کړو د پروژې یوه کارمند وویل، دوی په دې باور دي چې حکومت باید د ښځو لپاره د لیلیو او شکالرشیپونو شمیر زیات کړي، او دغه لومړیتوب باید هغو وګړو ته ځانګړی شي، څوک چې زیات واټن سفر کوي، چې له دغې لارې به له هغوي سره مرسته وکړای شي، څو نورو ولایتونو ته ولاړ شي.

موږ همدارنګه د لاندنیو کارونو وړاندیز کوو:

- په کابل او ولایتونو کې د ښځینه محصلینو لپاره د سکالرشیپونو ځانګړي کول.
- د غوره تعلیمي نصاب رامنځ ته کول.
- په ټولو پوهنتونونو او همدارنګه د لوړو زده کړو او پوهنې په وزارتونو کې د جندر د څانګې رامنځ ته کول او له هغوي سره مرسته کول (لکه څرنګه چې هغوي دغه څانګه لري، خو د حکومت بشپړ ملاتړ ته اړتیا لري.)
- په ټولو کچو کې د جنسیت د برابري او د جنسیت د شاملولو پالیسي تطبیق کول.

## د عمومي ښوونې په سیستم کې بدلونونه

که څه هم دا کار د څیړنې له ډګر څخه بهر وو، خو د لومړنیو او منځنیو ښوونو د سیستمونو د کمزوري کیفیت په اړه زیاتره داسې تبصیرې ترسره کېدې، چې د کانکور د ازموینې لپاره له لیسو څخه د کم شمیر فارغو زده کوونکو لامل کیږي. زیات شمیر زده کوونکي، په ځانګړې ډول نجونو نه شو کولای چې د لومړنیو او منځنیو ښوونځیو څخه فارغې شي.

د ښوونې وزارت د لومړنیو او منځنیو دورو ښوونو ته د لاس رسي او د هغوي د کیفیت په بهتر کولو باندې کار کوي، خو د دغه کار د ترسره کولو لپاره اوږده لار په مخ کې پرته ده څو یوه ډله ښځینه در خواست ورکوونکي چمتو کړي چې د لوړو زده کړو تحصیلي امکاناتو ته ور مخکې کړای شي. موږ د دې وړاندیز کوو، چې دغه ډول هڅې باید دوام وموميي او همدارنګه دغې پرمختیا ته تمویلي هڅې ژمنې پاتې شي، څو دغه کمزوري ښوونیز سیستم اصلاح او سم کړای شي.

### همغږي

لوړو زده کړو ته د ښځو د لاس رسي هڅې باید د مختلفو شریکبانو ترمنځ سره همغږي کړای شي، د ښوونې، لوړو زده کړو او د ښځو د چارو د وزارتونو او د پرمختیایي پروژو د تمویل کوونکو او تطبیق کوونکو په ګډون. هر یو باید یو له بل سره ټولې بریاوې او نابریاوې شریکې کړي، څو وکولای شي یو د بل له تجربو څخه ګټه پورته کړي. د یونسکو استازو د مرکو پر مهال پر دغې نکتې زیات ټینګار کاوه، هغوي په دې باور وه، که چیرې تمویل کوونکي او وزارتونه یو له بل سره

همغږي وکړي، دا به د دې چارې په سمون کې زیاته مرسته وکړي.

د پوهنتونونو او همدارنګه د لوړو زده کړو د وزارت او پوهنتونونو ترمنځ زیاته همغږي او اړیکو ته اړتیا لیدل کیږي. دا به د دې په یقیني کولو کې مرسته وکړي، چې پوهنتونونه له وزارت سره د جنسیت اهدافو ته په رسیدلو کې کومک کوي، دا همدارنګه په دې مانا ده، چې پوهنتونونه له وزارت څخه د وخت سره سم معلومات ترلاسه کوي، د بیلګې په توګه، د پوهنتون استادانو ته به بسیا وخت برابر کړي، چې د سکالرشیپونو لپاره خپل غوښتنلیکونه وړاندې کړي.

له پوهنتون څخه د ښځینه محصلینو د فارغینو د شمیر زیاتوالی، په اړین ډول د لومړنیو، منځنیو او لوړو زده کړو په کچو کې د ښځو د ښوونیزو امکاناتو د پراختیا اوږد مهاله ژمنتوب ته اړتیا لري. د ښوونې وزارت ژمن دي چې په ټیټو کچو کې د ښوونې کیفیت بهتره کړي، کوم چې د هغو زده کوونکو په شمیر مثبته اغیزه لري، څوک چې پوهنتون ته د داخلیدو ازموینې ته چمتو دي. دغه ډول چارې په اوږد مهال کې ستر توپیرونه رامنځ ته کوي، او د لنډ مهاله اغیز لرونکو پروژو په پرتله د لومړیتوب حق لري.

افغانی ښځو او سړیو څیړنیزې ډلې ته دا څرگنده کړه، چې هغو اشخاصو ته ډیر درناوي او پاملرنه کیږي، چا چې لوړې زده کړې ترسره کړې دی، دغه کار په ډاگه کوي چې د لوړو زده کړو لپاره زیاته تقاضا شته که چیرې دغه لیوالتیا ته د بیانولو چانس ورکړای شي او ددې اړتیا نشته چې دغه غوښتنې د نورو له خوا د کلتوري محدودیتونو په تپلو سره هیرې کړای شي. هر څومره چې زیاتې ښځې زیاتې زده کړې و کړي، هغومره په راتلونکی کې د ښځو لپاره نوی فرصتونه رامنځته کیږي، زموږ څیړنې ښیي، چې لوستې ښځې او نارینه وایي، چې دوی به خپلو ماشومانو ته تعلیم ورکړي، ځکه چې دوي غواړي ماشومان یې له هغو امکاناتو څخه برخه من شي، چې دوي درلودل.

ځینو هغو وگړو چې موږ ورسره په مختلفو وزارتونو او تمویل کوونکو/تطبیق کوونکو ادارو کې خبرې ترسره کړې، د لوړو زده کړو د هغو شخصي پوهنتونونو او انستیتوتونو په چټک ډول د زیاتیدونکی شمیر په اړه یې اندیښنه څرگنده کړه، چې په کابل او د هیواد په یو شمیر نورو ښارونو کې د پرمختګ په حال کې دي. په نوموړو پوهنتونونو کې د زده کړو د کیفیت په اړه د هغوي اندیښنې پر ځای وي او د پام وړ هڅې باید ترسره شي، څو د زده کړو د دغه ډول کیفیت په اړه ډاډ حاصل شي، په شوني ډول د تحصیلي تصدیق د پروگرام په اړه. که څه هم موږ په دې باور یو چې د لوړو زده کړو په امکاناتو کې دغه وده یوه مثبته نښه ده، لکه څرنگه چې دا په هیواد کې د لوړو زده کړو غوښتنه او تقاضا په ډاگه کوي، او د هغو وگړو لپاره امکانات زیاتوي، چې غواړي دغه خوب یې په رښتیا بدل شي. موږ په دې عقیده یو، چې هر افغان د دې مستحق دي، چې په خپل هیواد کې د ننه کیفیت لرونکو لوړو زده کړو ته لاس رسي ولري.

تر ټولو ستر هدف او زیات تمرکز باید په محصلینو او هغه څه باندې وشي، چې د دوي لپاره گټور وي. دا باید په پام کې ونیول شي، چې هر تطبیق شوي پروگرام باید له نږدې څخه وڅارل شي، لکه څرنگه چې مختلف چاپیریالونه مختلفې پایلې ور کوي. په بدخشان کې کیدای شي دا یو ستر خنډ وي، خو په بلخ کې کیدای شي هغه یوه عادي ستونزه وی، او همدارنگه په معکوس ډول.

سره له دې چې تر ۲۰۰۹- ۲۰۱۱ کال پورې په افغانستان کې ښځې د پوهنتون د محصلانو د ۱۹.۹ سلنې استازېتوب کوي، موږ په دې باور یو چې په دغو شمیرو کې ښه والی رامنځ ته کیدالی شي. د پوهنتون او کانکور په ازموینه کې د گډون لپاره د نجونو د زیاتیدونکو شمیرو اوسنې تمایل، د هغه ادراک بې‌لگه ده، چې لوړې زده کړې د اشخاصو سره د غوره ژوند په ترسره کولو کې مثبت او پریکنده رول لوبوي، لکه څرنگه چې دغه ټکې د زیات شمیر مینډو او پلرونو له خوا څرگند شوي دی، او داسې باور کیده، چې زده کړې د یوه غښتلي او لا پرمختللي افغانستان په جوړولو کې مرسته کوي.

په داسې حال کې چې زیات شمیر هغه خنډونه چې ښځې د لوړو زده کړو له تر لاسه کولو څخه منع کوي پیچلې او ځینې وختونه هم څو اړخیزه وي. اوږد مهاله پلانونه او پروگرامونه کولای شي دغه خنډونه له منځه یوسي او د افغانی میرمنو لپاره ټولنیزه ساحه، لوجستیکي ملاتړ او هڅوونکي پروگرامونه برابر کړي، څو د هغوي لپاره لوړو زده کړو ته لاس رسي

رامنځ ته کړي.

په هيواد کې د ښځو د تعليم د ملاتړ زياتيدونکي څپې موجودې دي، کوم چې بايد د تعليم د ټولو شريکبانو له خوا، له لومړنيو زده کړو نيولې تر لوړو زده کړو پورې په بشپړ ډول حمايه شي.

Abdulbaqi, Misbah (2009). Higher Education in Afghanistan. In: *Policy Perspectives* 6(2 ):(July-December 2009).

(په افغانستان کی لوړی زده کړی. کتنی په پالیسی جوړونه کی)

Afghanistan, Islamic Republic of (2007). National Action Plan for the Women of Afghanistan (NAPWA) 2007-2017. Kabul: Islamic Republic of Afghanistan.

(د افغانستان د ښځو د پاره ملی کاری پلان)

Ahmed-Ghosh, Dr. Huma (2003). A History of Women in Afghanistan: Lessons Learnt for the Future Or Yesterday and Tomorrow: Women in Afghanistan. In: *Journal of International Women's Studies* 4(3):1-14.

(د ښځو تاریخ په افغانستان کی: اخسته شوی درسونه د راتلونکی د پاره یا پرون او سبا: ښځی په افغانستان کی. مجله: د ښځو نړیوالی مطالعی)

Arnold, Anthony (1994). The Ephemeral Elite. In: Myron Weiner and Ali Banuazizi (eds.). *The Politics of Social Transformation in Afghansitan, Iran, and Pakistan*. New York: Syracuse University Press**:** 35-71.

(ناپایداره نخبگان. میرون وینر او علی بانوعزیزی. د اجتماعی تحول سیاست په افغانستان، ایران او پاکستان کی)

Ayubi, Najla (2010). Women's Biggest Problems in Afghanistan, January 27, 2011. The Asia Foundation.

(د ښځو ډیری غټی ستونزی په افغانستان کی)

Brodsky, Anne E. (2011). Centuries of Threat, Centuries of Resistance: The Lessons of Afghan Women's Resilience. In: Jennifer Heath and Ashraf Zahedi (eds.). *Land of the Unconquerable*. Berkeley: University of California Press.

(د گواښ پیړی، د مقاومت پیړی: د مقاومت درسونه او د افغانو ښځو پایداری. ماته نه خوړونکی مځکه)

Burki, Shireen Khan (2011). The Politics of Zan from Amanullah to Karzai: Lessons for Improving Afghan Women's Status. In: Jennifer Heath and Ashraf Zahedi (eds.). *Land of the Unconquerable*. Berkeley: University of California Press.

(د ښځی سیاست د امان الله خان د حکومتداری د دوری څخه تر کرزی پوری: د افغان ښځو د وضعیت د ښه والی د پاره درسونه. ماته نه خوړونکی مځکه)

Centlivres-Demont, Micheline (1994). Afghan Women in Peace, War, and Exile. In: Myron Weiner and Ali Banuazizi (eds.). *The Politics of Social Transformation in Afghansitan, Iran, and Pakistan*. New York: Syracuse University Press**:** 333-365.

(افغانی ښځی په سوله، جنگ او مهاجرت کی. د اجتماعی تحول سیاست په افغانستان، ایران او پاکستان کی)

Centlivres-Dermont, Micheline (1994). Afghan Women in Peace, War, and Exile. In: Myron Weiner and Ali Banuuazizi (eds.). *The Politics of Social Transformation in Afghanistan,*

*Iran, and Pakistan*. Syracuse: Syracuse University Press.

(افغانی ښځی په سوله، جنګ او مهاجرت کی. د اجتماعی تحول سیاست په افغانستان، ایران او پاکستان کی)

Central Intelligence Agency (2011). CIAFactbook: Afghanistan. Accessed June 20, 2011 from http://www.theodora.com/wfbcurrent/afghanistan/afghanistan_economy.html.

(د استخبارات مرکزی اداره)

Gregorian, Vartan (1969). *The Emergence of Modern Afghanistan: Politics of Reform and Modernization, 1880-1946*. Standford, California: Standford University Press.

(د معاصرافغانستان ظهور: د اصلاحاتو او مدرنیزه کولو سیاست)

IRIN (2002). Afghanistan Women Heading Back to Higher Education, February 2002. Accessed June 29, 2011 from http://www.irinnews.org/printreport.aspx?reportid=17902.

(د افغانستان د ښځو ستنیده و لوړو زده کړو ته)

IRIN (2005). Afghanistan: Child Marriage Still Widespread, July 13, 2005. Accessed July 5, 2011 from http://www.irinnews.org/report.aspx?reportid=28727.

(افغانستان: د ماشومانو ودونه اوس هم په پراخ ډول شتون لری)

Islamic Republic of Afghanistan Central Statistics Office (2010). Afghanistan Statistical Yearbook 2009-10. Kabul: CSO Printing Press.

(د احصائیی مرکزی اداره، د افغانستان اسلامی جمهوریت. د افغانستان احصائیوی کلنی 2009-10 )

Islamic Republic of Afghanistan Ministry of Higher Education (2009). National Higher Education Strategic Plan: 2010-2014. Accessed June 27, 2011 from http://www.mohe.gov.af/?lang=en&p=plan.

(د لوړو زده کړو وزارت، د افغانستان اسلامی جمهوریت. د لوړو زده کړو ملی ستراتیژیک پلان، 2010-2014)

Jackson, Ashley (2011). High Stakes: Girls' Education in Afghanistan. Joint Briefing Paper, 24 February, 2011. Kabul: ACSF, ADA, APDA, AWN, AWSE, AAWU, CARE, CCA, CoAR, CHA, ECW, LCSAWC, Oxfam, SDO, Shuhada, and SCA.

(د نجونو تحصیلات په افغانستان کی)

Jana, Dr. Yasmina (2011). Education of Women in Afghanistan. Accessed July 2, 2011 from http://www.ariaye.com/english/yasminjena.html.

(د ښځو تحصیلات په افغانستان کی)

Nemtsova, Anna (2010). Women and Higher Education Make Steady Progress in Afghanistan, March 28, 2010. The Chronicle. from http://chronicle.com/article/WomenHigher-Education/64858/.

(د ښځو او لوړو زده کړو د ملاحظی وړ پر مختګ په افغانستان کی - مارچ 28- 2010)

Rubin, Barnett R. (1994). Redistribution and the State in Afghanistan: The Red Revolution Turns Green. In: Myron Weiner and Ali Banuazizi (eds.). *The Politics of Social Transformation*

*in Afghansitan, Iran, and Pakistan*. New York: Syracuse University Press**:** 187-227.

(دوباره توزیع او حکومت په افغانستان کی: سورانقلاب زرغون کیږی. د اجتماعی تحول سیاست په افغانستان، ایران او پاکستان کی)

UPI (2011). Indiana U. to Set Up Program in Kabul, July 13, 2011. Accessed July 14, 2011 from http://www.upi.com/Top_News/US/2011/07/13/Indiana-U-to-set-up-program-in-Kabul/UPI-61481310604723/.

(دهندوستان پوهنتون په کابل کی برنامه ریزی کوی، کابل- جولای 2011)

USAID (2005). Rebuilding Afghanistan: Weekly Activity. February 25 – March 4. Accessed June 22, 2011 from http://www.usaid.gov/locations/asia/countries/afghanistan/weeklyreports/030405_report.html.

(د افغانستان بیا جوړونه: اوونیز فعالیتونه، جون 2011)